# امام اعظمؒ

اسرارالرحمٰن (اسرار د طورو)

## حقونه خوندي دي

د کتاب نوم: امام اعظمؒ
ليکونکے: اسرار الرحمٰن (اسرار د طورو)
شمېر: 1100
اول چاپ: 29مئی1965ء
دوېم چاپ: مارچ، 2021ء
بيعه: 300روپۍ
کمپوزنګ: سليم ناشاد 0346-9327068
پروف ريډنګ: م ر شفق
اهتمام: ډاکټر سيد راشد علي
د چاپ ځاے: سنګر پبلي کېشنز15/B فسټ فلور حاجي ګل پلازه شوګرملز بائي پاس روډ، مردان
وېب پاڼه: www.writersclubpk.com
د موندو درکونه:
انورخان بک شاپ پښتو اکادمي پېښور پوهنتون
اکبر کتاب کور يونيورستي ټاون پېښور
فرېنډز بک سنټر پي ار سي مارکيټ مردان
شاه سعود، ګلي نمبر ١، باغ کالوني، چاټوچوک (هوتي مردان)

# خوروونکي

بخارا ثاني علمي ادبي مرکز، طورو، مردان

# تړون

(د هُد هُد سلېماني په نوم)

په دنيا کښې د شلمې پېړۍ د ټولو نه لوے محدث حضرت شاه انور شاهؒ کاشميري ابن شيخ معظم شاهؒ ابن شاه عبدالکبيرؒ ابن شاه عبدالخالقؒ متوفي ۱۳۵۲هـ (نورالله قمرقدهُ) وو د چا په درس کښې چې به په سوونو طالبان د لرې برې شاملېدل۔

د هغوي په حلقه کښې د طورو يو زلمي د ناستې شرف حاصل کړے وۀ، دا ذهين طالب علم د قرآن حافظ وۀ او عجيبه خبره دا ده چې د اووۀ کالو په عمر کښې ئې ټول قرآن حفظ کړے وۀ۔ مولانا بدر عالمؒ ميرټهي او مولانا غلام غوث هزاروي د دوي همدرس وو۔ کله چې به د سبق په دوران کښې شاه صاحبؒ ته د قرآن د ايت ضرورت شۀ نو هغوي به دې زلمي حافظ ته سترګې راواړولې او لا د خلې نه به ئې خبره وتې نۀ وه چې دۀ به ورته ايت نه بلکې ايتونه تلاوت کړل۔ د دوي نوم مولانا لطف الرحمٰنؒ وۀ چې بيا ترې يو لوے متقي عالم دين جوړ شۀ۔

حضرت شاه صاحبؒ دوي ته په يو موقع د قرآن شريف د يو هېر شوي ايت د يادګېرنې په وخت د هُد هُد سلېماني خطاب ورکړے وۀ۔ زۀ دا خپل تاليف د هُدهُد سلېماني په نوم پورې تړم۔

*گر قبول افتد زہے عزّ و شرف*

# ټولنه سرخطونه


| شمېره | سرخط | مخ |
|---|---|---|
| 1 | سریزه | 9 |
| 2 | بسم الله | 13 |
| 3 | غوره دین | 14 |
| 4 | اخري نبي | 14 |
| 5 | د مسلمانۍ سند | 15 |
| 6 | کفر او معصیت | 15 |
| 7 | عملي تعلیم | 15 |
| 8 | د احکامو تقسیم | 16 |
| 9 | فقیهان | 16 |
| 10 | اختلافات | 20 |
| 11 | نیت او مراد | 22 |
| 12 | فتوٰی | 22 |
| 13 | طوفان | 22 |
| 14 | حقیقت ثابته | 24 |
| 15 | شمع او رڼا | 24 |
| 16 | مقدس امانت | 25 |

| | | |
|---|---|---|
| 17 | کره کوټه | 25 |
| 18 | اجتهاد | 27 |
| 19 | حضرت امام ابو حنیفهؒ | 27 |
| 20 | زوکړی | 28 |
| 21 | نعمان ابن ثابت او د حضرت عليؓ دعا | 29 |
| 22 | پښتون | 30 |
| 23 | زدکړه | 32 |
| 24 | د عبدالملک نه تر سلیمانه | 32 |
| 25 | د علم شوق | 33 |
| 26 | فقهه وئیل | 34 |
| 27 | کوفه | 35 |
| 28 | بصرې ته | 36 |
| 29 | استاذان | 37 |
| 30 | ذهانت | 37 |
| 31 | د علم تنده | 38 |
| 32 | د حرمینو سفر | 38 |
| 33 | عقیده | 39 |
| 34 | د علم دنیا | 40 |
| 35 | مدیني ته | 41 |
| 36 | امام باقرؒ | 41 |
| 37 | تابعي | 42 |

| | | |
|---|---|---|
| 38 | درس و تدریس | 44 |
| 39 | د حضرت حمادؒ وفات | 44 |
| 40 | د امام صاحبؒ خوب | 45 |
| 41 | د حضرت امام مالکؒ په درس کښې | 46 |
| 42 | د حج په موقع | 48 |
| 43 | ملکي اثر | 49 |
| 44 | د خزانې کونجي | 54 |
| 45 | بخري او شعلې | 56 |
| 46 | احسان فراموش | 58 |
| 47 | نفس زکیه | 59 |
| 48 | د امام صاحبؒ موقف | 60 |
| 49 | قاضي القضاء | 62 |
| 50 | جیل خانه | 62 |
| 51 | د سترګو ازغے | 63 |
| 52 | د زهرو جام | 66 |
| 53 | جنازه | 67 |
| 54 | خاپونه | 69 |
| 55 | علمي خدمت | 70 |
| 56 | فقهه حنفي | 71 |
| 57 | فقهه | 72 |
| 58 | امام اعظمؒ | 74 |

| | | |
|---|---|---|
| 59 | د فقهه حنفي مقبوليت | 76 |
| 60 | ژوندے قانون | 77 |
| 61 | علمِ حديث | 78 |
| 62 | پاکه لمن | 80 |
| 63 | د مور خدمت | 81 |
| 64 | حوصله | 81 |
| 65 | خوشبوي | 82 |
| 66 | ګورنر | 82 |
| 67 | فېصله | 83 |
| 68 | حرام، حلال | 84 |
| 69 | وصيت | 85 |
| 70 | لګبنت | 86 |
| 71 | سخي امامؒ | 86 |
| 72 | حاطم طائيؒ | 87 |
| 73 | احسانات | 88 |
| 74 | صبر | 89 |
| 75 | زلموټے | 90 |
| 76 | کنځل | 90 |
| 77 | زنديق | 91 |
| 78 | بل کنځل مار | 91 |
| 79 | شګفته ګلونه | 92 |

| | | |
|---|---|---|
| 80 | فاروقي لته | 93 |
| 81 | عقابي نظر | 93 |
| 82 | بې کينې خلق | 94 |
| 83 | سپين باز | 96 |
| 84 | جواب که ځپېږه | 98 |
| 85 | توره ډال | 99 |
| 86 | عشق | 100 |
| 87 | د ګاونډي خيال | 102 |
| 88 | بل ګورنر | 103 |
| 89 | زهد او تقوٰی | 104 |
| 90 | خدائي نعره | 105 |
| 91 | ملغلرې | 107 |
| 92 | آئينه | 109 |
| 93 | د زړۀ اواز | 110 |
| 94 | تبصره (م - ر- شفق) | 112 |

# سریزه

زۀ دا خبره د ځیګر په وینو لیکم چې زما محترم استاذ او خوږمن وروړ حافظ محمد ادریس صاحب رحمت الله علیه (۲۳جنوري ۱۹۱۰ء ــ ۲۰مئي۱۹۶۵ء) د پي ائي اې په هغه سپېره الوتکه کښې د علم و ادب په تکل کښې قاهرې ته روان وۀ کومه الوتکه چې په ۲۰مئی ۱۹۶۵ء کښې د نامعلومه وجوهاتو په بنا وسوزېده- او په دې منحوسه حادثه کښې د پاکستان نامتو غړي د اوږ ناترسه لمبو داسې ستې پتې کړل چې د هغوي پېژندګلو هم یوه ګرانه مسئله شوه-

په دې مسافرو کښې د منصب او شهرت په لحاظ لوے لوے خلق موجود وو- خو د علم او پوهې په لحاظ حافظ صاحبؒ مرحوم د قافلې میر کاروان وۀ- هغۀ خپل ټول ژوند د علم و ادب د ملغلرو په تکل کښې تېر کړے وۀ- په کوم عمر کښې چې پښتانۀ ماشومان په خاورو کښې لوغړېږي، په دغه عمر کښې حافظ صاحبؒ مرحوم ټول قرآن سره د صرف و نحو د ابتدائي کتابونو په یادو یاد کړي وو- او بیا ئې د علم اکتساب ته لکه د نرانو بډې راښکې- په هر ډګر ئې خپلې نخښې نخښانې پرېښودې- په هر

مېدان کښې ئې غورځنګونه وکړل- بلها کندې ئې هوارې کړې او خپله جولۍ ئې د علم و ادب د ملغلرو نه برجقه کړه-

په فقه، اصول فقه، علم کلام، منطق، فلسفه، ادب، تاريخ، علم حديث او تفسير کښې ئې ښۀ مهارت حاصل کړۀ- د دې نه پس ئې جديد تعليم ته مخه راواړوله، مولوي عالم، مولوي فاضل، منشي فاضل او اديب فاضل، بي اې او بيا ايم اې په عربۍ او فارسۍ دواړو ژبو کښې دا ټول امتحانونه ئې په امتيازي شان سره پاس کړل- د پنجاب يونيورسټۍ ورته د سرو زرو تمغه په انعام کښې ورکړه-

فصاحت او بلاغت ورته لکه چې په وراثت کښې پاتې شوي وو- چې تقرير به ئې کولو نو هر چا به پکښې مزه اخسته- ټوقه ټقاله به ئې په داسې سپېځلې طريقه کوله چې تقرير به ئې لکه د سکنجبين لذيذ او مزېدار شۀ- شوخي او ظرافت ئې د تحرير په هره کرښه کښې ښکارېدۀ- ژوندے سړے وۀ او په هر چا کښې به ئې ژوند راپېدا کولو- د هر چا خوږمن او خېرخواه، په قوم او وطن بې کچه مئين، سوچه او کوټلے مسلمان، سپين او ډاګيز بنيادم وۀ- رو ريا او درغلتيا پکښې د کونجکې هومره نۀ وه-

کۀ ايله به د چا سره خوږ شۀ نو لکه د رحمت د فرښتې به ئې حافظ صاحبؒ مرحوم سرته ناست وۀ- کۀ چابه مطالبه وکړه نو

دارو به ئې هم د خپله کوره بې قیمته ورکړل په دې وجه په خپلو خپلوانو، عزیزانو ا دوستانو ډېر ګران وۀ-

څو کاله اګاهو د پېښور پوهنتون د شعبه عربي د صدارت عهده هغوي ته وسپارله- دغلته دوي د قرآني ژبې خدمت ته ښۀ په جوش و خروش ملا وتړله- د پښتونخوا په واړه مکتبونو وګرځېدۀ- د عربۍ ژبې استاذانو او شاګردانو سره ئې خبرې اترې وکړې- هغوي ته ئې مشورې ورکړې او په دې چل ئې اودۀ خلق د خوبه رابېدار کړل- د یونیورسټۍ مشرانو د هغوي کوششونو ته د غور په نظر کتل او هغوي دا فېصله وکړه چې حافظ صاحبؒ مرحوم دې مصر ته لاړ شي- د جامعه ازهر سترو عالمانو سره دې خبرې اترې وکړي او د عربۍ ژبې د ښودنې او اشاعت په حقله دې نوي نوي او تازه تازه معلومات راوړي چې د پاکستان مسلمانان بچي او زلمي ترې فائده پورته کړي-

خو خداے پاک ته بل څۀ منظوره وه- زمونږ په خیال هغۀ ته چې کوم عظیم کار ملک او قوم سپارلے وۀ د هغې اغاز به لا اوس کېدۀ او د خداے په نزد حافظ صاحبؒ مرحوم خپل کارونه سرته رسولي وو-

خداے پاک د زور خاوند دے بنده لاچاره او بې وسه دے- هغه څۀ ئې وکړل چې څۀ ورته منظوره وه- حافظ صاحبؒ لاړ او زمونږ په زړۀ د هغۀ د جدایۍ یو داسې داغ پاتې شۀ چې چرې به جوړ نۀ شي- اِنّا لِلّٰهِ وَاِنّا اِلَیهِ راجِعُونَ ط-

زما دا خیال وۀ چې په دې کتابچه به هم هغوي سریزه لیکي او دا به زما ثومره خوش بختي وه خو افسوس چې زما دا ارمان ونۀ رژیدۀ۔

اے بسا آرزو کہ خاک شدہ

په دې وجه ما دا پاڼې د هغوي په ذکر ښائسته کړې

گاہے گاہے باز خواں ایں قصہ پارینہ را

اسرارالرحمٰن (اسرار د طورو)

بِسم اللّٰہ الرحمٰن الرحیم

عَن مُعَاویۃَ رَضِیَ اللہ عَنہُ قَالَ سَمعتُ رَسُول اللہ صَلّی اللّٰہ عَلَیہِ وَسَلّم یَقُولُ مَن یُرِدِ اللّٰہُ بِہ خَیراً یُفقّھہُ فِی الدِّین الخ
(رواہ البخاري)[1]

[1]: و روی البخاری عن ابن شہاب قال قال حمید بن عبدالرحمن سمعت معاویتہ خطیباً یقول سمعت النبی صلے اللہ علیہ وسلم یقول ''مَن یُرِدِ اللّٰہُ بِہ خَیراً یُفَقّھِہُ فِی الدِّین وانما انا قاسم واللہ یعطی و لن تزال ھذاہ الامۃ قائمتہ علی امراللہ لایضرھم من خالفھم حتی یاتی امراللہ'' ( الانوارالساطعۃ علی مذاھب الاربعۃ مطبوعہ مصر ۱۳۱۳ھ ص۲۷۲، ۲۷۳)

## غوره دین:

اسلام د دنیا غوره او کامل دین دے- اسلام یوه داسې جامع اصطلاح ده چې د دې اطلاق د انساني ژوند او معاشرت په هر اړخ او هره حصه کېدے شي- د اسلام په اتمام او کمال خدائي مهر لګېدلے دے[1]- د دې کامل دین نه وروستو دنیا ته د بل دین ضرورت نۀ پېښېږي- هم دغه وجه ده چې خدائے پاک ته په ټولو ادیانو کښې اسلام ډېر عزیز دے[2]- او خپلو بندګانو له ئې اسلام دین غوره کړے دے[3]- اوس کۀ څوک د اسلام نه علاوه د بل دین تابعداري کوي نو هغه د پښتنو خبره چې "هندو ستړے او خدائے ناراض" د هغوي خوارۍ د الله تعالیٰ په دربار کښې قبولې نۀ دي[4]-

## اخري نبيﷺ:

هرکله چې د دین تکمیل وشۀ نو د بل پېغمبرﷺ د راتلو حاجت پاتې نۀ شۀ- یعني د نبوت او رسالت په دروازه داسې

---

[1]: الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتی (المائدہ ایت ۳)

[2]: ان الدین عنداللہ اسلام (پارہ۳ ال عمران رکوع۱)

[3]: ورضیت لکم الاسلام دینا (المائدہ ایت ۳)

[4]: ومن یتنغ غیر الاسلام دینا فلن یقبل منہ (ال عمران رکوع۱۶)

فولادي جرندې ولګېدې چې د هغې د ببرته کولو هڅه هو څۀ امکان نشته[1]-

## د مسلمانۍ سند:

د اسلام په ابتدائي دور کښې به نبي علېه السلام خلقو ته دا دعوت ورکوۀ چې د خدا ے تعالیٰ په وحدانيت او محمد علېه السلام په رسالت ايمان راوړئ، چې د اسلام په دارالسلام کښې داخل شئ- هر چا چې به کلمه طيبه ولوسته نو هغه به مسلمان ګڼلے شۀ-

## کفر او معصيت:

ورپسې بيا د احکامو تبليغ او اشاعت وشۀ- د ايمان او عمل دور دوران شۀ څۀ چې به عقيده وه هغه به عمل وۀ- ګناهونه، کوتاهۍ او غلطۍ به کېدې- د اسلام سياسي نظام سره سره عدليه هم قائمه شوه- د جرمونو د پاره سزاګانې وټاکلې شوې خو ګناهګار ته به چا کافر نۀ وې او معصيت به کفر نۀ شۀ ګڼلے-

## عملي تعليم:

د نبي علېه السلام تبليغ عملي وۀ- هغوي به خدائي احکام اول په ځان لاګو کړل او بيا به اصحابِ کرامو رضی اللہ عنہم د هغوي تقليد

[1]: مَاكَانَ مُحَمّد اَبَآء الخ (الاخزاب۴۰)

کوۀ- حضرت شاه ولي الله صاحب فرمائي چې "نبي علیه السلام به اودس کوۀ اصحابو ﷺ به هغوي ته کتل- نبي علیه السلام به دا تشریح نۀ کوله چې دا واجب دے او دا مستحب دے- اصحابو به هوبهو د هغوي نقل کوۀ-" ګویا د احکامو تقسیم نۀ وۀ-

## د احکامو تقسیم:

د نبي علیه السلام نه وروستو د احکامو د تشریح ضرورت پېښ شۀ- اصحابو ﷺ استنباط، تفریع او قیاس وغیره په رو د فرائضو، واجباتو، سنتو او مستحباتو حدونه وټاکل "دلته د قانون جوړولو په معامله کښې د کتاب او سنت سره اجماع او قیاس هم د دلائل شرعیه حېثیت بیاموند[1]-"

## فقیهان:

حضرت مولانا محمد اسماعیلؒ طوروي[2] په خپل قلمي بیاض کښې لیکي چې:

---

[1]: فلسفه شریعت اسلام ص۱۸ از ډاکټر صبحي محمد صیاني

[2]: مولانا سید محمد اسماعیل ګیلاني د حضرت مولانا حافظ سیدمحمد حفیظ الله صاحب د طورو زوے وۀ په دارالعلوم محسنه چاټګام کښې مدرس وۀ- بیا په ۱۳۰۹ هـ کښې په معدن العلوم سهارنپور کښې صدر مدرس وۀ- د حاجي الیاس په بلنه

"اجتهاد که عبارت است از بذل وسع و صرف طاقت در استنباط احکام شرعیه، امرلسیت که سرور کائنات علیه الوف من التحات آترا پسندیده، بخاری روایت کرده قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اجتهد واصاب فله اجرانِ ومَنِ جتهد و اخطاء فله اجر واحد[1]"

په بخاري شريف كښې په كتاب الاعتصام بالقرآن والسنته كښې د عمر و بن العاص رضي الله عنه نه روايت دے چې:

"انه سمع رسول صلے الله علیه وسلم یقول اذا حکم الحاکم فاجتهد ثم اصاب فله اجران و اذا حکم فاجتهد ثم اخطاء فله اجر ـــ الخ[2]"

د فقهې او اجتهاد په مېدان كښې چې كومو حضراتو د ټولو نه وړومبے قدم اېښے وۀ هغه حضرت عمرؓ، حضرت عليؓ، حضرت ابوبكرؓ، حضرت معاذ بن جبلؓ، حضرت

---

ماریشس ته لاړ تدریس او تبلیغ ئې کولو۔ چې په کلي کښې به وۀ نو طالبان به ورله راتلل په ۱۹۴۸ء کښې وفات شو۔

[1]: دا عبارت حضرت مولانا صاحب د حضرت عبدالحئی د فتاوٰی ج ۳ ص ٦ مطبوعه لکهنو ۱۳۳۱ھ نه اخذ کړے دے۔

[2]: صحيح البخاري مطبوعه دهلي ۲۰ رمضان ۱۳۵۷ھ مطابق ۱۳نومبر ۱۹۳۸ء، په خلاصه شرح العقائد اردو کښې په صفحه ۲۱٦ دي: "اور مجتہد اس کا مکلف نہیں کہ ضرور ٹھیک حکم معلوم کرے کیونکہ یہ غامض اور مخفی ہے اسی وجہ سے مخطی معذور ہے بلکہ ماجور ہے"۔

عبدالله بن عباسؓ، حضرت عبدالله بن عمرؓ، حضرت عبدلله بن مسعودؓ وو- دا واړه صحابانؓ د نبي علیه السلام په تعلیماتو رنګ وو- حضرت عليؓ د زلمو په صف کښې د ټولو نه وړومبے مسلمان وۀ- د نبي علیه السلام د ترۀ زوے وۀ او د هغوي د سپورے د لاندې ئې پالنه او تربیت شوے وۀ- نبي علیه السلام حضرت عليؓ ته د "باب العلم" لقب ورکړے وۀ- حضرت عمر فاروقؓ به وئیل چې داسې وخت دې خدائے رانۀ ولي چې مونږ ته یوه ګرانه مسئله راپېښه شي او حضرت عليؓ په مونږ کښې موجود نۀ وي[1]- حضرت عبد الله ابن عباسؓ چې پخپله یو لوے عالم وۀ، به وئیل چې په یوه مسئله کښې د حضرت علي رضي الله عنه فتویٰ راشي نو بیا د بل څۀ حاجت نۀ وي[2]- د حضرت عائشې صدیقېؓ نه روایت دے چې د حضرت عليؓ نه زیات څوک د سنتِ نبوي عالم نۀ وۀ[3]- د حضرت عمر فاروقؓ علمي شان دا وۀ چې حضور صلي الله علیه وسلم به فرمائیل کۀ زما نه پس نبي وے نو هغه به عمرؓ وۀ[4]- ترمذي د حضرت عائشېؓ نه روایت کړے دے چې نبي علیه السلام وئیل چې د

---

[1]: مسند امام اعظم ابوحنیفه مترجم اردو ص ۱۳ از مولانا سعد حسن صاحب

[2]: ایضاً

[3]: بیان الامرا ترجمه تاریخ الخلفاء، از سیوطي ص: ۱۸۷

[4]: بیان الامرا، ص: ۱۲۳

انسانانو او جناتو شیطانان د حضرت عمرؓ نه تښتي[1]- عبدالله ابن مسعودؓ د فقهې او احادیثو ډېر لوے عالم وۀ، نبي علیه السلام سره به ئې دومره ناسته کوله چې خلقو به پرې د اهل بېتو ګمان کوۀ- نبي علیه السلام به وئیل کۀ څوک قرآن زده کوي نو د عبدالله بن مسعودؓ نه دې زده کړي[2]-

حضرت عمرؓ چې د کوفې ښار اباد کړۀ نو حضرت عبدالله ابن مسعودؓ ئې د اسلامي تعلیماتو د تبلیغ اشاعت او ښودنې د پاره هلته ولېږۀ- د هغوي په برکت کوفه د علم کور شۀ- د عبدالله ابن مسعودؓ په شاګردانو کښې علقمه او اسود ډېر شهرت لري- د علقمه د علم دا حال وۀ چې پخپله اصحابانوؓ به د هغوي نه د مسئلو تپوسونه کول-

د عبدالله بن عمرؓ او د عبدالله بن عباسؓ علم پوهه او تقوٰی یوه منلې شوې خبره ده- مېمون بن مهران وائي چې ما د عبدالله بن عمرؓ نه زیات متقي او د عبدالله بن عباسؓ نه لوے عالم څوک نۀ دے لیدلے[3]- د مېمون بن مهران قول محض حسن ظن نۀ دے بلکې د یو ښکاره حقیقت اعتراف دے- عبدالله بن عباسؓ هغه نېک بخته سړے دے چاته چې نبي علیه

---

[1]: بیان الامرا، ص:۱۲۳

[2]: مقاله ډاکټر محمد حمیدالله بحواله الاستعیاب لا بن عبدالبر، ص:۱۵۳۶ (چراغ راه جون ۱۹۸۵ء، ص:۳۸۶)

[3]: تجوید البخاري مترجم، باب ع، ص:۲۷

السلام دعا کړې وه چې خدايه دهٔ ته د قرآن علم ورکړے- عن ابن عباس قال ضمني رسول الله صلي الله عليه وسلم و قال اللهم علمه الكتٰب[1] (رواه البخاري)- دغسې يوه ورځ حضرت ابن عباسؓ د نبي علېه السلام څهٔ خدمت وکړهٔ نو هغوي ورته دعا وکړه چې "اللهم فقهه في الدين" حضرت ابن عباسؓ د حضرت عمر فاروقؓ په دور خلافت کښې بنهٔ ځوان زلمے وهٔ او په فقه کښې ئې بنهٔ کمال حاصل کړهٔ[2]- معاذ بن جبلؓ د جنګ بدر غازي دے، د بدر نه وروستو په ټولو غزاګانو کښې شامل شوے دے نبي علېه السلام پخپل ژوند کښې د يمن قاضي او معلم ټاکلے وهٔ[3]-

## اختلافات:

تر کومې چې نبي علېه السلام ژوندے وهٔ نو د اختلافاتو د راپېدو ګنجائش نهٔ وهٔ- هر کله چې به څهٔ کشاله ورپېښه شوه نو د نبي علېه السلام پاکو ملګرو به د هغوي رايې معلومه کړه او د هغوي په فيصله به ئې د زړهٔ د اخلاصه ايمان وهٔ- هر کله چې محمد

---

[1]: ابن عباس وائي چې زهٔ رسول الله صلي الله عليه وسلم ځان پورې جوخت کړم او وې فرمائيل "خدايه د ته دهٔ قرآن علم ورکړے"

[2]: اردو انسائيکلو پيډيا ص: ۱۰۵۲

[3]: تجويد البخاری مترجم، ص: ۴۴

علیه السلام د دنیا نه تشریف یوړۀ- د نبوت شمع د سترګو نه فنا شوه نو په بعضو جزئیاتو او فروعاتو کښې د پاکو اصحابانوؓ اختلاف پیدا شۀ- مثلاً د عبدالله ابن عمرؓ نه دا حدیث مروي دے چې "ان المیّت یعذب بالبکاء اهله" حضرت عائشېؓ چې دا واورېدل نو هغې وفرمائیل چې خدائے دې ابن عمرؓ ته بخښنه وکړي، د نبي علیه السلام په خبره هغه پوهه شوے نۀ دے- دغسې د نبي علیه السلام نه حضرت ابوهریرهؓ یو حدیث روایت کړۀ "توضّؤامما غیرت النار" یعني د اور په وجه چې په څۀ شي کښې تغیر راشي نو د هغې په استعمال اودس ماتېږي- په دې وجه پخه شوې غوښه چې وخوړې شي نو بیا اودس کول لازم شي- حضرت عبدالله بن عباسؓ ورسره مخالفت وکړۀ چې بیا خو د تودو اوبو په استعمال هم پکار دي چې اودس مات شي-

د حضرت عبدالله ابن عباسؓ او د نورو ډېرو صحابه کرامو عقیده وه چې د معراج په موقع نبي علیه السلام خدائے پاک په سترګو لیدلے دے- حضرت عائشهؓ د دې خیال نه په ترڅ وه او امیر معاویه خو هډو د معراج جسماني نه منکر وۀ[1]- دغسې به وخت په وخت دا اختلافات راپېدا کېدل خو دا اختلافات:

[1]: سیرت نعمان، از شبلی نعمانی (مطبوعه مطبع مجتبائی دهلی، ۱۸۹۳ء)

## نیت او مراد:

به په نېک نیتي محمول وو- مسلمانانو به چرې په یو بل د کفر فتوې نۀ لګولې- نۀ به ئې یو بل ته د فسق و فجور نسبتونه کول- د هغوي زړونه پاک، دماغونه صفا، روحونه تازه او سینې ارتې بیرتې وې، مسلسل عمل او بې دریغه جدوجهد هغوي کښې د بې باکۍ او صبر و استقلال ماده پېدا کړې وه- او د نبي علېه السلام تعلیماتو هغوي د رواداري په لار اموخته کړي وو- د هغوي مراد د اسلام خدمت وۀ او نیتونه ئې صفا وو-

## فتوٰی:

یوه ورځ د حضرت عبدالله ابن عمرؓ نه چا پوښتنه وکړه چې بعضې خلق د قرآن غلط تاویلونه کوي- مونږ هغوي کافران بلو او کۀ نا- حضرت عبداللهؓ ورته وفرمائیل چې یو مسلمان تر هغه وخته پورې نۀ شي کافر کېدے تر کومې چې هغۀ خدایان دوه نۀ وي ګڼلي[1]-

## طوفان:

وخت چې تېرېدۀ نو اختلافاتو کښې اضافه کېده- د ځلورو غاړو نه د مخالفت ګُورې وریځې راخورې شوې- وړو وړو

---

[1]: سیرۃ نعمان، ص:۱۳۱، بحواله اثار امام محمد، ص:۶۵

مسئلو د پوهانو په مېنځ کښې د بغض او کینې نفرت انګېز دېوالونه ودرول په کومو اعتقادي او فقهي مسائلو کښې چې نص قاطع موجود نۀ وۀ یا نصوص یو تربله متعارض وو نو پوهانو به د وخت ضرورتونه د اجتهاد او استنباط په ذریعه پوره کول- په دې وجه رنګ په رنګ خیالونه راڅرګند شو، قسم قسم تاویلونه جوړ شو، عجیبه عجیبه نکتې راووتې، بیلې بیلې رایې قائمې شوې او بیا هر خیال، هر تاویل، هرې نکتې او هرې رایې په خپله خپله حلقه کښې اثر او نفوذ شروع کړۀ- یو د یو خیال سره اتفاق وکړۀ نو بل د بل خبره ومنله او په دې چل د ډلو او فرقو یو طوفان راولړزېدۀ- په دې زمانه کښې د اهل سنت او شیعه په مېنځ کښې اختلاف پېدا شۀ- یوې ډلې د نبي علیه السلام نه پس د حضرت ابوبکرؓ، بیا د حضرت عمرؓ او د هغوي نه وروستو د حضرت عثمانؓ خلافت صحیح ګڼۀ- بلې حضرت عليؓ د دې درې وارو صاحبانو نه زیات حقدار ګڼۀ- په دې وجه د دوي په مېنځ کښې چې کوم اختلاف دے، دا د سیاسي نوعیت[1] دے- وریسې دې سیاسي ډله بازو د اصحابو، تابعینو، تبع تابعینو او مسلمانانو په اجتماعي ژوند یو نۀ ورانېدونکے داغ پرېښودۀ-

[1]: فلسفه شریعت اسلام، ص:۱۹

## حقیقت ثابته:

زمونږ د نبي علیه السلام پاکیزه ژوند د قرآني احکامو عملي تفسیر وۀ- په دې وجه علمائے امت په دې خبره متفق دي چې د اسلام اتباع د قرآن او د سنت د اتباع دوېم نوم دے- مونږ دا حقیقت په سر سترګو منو چې قرآن یو حقیقت ثابته دے- د قرآن په الفاظو یا معنیو کښې د تغیر و تبدیل زیار د نمر نه رڼا او شعلې پټول دي- ځکه چې د قرآن پاک د حفاظت او ساتنې ذمه واري پخپله لوے خدائے په خپل سر اخستې ده[1]-

*چراغے را کہ ایزد بر فرو زد*
*کسے گر تف زند ریشش بسوزد*

## شمع او رڼا:

د قرآن په معنو او مفهوم هغه نېکان[2] او پاکان مسلمانان ډېر ښۀ پوهېدل چاته چې د نبي علیه السلام قرب حاصل وۀ[3] او بیا په تېره تېره نبي علیه السلام پخپله د قرآن په روح د هر چا نه ښۀ پوهېدۀ، د هغوي هر عمل او هر قول د قرآن مطابق وۀ- په دې

---

[1]: انانحن نزلناالذکر وانالہ لحافظون (پارہ ۱۴ ایت)

[2]: خیر اُمتی قرنی الذین انافیھم ثم الذین یلونھم ثم الذین یلونھم (الحدیث صحیحین)

[3]: اصحابی کالنجوم بایھم اقتدیتم اھتدیھم (الحدیث)

وجه د خدای تعالیٰ اطاعت سره سره د رسول علیه السلام اطاعت هم فرض شهٔ[1]- په نورو الفاظو کښې د نبي علیه السلام مطابق عین د خدای تعالیٰ اطاعت وګڼلے شهٔ[2]- بنا په دې مونږ د قرآن څنې سنت نبوي بیلولے نهٔ شو- قرآن کهٔ روح او تن دے نو احادیث ئې کالي او زیور دے- ګل او خوشبوئي، شمع او رڼا، ښکلا او دلبري څوک د یو بل نه جدا کولے نهٔ شي-

## مقدس امانت:

د سنت نبوي دا اهمیت وخت د سره مسلمانانو محسوس کړے وهٔ او مختلفو اصحابانوؓ د حضور علیه السلام مقدس اقوال ډیر په دیانت دارئ د زړهٔ په تختئ لیکلي او د ذهن په کسوړو کښې محفوظ ساتلي وو- دا د علم و عرفان بیش بها ملغلرې د اصحاب کرامو نه د هغوي علمي وارثانو یعني تابعینو ته لکه د یو مقدس امانت په وراثت کښې پاتې شوے-

## کره کوته:

د بده مرغه بعضې بدنیتو ناپوهه او د اسلام بدخواهانو په دې کره پاسه کښې د کوټ بنګار ګډولو جرات وکړهٔ- د سترګو

---

[1]: وما ارسلنا من رسول الا لیطاع باذن الله (النساء ٦٤)

[2]: او من یطیع الرسول فقد اطاع الله (النساء ٨٠)

خاوندان خو په دې غلا پوهېدل ولې ډېر ناپوهان داسې هم وو چې د دين په نوم به منافقانو د اسلام د باغ نه د کفر و عصيان شاړو مېرو ته رسولي وو- په دې وجه د محدثينو او مجتهدينو يو ټولے راپېدا شۀ- دا هغه باعمله عالمان او پاکبازه مفکران وو د چا په سر کښې چې د اسلام مينه وه- او د چا په زړۀ کښې چې دې تلوسو غزونې کولې چې د اسلام شمع دې تل ترتله روښانه وي- هغوي د دين بقا د قومونو د بقا سبب ګڼۀ- هغوي ډېر په شدت سره دا محسوسوله چې د انسانيت قافله به د مجد و شرافت اخري منزلونو ته هله رسي چې دنيا د اسلامي اصولو په رڼا کښې مخ په وړاندې تګ شروع کړي- دې پاکانو عالمانو د نبي عليه السلام مبارک احاديث سره د حوالو راجمع کړل او د روايت په اصولو ئې وتښګول چې کره کوټه ئې معلوم کړي- سوچه ملغلرې ترې رابېلې کړي او کوټ بنګار د نسيان د سکروټو نذر کړي- دوي ته چې کوم احاديث ضعيف ښکاره شو يا چې د کومو احاديثو راويان غېر ثقه او مشتبه[1] وو، هغه ئې خارج کړل- د دې علمي خدمت د پاره هغوي بلها بلها تکليونه تېر کړل، لوے لوے سفرونه ئې وکړل- او رنګ په رنګ ازمېښتونه ئې وزغمل او په دې چل ئې زمونږ اصلي دين امانت سلامت تر مونږه راروسولو-

---

[1]: اردو انسائیکلوپیڈیا، ص:۶۳۱

## اجتهاد:

تهذیب او تمدن چې ارتقائي منزلونه سر کوي نو نوې نوې مسئلې سر راپورته کړي- د بنیادمو ضرورتونه چې په ډېرېدو شي نو رنګ په رنګ کشالې راپېښېږي په دې وجه د اجتهاد او استنباط ضرورت ډېر په عمومیت او شدت محسوس شۀ- قدم خو اصحابوﷺ اخستے وۀ، لار صفا وه البته د صحیح فکر، یقیني معلوماتو او سوچه ذهن مرسته پکار وه- د علم و عرفان د ډیوې په رڼا او د احتیاط د امسا په تکیه چې چا په دې لار تګ شروع کړۀ نو ډېرې کندې کپرې ئې هوارې کړې- په اسلامي دنیا کښې د تقوٰی دارو او پاکانو عالمانو کمے نۀ وۀ، لوے لوے ښارونه د علمونو مرکزونه وو چې مفسرینو، محدثینو او فقیهانو پکښې مستقل سکونت اختیار کړے وۀ-

## حضرت امام ابوحنیفهؒ:

حضرت امام صاحبؒ د اسلام په هغه نامتو خدمت ګارانو کښې دے چاچې د علم حدیث په تکل کښې د شلګونو استاذانو د کوڅو شکې چاڼ کړې- د نبي علیه السلام د خورو ورو احادیثو نه ئې معتبر او صحیح احادیث راچوڼ کړل او بیا ئې د قرآن او حدیث په رڼا کښې د قیاس او رائې نه کار واخست او د مسائلو اجتهاد او استنباط ئې وکړۀ-

نن په دې ویره دنیا کښې د نبي علیه السلام د دین پتنګان[1] خواوشا پنځوس کروړه[2] دي- په دوي کښې کم و زیات ځلور دېرش کروړه خلق د حضرت امام اعظمؒ د مذهب او مکتب خیال پېروکار دي چې حنفیان ورته وئیلي شي- د پاکستان د مسلمانانو یو عظیم اکثریت حنفي مذهب سره تړون لري-

## زوطیٰ:[3]

د اسلام رڼا په چپو چپو خورېده د فارس په سر زمین د پارسي مذهب چرچې وې- زوطي نومې یو سړے وۀ چې په مذهب پارسي وۀ- د پارسیانو مذهبي کتاب "ژند" نومېږي- دوي د مختلفو وړو وړو خدایانو عقیدت مند وو- پارسیان د نیکۍ خدا ے ته "یزدان" او د بدۍ خدا ے ته "اهرمن" وائي- دا هم هغه خلق د ے چا ته چې مسلمانانو د مجوسیانو خطاب ورکړے د ے-

زوطي په ژور نظر د اسلام مطالعه کوله- د هغوي په زړۀ دې نوي انقلابي دین داسې اثر وکړۀ چې اسلام ئې قبول کړۀ او

---

[1]: چراغ راه ص:۲۹ (مسلمانو کے فقهی مکاتب خیال) بحواله فلسفه شریعت اسلامی از صبحی محمصانی و انسائیکلوپیډیا آف اسلام لیډن ۱۹۵۱ء

[2]: دا شمار اوس اربونو ته رسي (۲۰۲۰ء-۰۷-۲۱)

[3]: زوطے خان د ضابطه خان نه جوړ شوے معلومېږي- پښتانۀ نومونه وران کړي- ضبط کول زوتول-

نعمان[1] نوم ئې ځان له غوره کړۀ- په کال۳۷هـ کښې سره د کلهٔ د اسلامي حکومت په لوري راروان شۀ او د کوفې په طرف ئې کوچ وکړۀ- کوفه په دغه ورځو کښې د حضرت علي کرم الله وجهه دارالخلافه وه- دلته د دين افتاب داسې په اٰب و تاب وۀ چې زوطے هم په کوفه کښې مبشته شۀ او هلته ئې د رختونو کاروبار ته ګوتې واچولې- په کال ۴۰هـ کښې هغۀ کره يو زوے وزېږېدۀ چې نوم ئې ثابت وټاکلے شۀ-

## نعمان ابن اثابت او د حضرت عليؓ دعا:

د پلار[2] د مرګه پس[3] ثابت خپل کاروبار[1] جاري وساتلو- په کال ۸۰هـ کښې د ثابت په کور کښې يو زوے وشو چې نوم ئې

---

[1]: د حضرت امام ابوحنيفه نمسي اسماعيل بن حماد خپله شجره داسې بيان کړې ده: اسماعيل بن حماد بن النعمان بن ثابت بن النعمان بن المرزبان، (ترجمان السنته ص۲۲۰) دا شجره د حضرت امام ابوحنيفه نمسي په تاريخ بُغداد کښې حافظ ابي بکر احمد بن علي الخطيب البغدادي (في الجز الثالث عشر) روايت کړې ده ۳۹۷هـ تا ۴۶۳هـ

[2]: يو روايت په ''حدائق الحنيفه'' ص ۴۳ بحواله ''مفتتاح السعادہ کښې دے چې امام ابوحنيفهؒ يتيم شو نو مور ئې امام جعفر صادق سره وادۀ وکړو او د امام صيبؒ تربيت بيا حضرت جعفر وکړو

[3]: دائرا ةالاوليا ص ۲۹۹ د رسول الله د وفات نه دوه کاله پس د امام صاحب پيدا کېدل ښائي، ارشاد الطالبين

ورله نعمان خوښ کړۀ- دا هغه خوش بخته وړوکے وۀ چې وروسته د نعمان نه ابوحنيفه او بيا ترې امام اعظمؒ جوړ شۀ- ابن حجر مکي وائي:

انّ ثابتاً والده اتى به وهوصغير لعلى كرّم الله وجهه[2] فدعا له بالبركته ولذريته وړوکے ثابت خپل پلار د حضرت عليؓ په خدمت کښې حاضر کړۀ هغوي ورته دعا وکړه چې خدائے پاک دې هغۀ له او د هغۀ اولاد له برکت ورکړي- د حضرت عليؓ دعا د ابوحنيفهؒ په حق کښې الله قبوله کړه-

## پښتون:

خطيب بغدادي د حضرت امام صاحبؒ د نمسو اسماعيل او عمر نه قولونه نقل کړي دي- اسماعيل وائي چې زمونږ نيکۀ المرزبان د فارس نه راغلے وۀ- بل طرف ته دهغۀ ورور عمربن حماد وائي چې د هغوي نيکۀ "ماه" نومېدۀ او د کابل وسېدونکے وۀ[3]-

---

[1]: بعضې خلق دا خيال لري چې ثابت د پخو ډو ډو (بېکرى) تجارت کولو (ترجمان القرآن ماه دسمبر ۱۹۶۵، بحواله (المكي)

[2]: الخيرات الحسان ص ۷ (مطبوعه مصر ۱۳۲۶ھ ، خطيب بغدادي دا قول داسې نقل کوي: و ذهب ثابت الى على بن ابى طالب وهوصغير فدعاله بالبركته فيه و فى ذريته ص۳۲۴، ج: ۱۳

[3]: (ا) خير الحسان، ص:۱۹،

مولانا شبلي نعمانيؒ په سيرت نعمان[1] کښې ليکي چې مرزبان په فارس کښې سردار ته وئيلے شي- او "ماه" د پارسي ژبې د توري "مه" عربي شکل دے- دا لفظ هم د مشر او رئيس په معنو استعمالېږي[2]-

بنا په دې مونږ دا وئيلے شو چې مرزبان او ماه د يو سړي دوه نومونه دي چې د کابل نه فارس او بيا د هغۀ زوے زوطے عربو ته په کډه لاړ- هرکله چې مونږ دا ومنو چې د زوطي پلار کابلے وۀ نو په دې خبره يقين کول هم اسان شي چې امام صاحب د قوميت په لحاظ پښتون وۀ- مولانا محمد امين خوګيانړے وائي چې د امام اعظم نيکۀ د ولايت کابل په استرغچ کښې زيږيدلے وۀ- دا ولايت د پروان ولايت سره مربوط دے- مولانا جميل احمدؒ په اشرف الهدٰيه کښې په صفحه ۳ د هغۀ نيکۀ (مرزبان) ته کابلے وائي-

---

(ب) دې نه علاوه په سعودي عرب کښې چې د شافهد مدظله د طرف نه د شيخ الهند حضرت شبير احمد عثماني د تفسير پښتو ترجمه شائع شوې ده د هغې په جلد۱ پاره سيقول ص ۱۳۰ سطر ۸ حضرت امام ته په جلي حرفونو ''ابو حنيفه الکابلی ثم الکوفی'' ليکلي دي (اسرار)

[1]: سيرة نعمان، ص:۱۷

[2]: بعضې روايتونه ليکي چې زوطے په يو جنګ کښې قيد شو او کوفې ته لاړ هلته ئې اسلام قبول کړو او بني تيم الله ولا يعني (Patronage) کښې پاتې شو-

## زدکړه:

امام صاحب په کچه عمر کښې خپل کور کښې سبق وئیلو چې د شپاړسو کالو[1] شۀ نو والد صاحب ئې ومړ- ولې دې هوښیار زلمي کاروبار له دومره ترقي ورکړه چې په لږه موده کښې ئې د کوفې په ښار کښې د ریښمو د کپړو یوه لویه کارخانه ودروله- په دغه کارخانه کښې به په سوونو مزدورانو کار کولو- په لرې لرې ښارونو کښې به د امام صاحب ایجنټانو د دې کارخانې رختونه خرڅول-

## د عبدالملک نه تر سلېمانه:

امام صاحبؒ د عبدالملک بن مروان په دور کښې زېږېدلے وۀ او د خپلې هلکوانۍ په زمانه کښې ئې د ولید بن عبدالملک خلافت او د حجاج ابن یوسف د ظلم زور ګورنري لیدلې وه- د خدا ے پاک کارونه وو چې په کال ۹۵هـ کښې حجاج او ورپسې په کال ۹۶هـ کښې ولید وار په وار بلې دنیا ته کوچیان شو- اوس پرې د سلیمان بن عبدالملک وار راغے- سلیمان چې د حکومت واګې قابو کړې نو د ټولو نه اګاهو ئې د حجاج بن یوسف ټاکلي عاملان معزول کړل- د اسلام نامور جرنېلان او توریالي فرزندان لکه

---

[1]: محمدتقي عثماني په یوه سفر نامه کښې لیکي چې ابو حنیفه لا وړوکے وۀ چې ثابت مړ شو (جهان دین ص۴۱)

قتیبه بن مسلم، طارق بن زیاد، موسیٰ بن نصیر او زلمے جرنېل محمد بن قاسم د هغهٔ د تربګنۍ د غشو نخښنه شو او دا نومورړي فاتحان ئې د ډېرو کشالو او ذلتونو سره مخامخ کړل- د هغوي د پاکې وینې داغ هم د سلېمان بن عبدالملک په لمن پورې دے-

بل طرف ته د سلېمان په زمانه کښې علم و ادب ډېره ترقي وکړه- سلېمان په ۹۹هـ کښې وفات شهٔ خو د مرګه اګاهو ئې خپل خلیفه عمر بن عبدالعزیز مقرر کړۀ- د سلېمان د ژوند د ټولو نه لویه کارنامه چې د هغهٔ د ګناهونو کفاره ګرځېدې شي، د دې نېک، متقي او دیانتدار پسمانده ټاکل دي-

## د علم شوق:

د عمر بن عبدالعزیز په زمانه کښې د مذهبي علومو داسې چرچه شوه چې د امام صاحب اودې جذبې ئې راوپارولې- اتفاقاً یوه ورځ ابوحنیفه په لار کښې یو ستر عالم قاضي علامه شعبي[1] سره ملاقي شهٔ- په خبرو خبرو کښې ورته هغهٔ د علم و ادب د حاصلولو ترغیب ورکړۀ- د امام شعبي وېنا د امام صاحب د شوق په دریاب کښې تلاطم راپیدا کړۀ- کور ته راغے او د مور نه ئې تپوس وکړۀ، هغه هم د علم ارزومنده وه، د زوي خیال سره ئې اتفاق وکړۀ او ډېره خوشحاله شوه-

---

[1]: حضرت عامر بن شراحیل شعبي (مناقب الامام الاعظم للمکي ص۵۹)

## فقهه وئيل:

د علم کلام نه خو امام صاحب شروع کړې وه ولې د فقهې د زدکړې ضرورت ځان ته متوجه کړۀ- په کوفه کښې د فقهې يو لوے استاذ جناب حمادؒ صاحب نوميدۀ چې يو شتۀ من عالم وۀ- هغۀ په خپل ځاے کښې يوه لويه مدرسه جوړه کړې وه چې د لرې لرې نه ورله د علم تږي راتلل او په دې چينه به ئې تنده ماتوله- حضرت حمادؒ د مشهور عالم ابراهيمؒ نخعي شاګرد وۀ- حضرت نخعي چې په کال ۹۵هـ کښې وفات شۀ نو ابو عمران ووې چې "نن تاسو د ټولو نه لوے فقيهه ښخ کړۀ[1]"- امام ابوحنيفهؒ د حماد صاحب مخکښې کتاب وغوړولو او په لږه موده کښې ئې د خپل علمي ذوق او اعلی ذهن[2] په برکت د علم په فراخ ميدان کښې ډير اوږد زغل وکړۀ- امام صاحب د دې نو وارد شاه زلمي تګ و تاز ته د غور په سترګه کتل او په خپل درس کښې به ئې اکثر په وړاندې[3] صف کښې ځايوۀ- د امام صاحبؒ شوق ورځ په ورځ زياتيدۀ اوس هغه په دې راز پوهه شوے وۀ چې د "فقهي مسائلو

---

[1]: ترجمان السنته ص ۲۲۲

[2]: حماد بن ابی سلیمان کے حلقه درس میں ان کے سوا کوئی اور استاد کے سامنے نه بیٹھتا دس برس ان کی صحبت میں رہے (امام ابو حنیفه کے ناقدین از نواب حبیب الرحمن شروانی ص ۳۵ بحواله خطیب بغدادی)

[3]: سیرۃ النعمان بحواله عقود الجهان باب ٦

مجتهدانه تحقیق" بې د احادیثو د علم نه شي کېدے نۀ شي- په فقهه کښې خو د هغۀ تنده خپل استاذ ماتولې شوه خو د احادیثو د زدکړې شوق ئې دلته نۀ مړ کېدۀ- په دې وجه امامؒ صاحب د کوفې محدثینو ته متوجه شۀ- په دغه ورځو کښې د علم حدیث ډېر رواج وۀ- د حضور علیه السلام په زرګونو اصحابان د اسلامي حکومت په چاپېره ښارونو کښې خوارۀ شوي وو او د اسلامي علومو په لارو کښې ئې خپل خاپونه پرېښي وو- خلق به ډېر په شوق او ذوق اصحابانو له راتلل او د نبي علیه السلام د ژوند او دیني مسئلو په حقله به ئې تپوسونه کول- مکه، مدینه، یمن، بصره او کوفه خو په دې لحاظ د علم مرکزونه وو-

## کوفه:

د کوفې ښار حضرت عمرؓ په کال ۱۷ هـ کښې اباد کړے وۀ- دا ښار د بابل د کنډراتو په خوا کښې د الحیره نومے قدیمي دارالسلطنت په ګاونډ کښې پروت وو[1]- د خدا ے پاک کارونه وو دا ښار په لږه موده کښې دومره اباد شۀ چې بیا به ورته حضرت عمر فاروقؓ "کنزالایمان" او "جمجمته العرب" وې- د حضرت ابن مسعودؓ او حضرت عليؓ دواړو علمونه په

[1]: اردو انسائیکلو پیډیا ص ۷۹۶

کوفه کښې جمع شوي وو[1]- امام بخاري وائي چې زۀ شمېرلې نۀ شم چې څو ځله د حديث د جمع کولو د پاره کوفې ته لاړم[2]- امام صاحب ابوحنيفهؒ د کوفې هر محدث له لاړ او فيض ئې ترې حاصل کړۀ- په دغه ورځو کښې د احاديثو خزانه خوره وره پرته وه او لويو لويو محدثينو ته به هم د ځلورو پينځو سوو نه سوا احاديث ياد نۀ وو- د امام صاحب په استاذانو کښې يو امام شعبيؒ هم وۀ- دا صاحب هم تابعي وۀ او هم لوے عالم- د امام زهري په خيال د بِلادِ اسلاميه په ځلورو نومړو عالمانو کښې يو د کوفې امام شعبيؒ هم وۀ- امام صاحبؒ د دوي په ترغيب د علم ژور سمندر ته رادانګلي وو-

## بصرې ته:

د کوفې نه امام صاحبؒ د علم تندې بصرې ته ورسولو- هلته ئې د قتاده او شعبه صاحبانو نه سبق ووې- سفيان ثوريؒ به وئيل چې شعبه د علم حديث اميرالمومنين دے-

---

[1]: چراغ راه اسلامی قانون نمبر ماه جون ١٩٥٨، ص٣٨٧، مقاله از ڈاکٹر محمد حميدالله

[2]: ترجمان السنته

# استاذان:

حضرت امام شافعيؒ چې د کروړونو مسلمانانو مقتدا او د فقهې لوے عالم دے، وائي چې "کۀ شعبهؒ په عراق کښې نۀ وے نو هلته به د حديثو رواج نۀ وۀ"

حضرت قتاده د نبي عليه السلام د خادم حضرت انسؓ شاګرد وۀ- دغه رنګې سماکؒ بن حرب چې يو لوے محدث او تابعي وۀ، هم د امام صاحبؒ په استاذانوکښې وۀ- محارب بن دثار د خپلې تقوىٰ د پاره ياد وۀ- هشامؒ بن عروه د حضرت امام مالکؒ استاذ- سليمانؒ بن مهران اعمش د سفيان ثوريؒ استاذ- او عطاءؒ بن رباح يو نوموړے محدث او دغسې نورې لويې لويې هستۍ د امام صاحبؒ مربيان او معلمان وو- د حضرت قتادهؒ متعلق امام حنبلؒ وائي چې د فقهې او تفسير په معامله کښې کۀ څوک د قتادهؒ جوګه وي نو وي به ولې د دۀ نه اوچت هېڅوک نشته[1]-

# ذهانت:

د حضرت امام صاحبؒ قابليت او ذهانت په هره حلقه کښې ځان له امتيازي مقام لرۀ- هر استاذ به د هغوي د علمي استعداد او لاثاني ادراک ستائينې کولې- استاذانو به دا زيرک

---

[1]: سیرۃ النعمان از شبلی نعمانی مرحوم

شاګرد د زړۀ په کور کښې ځایولو- بیا په تېره تېره امام شعبهؒ خو د امام صاحبؒ سره بې کچه ډېره مینه لرله- د هغۀ په عدم موجودګۍ کښې به ئې اکثر د هغۀ تعریفونه کول- یوه ورځ ئې ووې لکه څنګه چې زما د نمر په روښنائۍ باور دے نو دغسې زۀ یقین لرم چې علم او ابو حنیفهؒ د یو بل نه بېل نۀ دي-

## د علم تنده:

د علم تنده په ډېر څۀ نۀ ماتېږي- امام صاحبؒ د کوفې او بصرې په لویو لویو پوهنځو کښې د علم فقهه او حدیث نایابه ملغلرې راټولې کړې- د هغۀ جولۍ اوس د ښکلو ښکلو ګلونو نه ډکه وه- خو په علم څوک نۀ مړېږي- دلته سړے د جام نه دریاب او د دریاب نه سمندر ته ګوابښ کوي-

د یو جـام به څۀ نشه وي
زۀ خو ټوله مېخانه څښم (اسرار)

## د حرمېنو سفر:

حضرت امام صاحبؒ د حرمېنو شریفېنو په لور دهمت ملا وتړله- وړومبے امام صاحبؒ مکې معظمې ته لاړۀ- هلته د علم حدیث بلها استاذان موجود وو، چې هر یو په خپل ځاے سل په سل وۀ- د حرم شریف د علم په اسمان د ستوریو غونچکونه

پړقېدل- یو د یو نه روښان، بل د بل نه تابان- په دوي کښې د حضرت عطاؒ ابن ابي رباح مدرسه ډېره یاده وه- او ولې به نۀ وه چې دا صاحب هغه متقي تابعي دے چاچې دوه سوه اصحابان لیدلي کتلي وو- د هغۀ د علم دا حال وۀ چې متبحرین او متخصصین ټول ئې یو دم قائل وو- د حضرت عبدالله بن عمرؓ نه چې به چا د څۀ مسئلې تپوس وکړۀ نو هغوي به وفرمائیل چې د عطاؒ ابن ابي رباح په موجودګۍ کښې خلق زما نه تپوسونه ولې کوي- علامه شبليؒ صاحب په سیرة نعمان کښې د ابن خلکان په حواله لیکي چې د حج په ورځو کښې به د حکومت د جانبه هرکال منادي کېده چې د عطاءؒ نه علاوه هیڅوک د فتوو ورکولو اختیار نۀ لري-

## عقیده:

حضرت امام صاحبؒ نبغ هغۀ له لاړ- حضرت عطاءؒ صاحب ترې نه پوښتنه وکړه نو امام صاحبؒ ورته صفا صفا ووې چې اسلافو ته کنځل نۀ کوم، عاصي[1] کافر نۀ ګڼم او په قضا او قدر ایمان لرم- استاذ ورله په درس کښې د شمولیت اجازت ورکړۀ-

---

[1] :حکم بن هشام الثقفي وائي چې ابوحنیفه څوک تر هغې د رسول الله صلي الله علیه وسلم د قبیلې نه نۀ ویستل ترڅو چې هغه په خپله په هغه دروازه ونۀ وځي چې په کومه راننوتې وي (ناقدین ص۴۷)

دلته هم د امام صاحبؒ ذهانت خپل تنویرات ښکاره کړل- په ټوله حلقه کښې به د استاذ سترګې په دۀ خوږېدې- او اکثر به ئې ځان سره کښېنوۀ- د عطاءؒ صاحب نه علاوه حضرت امامؒ صاحب د یو بل لوے امام حضرت عکرمهؒ نه هم استفاده وکړه- حضرت عکرمهؒ هم ډېر لوړ علمي مقام لرۀ-

## د علم دنیا:

دا یو منلے شوے حقیقت دے چې د علم کائنات لامحدود او لا متناهي دے- دنیا ډېره په وړاندې تلې ده خو د علم سوارۀ چې په شا وګوري نو د خپل سر ابتدائي پړاوونه ترې د ازل په تورو دوړو کښې داسې ورک شوي وي چې هډو په نظر نۀ راځي- او چې مخ په وړاندې وګوري نو ګل لا په ښکته ځي- د دۀ مثال په لق و دق صحرا کښې د هغه تنده غري وي چې په سراب د دریاب ګمان کوي دې چې د لرې نه د رڼا کومه مناره د خپل سفر اخري پړاو ګڼي هغه د لارې لیت وي چې چا باتُور لاروي د رهنمائۍ په غرض خپلو پسمانده ګانو ته بل کړے وي- او د منزل هډو څۀ درک نۀ لګي- کوم ځاے چې دۀ انجام ګڼۀ هغه د اغاز پوړۍ شي- رښتیا دي چې د علم ابتدا د ازل او انتها د ابد په سحر او ماښام کښې ورکه ده-

## مدينې ته:

اوس نو امام صاحبؒ مدينې منورې ته مخه وکړه چې د سترګه ورو ماوٰی او د نور مبدٰی وه د اصحابو نه وروستو په مدينه منوره کښې د اووۀ لويو لويو عالمانو يو ټولے[1] وۀ چې هغوي به د مسائلو تحقيق او فېصلې په شريکه کولې- کله چې امام صاحبؒ مدينې ته ورسېدۀ نو په دوي کښې دوه کسان سلېمان او سالم بن عبدالله ژوندي وو- يو د ام المؤمنين حضرت مېمونهؓ غلام او بل د جناب عمر فاروقؓ نمسے وۀ- امام صاحبؒ د دې دواړو په محفلونو کښې شرکت وکړۀ- او د هغوي نه ئې د احاديثو اکتساب وکړۀ- امام صاحبؒ د سلېمانؒ او سالمؒ دواړو نه احاديث روايت کړي دي-

## امام باقر علېه السلام:

امام صاحبؒ بيا د امام باقر علېه السلام په حضور کښې حاضر شۀ- هغوي ترې نه د نوم تپوس وکړۀ او بيا ئې ورته وفرمائيل، ښه تۀ هغه ابوحنيفهؒ يې چې د خپل قياس په بِنا زما د نيکۀؐ د احاديثو مخالفت کوې- امام صاحبؒ ورته عرض وکړۀ چې

---

[1]: ابوبکر بن حارث۔ ۲: خارجی بن نعید، ۳: قاسم بن محمد بن ابوبکر، ۴: سعد بن مسیب، ۵: عبدالله بن عقبه، ۶: سالم بن عبدالله، ۷: سلیمان بن بیار

د احادیث نبوي مخالفت به ځوک څهٔ رنګ وکړي- بیا ئې ورته عرض وکړهٔ کهٔ ما قیاس له په نص ترجیح ورکولے نو د پلار په وراثت کښې به مې ښځې له ډېره برخه ورکوله ځکه چې ښځه د سړي په مقابله کښې کمزورې وي- دغسې مونځ چې د اهمیت په لحاظ د روژې نه اول نمبر لري ما به حائضې ته د روژې جارباسلو په ځاے د مانځهٔ د قضاجارایستلو ترغیب ورکولو- خو زهٔ داسې نهٔ کوم- ځکه چې د قرآن او حدیث په مقابله کښې قیاس هېڅ مقام نهٔ لري- په دې وضاحت حضرت امام باقر صاحب دومره خوشحاله شهٔ چې امام صاحبؒ ئې په تندي ښکل کړهٔ- د دې نه پس به امام صاحبؒ د امام باقر علیه السلام په حضور کښې حاضري کوله او فیض به ئې ترې نه اخستو- هغوي د امام جعفرصادقؒ او زېد بن عليؒ نه هم استفاده کړې وه-

# تابعي:

امام صاحبؒ په کال ۸۰هـ کښې زېږېدلے وهٔ- په دغه وختونو کښې د نبي علیه السلام پاکو ملګرو کښې یوڅو کسان ژوندي وو- حضرت انسؓ بن مالک په کال ۹۳هـ کښې او ابوالطفیل عامرؓ بن واثله[1] په کال ۱۰۰هـ کښې د جنت په لور د

[1]: اباالطفیل عامرؓ بن واثله سره د ابوحنیفهؒ ملاقات شوے وهٔ (انوارغوثیه، ازمحمدامیرشاه قادري (صفحه ۴۴ حاشیه ۵) لیکي چې دا صحابيؓ په ۱۱۰هـ کښې وفات شهٔ-

سفر کړي ترلې وې- په دغه وختونو کښې امام صاحبؒ زلموټے وۀ- د احاديثو د روايت د پاره د هغۀ عمر جوګه نۀ[1] وۀ- او هم دغه وجه ده چې هغوي د اصحاب کرامؓ نه روايت نۀ دے کړے- خو د تابعي کېدو عزت په روايت نه بلکې په رويت يعني ليدو حاصلېږي- حافظ ذهبيؒ[2] د امام صاحبؒ نه نقل کړے دے چې هغوي انسؓ بن مالک څوڅو ځله ليدلے وۀ- مولوي محمد اسماعيل طوروي په خپل يو قلمي ياداشت کښې ليکي: "و امام ابوحنيفه پس نزد بعض تابعی اند قال فی تجنيس و المزيد صحّ ان اباحنيفه کان من التابعين" په مجموعه فتاویٰ ج۳ ص۷ عبدالحئي کښې دا خبره شته-

شيخ الاسلام ابن حجرؒ وائي : "انه ادرک جماعته من الصحابة کانو ابالکوفة بعد مولوده بها سنته ثمانين فهومن طبقته التابعين" يعني د امام صاحبؒ د پيدا کېدو نه وروستو په کوفه کښې د صحابه يو جماعت موجود وۀ- په دې وجه امام صاحبؒ د تابعينو په قطار کښې راځي[3]-

---

[1]: بله دا چې ممکنه ده هغوي لا علم ته په دغه وخت کښې توجه نۀ وه ورکړې-

[2]: الخيرات الحسان، ص:۲۱

[3]: الخيرات الحسان، ص:۲۱

## درس و تدریس:

امام صاحبؒ د حضرت حمادؒ په ژوند کښې د اجتهاد مرتبه حاصله کړې وه- یو ځلې حماد صاحبؒ د دوو میاشتو د پاره بصرې ته لاړۀ نو حضرت امام صاحبؒ ئې په خپل مسند کښېنولو چې د درس و تدریس سره سره د مفتي فرائض هم پوره کوي- دغه وخت امام صاحبؒ د شلو یویشتو کالو زلمے وۀ- خو په علم فقهه کښې ئې دومره درک لرۀ چې د حماد صاحبؒ شاګردانو د خپل کشر استاذ په موجودګۍ کښې د ستر استاذ کمے محسوس نۀ کړۀ- په دغه ورځو کښې به چې امام صاحبؒ له چا استفتا راوړه نو هغوي به د خپل علم او قیاس په رڼا کښې جوابونه ورکول- دغه سوالونه او جوابونه هغوي ځان سره محفوظ ساتل- چې استاذ ئې راغے نو هغۀ ته ئې ور وړاندې کړل- حماد صاحبؒ په شپېتو کښې شل جوابونه رد کړل باقي بالکل صحیح وو- دې کښې بعضې مسئلې داسې وې چې امام صاحبؒ د خپل استاذ نه چرې هم نۀ وې اورېدلې-

## د حضرت حمادؒ وفات:

په کال ۱۲۰ھ کښې حماد صاحبؒ وفات شۀ- په دغه وختونو کښې امام صاحبؒ بنۀ پوره عالم وۀ- د لویو لویو استاذانو

محدثینو او فقیهانو په مجلسونو کښې ئې ناسته کړې وه- د علومو اهم مرکزونه ئې د علم په تکل کښې لټ په لټ کړي وو- په کوفه کښې د حماد[1] صاحبؒ جوګه بل فقیهه او عالم نۀ وۀ- د هغۀ زوے هم ښۀ عالم فاضل وۀ خو د هغۀ رجحان ادبیاتو پله وۀ- د نوموړي پلار خلا هغۀ نۀ شوه ډکولې- څۀ ورځې خو دغه محفل په موسیٰؒ ابن کثیر ګرم وۀ خو اخر اتفاق په دې وشۀ چې امام ابوحنیفهؒ دې دغه ذمه واري قبوله کړي-

## د امام صاحبؒ خوب:

وائي چې په دغو ورځو کښې امام صاحبؒ خوب ولیدۀ چې لګیا دے د حضور علیه السلام قبر کني- دې خوب هغه وبوږنولو چې ګني د هغۀ ناقابلیت ته اشاره ده- له دې کبله هغۀ امامؒ بن سیرین نه د خوب د تعبیر په حقله پوښتنه وکړه- ابن سیرینؒ د خوبونو په تعبیرونو کښې ډېر درک لرلو او په عامو خاصو کښې یاد سړے وۀ- هغوي ورته وفرمائیل چې دا خوب ډېر بختور دے- تۀ به یو مړ علم راژوندے کوے- امام صاحبؒ اوس په اطمینان او

---

[1]:حضرت حماد د حضرت ابراهیم نخفي او هغه د عمر بن الخطاب، علي بن ابي طالب، عبدالله بن مسعود او عبدالله بن عباس نه علم حاصل کړے وۀ- دا خبره د محمد بن فضیل عابد بلخي په روایت امام ابوحنیفه صاحب خپله منصور ته کړې وه (امام ابوحنیفه کے ناقدین ص ۳۰۰)

استقلال درس و تدریس شورو کړۀ- ورسره ورسره ئې فقهې تدوین ته هم ګوتې واچولې- په لږه موده کښې ئې د علم غږ په اما کما خور شۀ- ډلې ډلې طالبان ئې حلقې ته راغونډ شول- عن چې د امام صاحبؒ بعضې استاذان به د زدکړې په غرض د هغوي په درس کښې شاملېدل- د لرې لرې ښارونو نه به خلق راتلل او د علم و فن د ګلونو ډالۍ به ئې د ځان سره وړې- د امام صاحبؒ د فېضان ورېمې د اسلامي حکومت ټولو سرحدونو ته ورسېدې-

## د حضرت امام مالکؒ په درس کښې:

حضرت نافع د حضرت عبدالله بن عمر یو ازاد کړے غلام وۀ، چې پوره دېرش کاله ئې د هغوي په ملګرتیا کښې تېر کړل او د قرآن او حدیث علم ئې ترې زده کړۀ- محدثین په "اصحّ الاسانید" کښې بحث کوي خو مشهوره دا ده چې په ټولو کښې صحیح سند هغه دے چې مالک د نافع نه او نافع د ابن عمر نه نقل کړے وي-(ترجمان السنته ۲۴۷)

هرکله چې حضرت ابن عمرؒ وفات شۀ نو جناب نافعؒ صاحب د هغۀ په ځاے کښېناستۀ[1]- په کال ۱۱۷ھ کښې نافعؒ صاحب هم د جنت په لور کډه وتړله- د هغوي نه پس امام مالکؒ صاحب د احادیثو تدریس شورو کړۀ- د دوي درس ګاه د مدینې

[1]: حیات مالک، ص:۴۰، از سید سلیمان ندوي

منورې نه بهر په بقيع نوم ځا ے کښې وه- د امام مالکؒ صاحب حلقه د خپل شان شوکت، وقار او علمي جلال د پاره تر اوسه ياد ېږي- د حضرت امام شافعيؒ بيان د ے هغه وائي چې مونږ به د خپل بياض يا کتاب پاڼې د دې ويرې نه نهٔ اړولې چې شور به پيدا شي[1]- امام ابوحنيفهؒ صاحب چې د حج په موقعه مدينې منورې ته لاړهٔ نو د امام مالکؒ په درس کښې هم شامل شهٔ- وائي چې امام مالکؒ صاحب هغوي سره ډېر امتيازي سلوک وکړهٔ- د احترام د پاره ورته ودرېدهٔ، بيا امام اعظمؒ صاحب ښهٔ په ادب کښېناست[2] او د هغوي نه ئې احاديث واورېدل- دلته دا خبره ياد لرل پکار دي چې امام مالکؒ صاحب د امامؒ صاحب نه په عمر کښې ديارلس کاله وړوکے وهٔ خو په لويو خلقو کښې کبر نهٔ وي- په دې وجه د يو بل په مخکښې لکه د يو باادبه شاګرد ناسته هغوي ته د فخر او عزت خبره ښکاري- مؤرخين دا هم وائي چې امام مالکؒ صاحب د امام اعظمؒ صاحب شاګرد وهٔ ابن حجرؒ مکي وائي:

"وتلمذ له کبار من المشائخ الائمته المجتهدين و العلماء الرّاسخين کالامام الجليل المجمع علی جلالته و براعته و

---

[1]: تذکره محدثين ص: ٦٤، از ظهور حسن

[2]: حيات مالک، ص:٤١، از سيد سليمان ندوي

تقدمه و زهده عبدالله بن مبارک و کالامام اللّیث بن سعد
و کل الامام مالک بن انس رضی الله عنه[1]"

يعني لوے لوے عالمان چې د علم، زهد او جلال د پاره مشهور دي لکه عبدالله بن مبارک، ليثؒ ابن سعد او امام مالکؒ بن أُنسؒ د حضرت امام اعظمؒ شاګردان وو- جناب ظهور حسن په تذکره محدثين کښې ليکي چې امام مالکؒ صاحب د امامؒ ابوحنيفهؒ استاذ وۀ[2]-

معلومېږي داسې چې دواړو امامانو د يو بل نه استفاده کړې ده- امام مالکؒ د امام صاحبؒ د قوت استدلال قائل وۀ-

## د حج په موقع:

ورو ورو د حضرت امام ابوحنيفهؒ صاحب د علم ستورے په اما کما وځليدۀ- اوس چې به هغوي حج له راتلل نو په سوونو خلقو به د هغوي په لار کښې د عقيدت نه سترګې غوړولې او هغوي به د علم و عرفان بېش بها ملغلرې د هر طالب جولۍ ته په روڼ تندي ورغورزولې- د حج په موقعه به د ګرځې اسلامي دنيا نه عالمان او شېخان راغلي وو- امام صاحبؒ به دوي سره ملاقاتونه

---

[1]: الخيرات الحسان ص:٦

[2]: ص٦٥

کول او د جذب او انجذاب عمل به جاري وۀ- په دې طريقه به ئې د علم پنګه ورځ په ورځ زياتېده-

## ملکي اثر:

د سياست واګې د امام صاحبؒ په لاس کښې نۀ وې خو د مسلمانانو د يو عظيم اکثريت د زړونو مهار هغوي په منګل کښې نيولے وۀ- او د ملکي سياست په اوړو پوړو کښې د امام صاحبؒ روح کار کولو- د هغوي د کار طريقه په جذباتو نۀ وه منحصره بلکې د ذهني او فکري تبديلۍ په اساس هغوي د خپلو انقلابي افکارو او سياسي نظرياتو قصرونه ابادول- د اسلامي اصولو په رڼا کښې چې کوم خلافت قايم شوے وۀ او په هغې کښې چې عامو خلقو ته د رائې د اظهار ځومره ډېره ازادي حاصله وه هغه د حضرت معاويه او بيا د هغۀ د خليفه يزيد په زمانه کښې تقريباً ختمه شوې وه- اوس شورائي طرز حکومت ورو ورو د شخصي نظام شکل اختيارولو- د ظلم او استبداد کومه رده چې يزيد ايښې وه په هغې د بې انصافۍ او فرعونيت ماڼۍ ابادېدې- مذهب د سياست نه جدا په يوه محدوده دائره کښې راګېرېدۀ- ملکي مصلحتونه د اسلامي رواياتو په لار کښې د ازغو شپولونه ثابتېدۀ- او ځومره ځومره چې وخت تېرېدۀ حالات

خرابېدل- د هشام بن عبدالملک په زمانه کښې زېدبن[1] علي بغاوت وکړۀ- د تحفې مصنف حضرت شاه عبدالعزيز صاحب وائي چې "حضرت زېد بن عليؒ د بنو اميه په دور کښې بغاوت کړے وۀ- نو په هغې کښې د امام اعظمؒ لاس وۀ[2]- مولاناشبلي نعمانيؒ د حضرت شاه صاحبؒ دې رائې سره اتفاق نۀ لري او وائي چې مونږ دې سره اتفاق نۀ کوو ځکه چې د تاريخ او رجال په کتابونو کښې د دې واقعې هېڅ ذکرنشته" وړاندې ليکي چې د زېد بن عليؒ بغاوت په کال ۱۲۱ھ کښې شوے وۀ- په دغه وخت کښې امن و امان وۀ- رعيت خوشحاله وو- د بيت المال په دروازه ناجائزه دولت نۀ شۀ راننوتې- په داسې حالاتو کښې د امام اعظمؒ په شورش کښې حصه اخستل مضبوط سبب نۀ لري[3]-

واقعه دا ده چې د حضرت امام ابوحنيفهؒ سياسي طرزِ عمل ډېر محتاط او په ظاهره سوړ وۀ- د هغوي تحريک لکه د عودو لوګېدۀ خو لمبې ئې نۀ وهلې- او په دې وجه بعضې خلقو ته داسې ښکارېده لکه چې هغوي هډو په ملکي سياست کښې حصه نۀ اخلي- د هشام دور هرڅو کۀ د امن وۀ خو ځاے په ځاے

[1]: زېدبن علي د امام باقر عليه السلام ورور او د امام حسېن رضي الله عنه نمسے وۀ د خپل وخت لوے عالم او صالح بنيادم وۀ- امام ابوحنيفه ترې زدکړه هم کړې وه- د شيعه ګانو يوه ډله "فرقه زيديه" ځان دوي ته منسوب کوي-

[2]: سيرة نعمان

[3]: سيرة نعمان، ص:۵۷

به د بې اطمينانۍ مظاهرې کېدې- علامه جلال الدين سيوطيؒ د حضرت امام شافعيؒ نه روايت کوي چې رصافه د قنسر په مضافاتو کښې يو کلے وۀ، هشام دغلته يو مکان جوړ کړۀ- بيا ئې دا خواهش ظاهر کړۀ چې زۀ يوه ورځ دلته داسې تېره کړم چې هېڅ غم او فکر مې پرېشانه نۀ کړي- چې هلته لاړۀ نو نيمه ورځ لا نۀ وه تېره چې د يو سرحد نه يو متوحش خبر راغے- هشام چې خبر واورېدۀ نو وې وئيل چې کاش زما يوه د بې فکرۍ ورځ هم نصيب نۀ شوه[1]- کله چې هشام بن عبدالملک د عراق ګورنر خالد بن عبدالله الفسري معزول کړۀ او د هغۀ خلاف ئې تحقيقات کول نو په دې سلسله کښې ئې حضرت زېدؒ بن علي هم کوفې ته راوبللو- د ډېرې مودې نه پس دا وړومبۍ موقعه وه چې د کوفې خلقو په خپل ښار کښې د حضرت عليؓ د خاندان وړومبے سړے ومونډۀ- په دې د هغوي ساړۀ جذبات راوپارېدل او په علوي تحريک کښې يو نوے جوش رابرسېره شۀ- په کوفه کښې پينځلس زره مسلمانانو د حضرت زېدؒ په لاس بيعت وکړۀ- او هغوي له ئې دا يقين ورکړۀ چې يو لکھ خلق د تحريک په شا ولاړ دي- حضرت امام ابوحنيفهؒ د علوي تحريک حمايت وکړۀ او

---

[1]: بيان الامراء، ص:۲۷۱

حضرت زیدؒ له ئې د لسو زرو روپو مالي امداد هم ورکړۀ[1]- امام صاحب به خلقو ته وئیل چې د زیدؒ خروج جوخت داسې دے لکه د حضور علیه السلام د بدر غزا له تلل- یعني د هغوي په خیال د حضرت زیدؒ بن علي خروج د ثواب کار وۀ- په دې وجه هغوي خلقو ته دا تلقین کوۀ چې د زیدؒ ملګرتیا وکړي- خو بل طرف ته هغوي شیعان عليؓ د تاریخ او عملي کردار نه واقف وۀ- د حضرت عليؓ د زمانې نه واخلې تر اوسه پورې د کوفې خلقو چرې په ایمانداری د علوي تحریک مرسته نۀ وه کړې- جوش و خروش بې شکه دوي کښې ډېر وۀ خو چې د بلې غاړې زور به پرې راغے د اقتدار په جبین به ئې غوټې تر سترګو شوې د حکومت په سترغلو به ئې د غضب نخښې ولیدې، نو د دوي پازه به مړه شوه، بهادري به ئې کافور شوه او عین په توده لوبه کښې به ئې توره ډال کېښودل- د حضرت زید د پټ تحریک نه زر تر زره حکومت خبر شۀ نو هغوي د ټاکلي شوي وخت نه اګاهو خروج وکړۀ- د جنګ په وخت کښې صرف ۲۱۸ کسان د زیدؒ بن علي په شا ولاړ وو او حضرت زیدؒ په غشي ولګېدۀ او شهید شۀ- انا لله وانا الیه راجعون (ط)

امام صیبؒ د حضرت زید په خروج کښې عملاً شمولیت ونۀ کړۀ ځکه چې یو خوا دغه تحریک بنۀ مضبوط شوے نۀ وۀ په

---

[1]: امام ابو حنیفه کی سیاسی زندگی ص: ۱۱۴، از مناظر حسن گیلانی بحواله مناقبت موفق، ج:۱، ص:۲۹۰

کچه کښې د هغوي دا اقدام د بېلات سبب وګرځېدۀ- په کوفیانو دومره زر اعتبار کول ګران وو او دریمه خبره دا وه چې د امام صاحبؒ اثر په کال ۱۲۱ھ کښې دې حد ته نۀ وۀ رسېدلے چې کۀ هغه مېدان ته راوتې وے نو دا تحریک به ګنې محکم شوے وۀ- تر کال ۱۲۰ھ د مشرۍ په مسند حضرت حمادؒ صاحب ناست وۀ- د امام صاحبؒ حېثیت د یو شاګرد یا د یو کشر وۀ- د دې نه پس هغوي د مدرسه "اهل الرائې" سرپرستي قبوله کړه او د شهرت نمر ئې په شعلو شۀ- حضرت مولانا مودودي صاحب په دې سلسله کښې د امام صاحبؒ د طرز عمل متعلق په خپل مضمون "خلافت میں ابوحنیفہؒ کا مسلک" کښې وائي "دا خبره صحیح ده د هغۀ د مسلک مطابق ده چې د ائمه جور برخلاف د خروج باره کښې امام صاحبؒ اصولاً بیان کړے دے[1]- د حضرت امام صاحبؒ د سیاسي بصیرت اندازه د دې خبرې نه لګېدې شي چې هغوي د انقلاب د پاره هغه وخت غوره کړے وۀ کوم وخت چې د بنو امیه چراغ په ډوبېدو وۀ او بل طرف ته شیعان عليؓ خوارج او د ابو مسلم خراساني په مشرۍ کښې د فارس خلق د اقتدار ناوې ته لکه د ازمرو غړمبېدل- د انقلاب سر تېزه شعلې د حکومت په محلونو او ماڼو بلوڅېدې- خضري په تاریخ التشریع الاسلامي کښې لیکي چې د بنو امیه نه بني عباس ته د اقتدار د بدلېدو موقعه چې د حضرت

---

[1]: ترجمان القرآن، ج:۶۰، عدد۲، ص:۳۴۹

امام ابوحنیفہؒ وړاندې راغله نو په دې دور کښې کوفه د یو عظیم انقلابي تحریک مرکز وګرځېدۀ[1]-

## د خزانې کونجي:

هشام بن عبدالملک په کال۱۲۵هـ کښې ومړ، د دۀ نه وروستو یزید، ولید، ابراهیم او مروان الحمار وار په وار واکداران شو- د مروان ګورنر یزید[2] بن عمر بن هبیره اما صاحب ته د قضاء او خزانې کونجۍ حواله کولې- د هغۀ مطلب دا وۀ چې د حکومت په بنیادي ستنو کښې د مذهب عنصر شامل شي نو د خلقو په زړونو کښې به د حکومت احترام راپېدا شي- د عوامو په عقیدو لوبې کول د اقتدار د خاوندانو د همېشه د پاره عادت راغلے دے- څوک چې د اقتدار اوږے وي د هغوي د ذهن په کارخانه کښې رنګ په رنګ لومې او قسم قسم دامونه جوړېږي چې هغوي پرې د عوامو د عقیدو رائیو، ذهنونو او زړونو ښکار وکړي خو دا حقیقت دے چې کومه مرغۍ دانې ته اسره نۀ کوي هغه د ښکاري په منګل کښې نۀ شي راتلے- امام صاحبؒ نۀ د اقتدار اوږے وۀ او نۀ ئې مال ته اسره وه- هغه په خپله ښۀ مالدار وۀ او د علم پنګه ورسره د هر چا نه ډېره وه- دا دواړه توکي چې په

---

[1]: ترجمان القرآن، ج:۵۲، عدد۲، ص:۱۵۵، تاریخ القضاء فی الاسلام

[2]: یزید بن عمر د کوفې ګورنر وۀ، (تاریخ بغداد: ج ۱۷، ص:۳۲۶

کوم شخصیت کښې استوګن شي نو د هغهٔ سر بیا د اقتدار په محرابونو کښې د خوشامد ګرۍ سجدې نهٔ لګوي- امام صاحبؒ د عهدې قبلولو نه انکار وکړهٔ- یزید ورته جواب راولیږهٔ چې کهٔ ستاسو خوښه وي او کهٔ نا، تهٔ به جبراً عهده اخلې- امام صاحبؒ په خپل انکار کلک ولاړ وهٔ هغوي وفرمائیل کهٔ یزید راته وائي چې د جومات دروازې وشماره نو هم ورته نهٔ یم تیار لا پاتې دا چې هغه به د یو مسلمان د وژلو فرمان جاري کوي او زهٔ به پرې مهر لګوم[1]- یزید د حکومت په نشه مست وهٔ په هغهٔ د امام صاحبؒ دا رټ جواب ډېر بد ولګېدهٔ او حکم ئې وکړهٔ چې امام صاحبؒ له دې هره ورځ لس کروړې سزا ورکولې شي[2]- سل کروړې ووهلې شوٓ عاقبت چې ابن هبیره ترې لاس وخستل- د دې حکم تعمیل هم وشهٔ امام صاحبؒ د یو جابر ظالم، حاکم سزا ته غاړه کېښوده خو د هغهٔ په مخ کښې ئې سر ټیټ نهٔ کړهٔ-

د لېونتوب علاج منم چې نهٔ شي
تندیه ستا د ماتېدلو وخت شهٔ

اجمل خټک

حضرت امام صاحبؒ یو لوے مجتهد او عظیم مقنن (جیورسټ) وهٔ- هغهٔ دا خبره محسوسوله چې د اقتدار خاوندان د

---

[1]: سیرت النعمان، ص:۵۸، بحواله عقود الجمان، باب:۲۱، وخیرات الحسان، ص:۵۸، (ابن حجر مکي متوفي ۹۷۳ھ) مطبوعه دار الکتب عربیة الکبرٰی ۱۳۲۶ھ

[2]: امام ابو حنیفهٔ کے ناقدین ص:۴۱

اسلامي اصولو په رڼا کښې حکومت کولو ته نهٔ دي تيار لکه دوي د خپل فکر په پېمانو کښې اسلام رانغاړي- اسلام د خپلو افکارو او خواهشاتو په رنګ کښې رنګ کول د دوي مقصدِ عظيم دے- دغه وجه وه چې امام صاحبؒ عموعماً د اقتدار کرسۍ له لته ورکړې وه- او په خپله دائره کښې دننه په يو خاص سوړ انداز ئې د حکومت هر غېر اسلامي حرکت سره مخالفت کړے دے-

## بخري او شُعلې:

د بنو عباس تحريک پټ پټ ډېر زور نيولے وۀ- د خراسان خلق د عربو مخالف وو- ځکه چې عرب يو فاتح قوم وۀ او د ايران محکوم خلق ئې د ځان جوګه نهٔ ګڼل- بل د عربيت او عجميت امتياز هم د هغوي په مېنځ کښې پردې راښکته کړې وې- قدرتي طور د خراسان د خلقو په زړونو کښې د هغوي نه کرکه او نفرت پېدا شۀ- د دې حالاتو نه ابو مسلم خراساني ډېره فائده واخسته- هغۀ د عباسيانو په مرسته کښې دې تحريک له دومره باد ورکړۀ چې د نفرت او کرکې د خوړلن نه پورته شوي بخري د بغاوت په سر تېزه شعلو کښې بدل شول- ابو مسلم خراساني په کال ۱۲۵هـ کښې د روژې د مايشتې په پينځويشتمه نېټه د عباسيانو تور بېرغ (ظل)، پورته کړۀ او په خراسان ئې قبضه وکړه[1]- د بغاوت

---

[1]: اردو انسائیکلو پیڈیا، ص:۸۱

سېلاب په تُندو چپو کښې کوفې ته ورسېدهٔ- هلته ابومسلم خراساني د ابوعباس سفاح د خلافت اعلان وکړهٔ او د فرات په مشهور جنګ کښې د اموي خاندان ساه وختله- ابوالعباس سفاح په کال ۱۳۲ھ کښې خليفه شۀ او څلور کاله يې حکومت وکړهٔ- د هغهٔ نه وروستو منصور خليفه شۀ- دې دواړو ورونو د بنو اميه نوعے پرې نۀ ښودهٔ- هر قسم ناروا ظلمونه يې وکړل- د بنو اميه د مړو قبرونه يې وکنستل او د هغوي هډونه يې وسېزل[1]- ځاے په ځاے به خلقو د بغاوت بېرغونه پورته کول او چې د دوي وس به پرې رسېدهٔ نو سم ډېر به ئې تکو سترے کول- عوام د بنو اميه د جور و ستم نه تنګ وو د هغوي سترګې وې چې انقلابي حکومت به د اسلامي اصولو په رڼا کښې د مينې محبت او شفقت په بنيادونو د خلافت ماڼۍ ابادې کړي- خو د هغوي اندازې غلطې وختې- د مطلق العنان اقتدار فطرت دا دے چې د انسانيت د پاره مهربانه شفيق نۀ ګرځي بلکې قهر و غضب د هغهٔ مزاج:

جور و ستم د هغهٔ صفت[2] او توره د هغهٔ دليل وي

بيا د ظلم انتها دا چې منصور په ساداتو د غضب لېندهٔ راښکه- دا خبره به غلطه نۀ وي چې د هغوي په زړونو کښې دا خيال موجود وۀ چې خلافت د ساداتو حق دے او په يو لحاظ د

---

[1]: تاریخ اسلام، از شاه معین الدین، حصه ۳، ص: ۸

[2]: ترجمان القرآن، ج: ۵۶، عدد: ۳، ص: ۱۵۳ (نعیم صدیقی)

هغوي حق هم وۀ[1]خو د سفاح تر زماني پورې د هغوي څۀ سازش نۀ وۀ ښکاره شوے- او محض په شک شهبه منصور د هغوي په کورنۍ تالان ګډ کړۀ- د هغۀ ظلم زور د کربلا خونړي يادونه يو ځل بيا راتازه کړل- ساداتو ته ئې د جېلخانو دروازې لرې کړې چې ځوک ورته لړ خطرناک ښکارېدۀ د هغۀ سر ته غل شۀ- محمد ابن ابراهيمؒ چې په حسن جمال کښې يوسف ثاني وۀ او په دې وجه به ورته خلقو ديباج يعني رېښم وې- د خپل خانداني عظمت، الٰهي حسن وهبي زکاوت او ښو اخلاقو د کبله د خلقو د اميدونو مرکز وګرځېدۀ- نو منصور هغه ژوندے په دېوال کښې خوندي کړۀ[2]-

# احسان فراموش:

ابومسلم خراساني هغه سړے دے چاچې د عباسيانو خلافت د خپل عقل، تدبر او سياستدانۍ په زور قايم کړے وۀ- هغۀ په خپل سر لوبې وکړې او د بنو اميه د اقتدار ماڼۍ ئې سر د لاندې راوغورزولې- منصور چې د خلافت په کرسۍ کښېناستۀ نو د ټولو نه اول ئې د هغۀ په وينو منګلې سرې کړې[3]- نن هم د هغۀ په دې وحشيانه حرکت د احسان او مروت جبين داغ داغ دے- د ابو

---

[1]:سيرت نعمان، از شبلي مرحوم

[2]: سيرت النعمان، ص:۵۹

[3]:تاريخ الاسلام، ج:۴، ص:۶۳۸، از شوق امرتسری و بيان الامراء (ترجمه تاريخ الخلفاء از علامه سيوطی، ص:۲۸۴

مسلم خراساني د ټولو نه لوے جرم دا وۀ چې هغۀ د خپلو سياسي کارنامو په سبب ډېر لوے نوم پيدا کړے وۀ۔

اے روشنئ طبع تو بر من بلا شدی

دا هغه ابومسلم خراساني وۀ چاچې د عباسي خاندان د ناموس د پاره د شپږو لکهو مسلمانانو په وينه خپله عمل نامه رنګ بنګ کړې وه[1]۔

## نفس زکيه:

محمد مهدي بن عبدالله (نفس زکيه) او د هغۀ ورور ابراهيمؒ بن عبدالله د حضرت امام حسين عليه السلام په اولاد کښې وۀ۔ د دې دواړو ورونړو تحريک د بنو اميه د زمانې نه شورو شوے وۀ۔ يو وخت داسې هم وۀ چې د عباسي خاندان دويم خليفه منصور د نفس زکيه په لاس بيعت کړے وۀ[2]۔ هرکله چې عباسي سلطنت قايم شۀ نو د نفس زکيه خوا خوږي د اسلامي دنيا په چاپېرچل کښې خوارۀ شو او پټ په پټه ئې خپل تحريک جاري وساتلو۔ د دوي داعيان په خراسان، رے، طبرستان، الجزيره، يمن و غيره کښې لګيا وو۔ د بغاوت اور له ئې پوکے ورکولو۔ په

---

[1] : ترجمان القرآن، ج: ۵۶، عدد: ۳، ص: ۱۵۷ (مقاله نویس: جناب صدیقی)

[2] : ماہنامه ترجمان القرآن، ج: ۶۰، عدد: ۶، ص: ۳۵۰، بحواله الطبرای (مولانا مودودی) وماہنامه حقیقة الاسلام لاهور، ص: ۱۱، بابت ماه مئی، ۱۹۳۳ء، بحواله ابن خلدون ج: ۳، ص: ۱۸۷،

کوفه کښې هم د دوي ښهٔ کافي اثر رسوخ وو، په مدينه کښې حضرت امام مالکؒ د نفس زکيه په حق کښې فتوٰی ورکړه او د خليفه المنصور جواز ئې چيلنج کړهٔ- منصور د نفس زکيه د تحريک نه ښهٔ په زَور زېر خبر وهٔ او دغه وجه وه چې کله هغوي په کال ۱۴۵ھ کښې خروج وکړهٔ نو منصور له به د ډېرې ويرې او غمه خوب نهٔ ورتلو- دوه مياشتې هغه جامو بدلولو ته هم سم نهٔ شهٔ[1]- هغهٔ به هر وخت د کوفې نه د تښتېدو د پاره ښهٔ ګړندي اسونه زين کړي ساتل- کهٔ د تقدير قاضي ئې مرسته نهٔ وې کړې نو د نفس زکيه تحريک به د عباسي سلطنت تخته اړولې وه[2]- نفس زکيه زر تر زره د شهادت پيالۍ نوش کړه- اوس د هغهٔ ورور ابراهيم د خلافت بېرغ هسک کړهٔ- د ابراهيم په دعوٰی د هره ګُټه د قبوليت تاپې ولګېدې- ځکه چې يو خوا هغه يو بهادر او جانباز سپاهي وهٔ او بل طرف ته يو پاک او متقي عالم-

## د امام صاحبؒ موقف:

خليفه منصور د بغداد د تعمير کار معطل کړهٔ او کوفې ته راغے- منصور په کوفه کښې موجود وهٔ او امام صاحبؒ به جاراً

---

[1]: خلافت میں امام ابو حنیفہؒ کا مسلک، از مولانا مودودی، بحوالہ الطبری (ترجمان القرآن، ص:۳۰، ۱۹۶۳)

[2]: ترجمان القرآن، ص:۳۱، ستمبر ۱۹۶۳

باراً د ابراهیم حمایت کولو- د امام صاحبؒ یو مشهور شاګرد زفر بن الهزیل روایت کوي چې د ابراهیمؒ فوځونه د بصرې نه کوفې ته راروان وو په ښار کښې به ټوله شپه کرفیو لګېدلې وه- په داسې نازک وخت کښې به حضرت امام صاحبؒ د ابراهیمؒ په حمایت کښې په ډاګه لګیا وۀ- نو ما ورته یو ځل ووې چې تاسو صبر ېږئ نه او ترڅو چې زمونږ د ټولو څټونه ونۀ تړلے شي- امام صاحبؒ صفا اعلان کړے وۀ چې د ابراهیمؒ په مرسته کښې د نفلي حج نه پنځوس حصې ډېر ثواب دے[1]- د ټولو نه زیات خطرناک کار امام صاحبؒ دا وکړۀ چې د منصور د فوځونو سالار اعظم ئې د ابراهیمؒ د مقابلې نه منع کړۀ- دا سالار اعظم حسن بن قحطبه نومېدۀ- د هغه قحطبه زوے، چاچې د خراساني سره اوږه په اوږه د بنو امیه په مخالفت کښې مېدانونه په وینو رنګ کړي وو- د عباسي سلطنت بنیاد هم د دوي په برکت ایښودے شوے وۀ- منصور چې د حسن په حال خبر شۀ نو پته ئې ولګوله چې د هغۀ ناسته کومو خلقو سره ده- هغه پوهه شۀ د ستر امام ابوحنیفۀؒ مجلس پرې اثر کړے دے، چې ابراهیمؒ بن عبدالله د بصرې په جنګ کښې شهید شۀ نو منصور د هغۀ ملاترو ته وزګار شۀ- په دغه ورځو کښې منصور د هاشمے نه د خلافت دربار بغداد ته اوړے وۀ-

---

[1]: ترجمان القرآن، ج: ۶۰، عدد: ۲۶، ص: ۳۵۱، بحواله الکردری، ص: ۷۱، المکی، ص: ۸۳، از مولانا مودودی

# قاضي القضاء:

منصور د يو فرمان په رو سره امام صاحبؒ بغداد ته وبلۀ او د قضاء (چيف جستس) عهده ئې ورته وړاندې کړه- امام صاحبؒ ورته انکار وکړۀ چې "زۀ دا قابليت نۀ لرم"- منصور د غصې نه سور شۀ- وې تۀ دروغژن يې- امام صاحبؒ جواب ورکړۀ چې زۀ دروغژن يم نو بيا خو واقعي د قضا جوګه نۀ يم- د منصور نه هيڅ پوره نۀ شوه نو لکه د زوره ورو ئې د دليل په ځاے کانې ته ګوتې کړې او حضرت امام صاحبؒ ئې اوچ په موچه جېل خانې ته ولېږۀ- څۀ موده پس په دغه جېل خانه کښې امام صاحب ناڅاپه عليل شۀ او په شپږ ورځې پس وفات شۀ[1] تفصيل به ورستو بيان شي-

# جېل خانه:

د امام صاحبؒ علمي شهرت او مقبوليت دې حد ته رسېدلے وۀ چې منصور د هغۀ مرګ ته په جهر زولنې نۀ شوې اچولې-

څۀ وخت پس ترې امام صاحبؒ دا مطالبه وکړه چې د درس وتدريس اجازت ورته وشي- د دې نه پس په قېدخانه کښې حضرت امام صاحبؒ د علم دين لوے خدمت وکړۀ- امام محمدؒ

[1]: مولانا جميل احمد مدرس دارالعلوم ديوبنديه اشرف الهدايه، ج:۱، مخ:۵۱، پينځۀ ورځې ليکي (اسرار الرحمٰن)

چې د علم فقهې امام دے، په جېل خانه کښې د حضرت امام صاحبؒ نه د علم زدکړه وکړه- د امام ابوحنيفهؒ په شاګردانو کښې قاضي ابو يوسف او امام محمدؒ د ډېر لوړ مقام او امتيازي شان خاوندان دي- دوي ته د فقهې په کتابونو کښې صاحبين وائي-

## د سترګو ازغے:

د امام ابوحنيفهؒ شخصيت يو عجيبه انقلابي حېثيت لرلو- د هغوي طريق کار جذباتي نۀ وۀ بلکې د وخت او حالاتو د تقاضو او نزاکتونو خيال به هر وخت د هغوي په دماغو کښې پروت وۀ- په دې خبره پوهـ وۀ چې يو عظيم او بااختياره طاقت مقابله يک يوازې سړے يا د يوڅو سرفروشانو ډله په ډاګه ډګلې نۀ شي کولې- د دې برعکس هغوي د خلقو د زړونو او ذهنونو غوټې پرانستل غوره وګڼل- حضرت امام صاحبؒ دا هم کولے شو چې د حق يوه نعره ئې پورته کړې وې او په دې چل ئې د اقتدار نهنګانو ته خپل ځان د واره سپارلے وے- خو هغوي ته دا حقيقت ښۀ واضح وۀ چې معاشره بې حِسه ده، زړونه يخ دي، جذبات ساړۀ دي- اسلامي جوش و خروش واکدارانو د خلقو د سرونو ځنې ويستلے دے- د عوامو په ښځونو د تخت و تاج مالکانو د اوسپنې ډوګې لګولې دي- خلو ته د فولادو[1] جندرې پرتې دي- په داسې

[1]: د ابو مسلم خراساني نه يو ځل چا تپوس وکړۀ چې تورې جامې ولې اغوندې، ابومسلم مخکښې د خبرې جواب ورکړۀ خو بيا ئې ورته ووې چې

حالاتو کښې د هغهٔ په ذمه یو لوے کار پروت وهٔ- په معاشره کښې ځاے په ځاے ژوندي زړونه هم وو، په هغوي کښې انقلاب پیدا کول د امام صاحب فرض وو-

علامه ابوبکر جصاص د حضرت امام ابوحنیفهؒ یو قول د عبدالله ابن مبارک د خلې نه نقل کړے دے چې د خراسان فقیهه ابراهیم الصائغ حضرت امام صاحبؒ سره د امربالمعروف په مسئله خبرې اترې کولې نو امام صاحبؒ ورته وفرمائیل:

"وَهٰذه فریضته لَیست کَسَائِرِالفرائض لِاَنَّ سائر الفرائض یقوم بِها الرّجل وحده وهذا متی امر بِهِ الرّجل وحده اشاط بدمه وعرض نفسه للقتل فَاَخَافُ عَلَیهِ ان یُّعینَ عَلٰی قَتلِ نفسه و اِذا قُتِلَ الرَّجل لم یجتری غیره ان یعرض نفسه"[1]

یعنې د عامو فرائضو غوندې دا فریضه د یو سړي د وس برې خبره نهٔ ده- کهٔ یو سړے تن تنها دې کار ته ملا وتړي نو قتل به شي- زهٔ ویریږم چې دې به د خپل قتل په سلسله کښې د امداد قصور وار شي- او کله چې دې مړ کړے شي نو د نورو خلقو حوصلې به ماتې شي"

په دې وجه هغوي یو ذهني او فکري محاذ قایم کړهٔ- حضرت امام صاحبؒ یو عظیم الشانه علمي او تحقیقي اداره

---

تا گستاخي وکړه- تا کښې د تپوس جرات چا راپیدا کړهٔ، نو قتل ئې کړهٔ (ترجمان القرآن، ماه جون، بحواله خطیب بغدادی)

[1]: احکام القرآن، ج: ۲، ص: ۳۹، (از ابو بکر جصاص) مطبوعه مصر، ۱۳۴۷ھ-

قائمه کړه- دا مجلس هم د فقهې مدرسه وه- هم به ئې فتوې ورکولې او هم به ئې د تدوین قانون مهم کار ترسره کولو- دلته به هم د ائنده نسلونو د رهبرۍ او رهنمائې د پاره د لارې مشالونه تیارېدل- او هم به د حکومتونو د محکمه انصاف مشین له پرزې جوړېدې-

په دې عظیم کالج کښې به غېر شعوري طور انقلابي افکارو وده کوله- اقتدار فطرتاً ډېر حساس وي د حکومت واکداران په کوفه کښې د انقلاب په بوي پوهـ شوي وو او د دې انقلاب روح و روان حضرت امام ابو حنیفهؒ وۀ- د سفاح نه واخله تر منصوره او د منصور نه واخله تر ګورنر یزید بن هبیره پورې د هر حاکم په سترګو کښې لکه د ازغي غړېدۀ-

بغداد چې د اسلامي تهذیب[1] و تمدن مرکزي حېثیت حاصل کړے وۀ، د عالمانو پوهانو او دانشورانو د منزل اخري پړاؤ وۀ- د یو خوا بل خوا نه به لوے لوے خلق راتلل او د انقلابي دین د عظمت ژوندۍ نخښې نخښانې به ئې کتلے- د حضرت امام صاحبؒ نوم د اسلامي دنیا ګُټ ګُټ ته رسېدلے وۀ- خلق چې به د

---

[1]:دلته دا خبره واضحه کول غواړم چې د بغداد تهذیب خالص اسلامي تهذیب نۀ وۀ بلکې دا د ایراني، ترکي او نورو عجمي تهذیبونو یو معجون مرکب وۀ چې اسلامي او غېر اسلامي هر ډول عنصر په کښې شامل وۀ- فکري طور قیادت د یونان، فارس او عیسائي ثقافت نه مرعوب وۀ- مونځ، روژه او تقوٰی دارۍ سره اوړه په اوړه موسیقي، ډمتوب او شراب خوري هم په ترقۍ وو- اسرار

امام صاحبؒ د قېد وبند نه خبر شول نو همدردۍ به ئې لا زياتې شوې او چې خپلو علاقو ته به لاړل نو د امام صاحبؒ په شهرت کښې به ئې نوره اضافه وکړه- د بغداد په علمي حلقو کښې د امام صاحبؒ احترام ورځ په ورځ زياتېدۀ- منصور دا خبره کله زغملې شوه- هغۀ وې راشه دا ازغے په څۀ چل د سترګو نه وباسه-

## د زهرو جام:

د حضرت امام صاحبؒ لمن بې داغه وه هغه د قانون په پنجه کښې نۀ شۀ راتلے- هغۀ به دا تحريک ډېر په هنر او په چل چلولو- د اقتدار خاوندانو کۀ ورته هرڅو چل ول جوړولو خو د وېښتۀ نه باريکه او د تورې نه تېرۀ لار هغۀ داسې د احتياط په قدمونو غوڅوله چې دشمنان به ئې هميش نامراده او مايوسه پاتې کېدل-

منصور چې د امام صاحبؒ د وژلو هېڅ جواز بيا نۀ موندۀ نو په نورو چارو ئې ګوتې پورې کړې- عاقبت يوه ورځ ئې ورله په خوراک کښې زهر[1] ورکړل- امام صاحبؒ چې د زهرو په اثر پوهـ شۀ نو خپلو شاګردانو ته ئې د مدفن په حقله وصيت وکړۀ- بيا ئې د خپل حقيقي بادشاه په حضور کښې د عجز و نياز په رنګونو لړلے د صبر او شکر يوه سجده ولګوله- او هم په دې حال کښې د

---

[1]: سيرة النعمان، ص: ٦٤

همېشه د پاره د دنیا د قېد و بنده خلاص شۀ- دغه وخت د هغوي عمر اویا کاله وۀ- د دوېمې صدی هجری نیمه پېړی تېره شوې وه-

خدا رحمت کند این عاشقانِ پاک طینت را

وَلَا تَقُولوا لِمَن يُّقتَلُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ اَموات، بل اَحياء وَّلكن لاَّتشعرون (ط)

ہر گز نہ میسرد آنکہ زندہ شد بہ عشق

ثبت است بر جریدۂ عالم دوامِ ما

# جنازه:

د حضرت امام صاحبؒ د مرګ خبر په ان فن کښې د بغداد هرې کوڅې ته ورسېدۀ- د ښار قاضي حسېن بن عماره ورله غسل ورکړۀ- چې د غسل نه فارغ شۀ نو قاضي صاحب ووې:

"كُنتَ اَفقَهُنَا وَاَعبَدُنَا وَاَزهدُنَا وَاَجمَعُنَا لِخِصَالِ اَلخير[1]"

یعني تۀ زمونږ نه ښۀ فقیهه، ښۀ عبادت ګوزار ډېر زاهد او د ښو خصلتونو خاوند وے- د امام صاحبؒ په جنازه کښې په زرګونو خلق شریک شول- بار بار ئې خلقو جنازه وکړه تر شلو ورځو پورې ئې خلق جنازې ته راچلېدل او جنازې به ئې کولې-

[1]: الخيرات الحسان، ص: ٦٢

ثومره بختوره وه د خيزران[1] مقبره، چې د اسلامي دنيا يو لوے مجتهد او متقي امام له ئې په خپله پاکه غېږه کښې ځاے ورکړۀ- وائي چې امام صاحبؒ په کوم ځاے کښې مدفون دے هلته ئې اووۀ زره ختمونه کړي وو-

[1]: د مقبرې خواوشا علاقې ته اعظميه وائي- خيزران د خليفه کنيز وه هغه دلته دفن وه نو دا مقبره خيزران ياديده- په دې مقبره کښې د جامع الامام ابوحنيفهؒ په نوم مسجد شته-

# خاپونه

# خاپونه:

کوم خلق چې د خدای تعالی په لاره کښې د شهادت جام نوش کړي هغه حیات ابدي بیامومي:

چې د عشق په مهم ومري هغه نۀ مري
تل یادېږي په بدلو په سندرو

خوشحال خټکؒ

حضرت امام صاحبؒ د علم دین دومره خدمت کړے دے چې د هغې مثال په دنیا کښې ډېر کم موندے شي- کروړونه بنیادم د هغوي په بل کړي چراغ د منزل نخښې نخښاني لټوي- د ژوند په لویه لاره کښې د هغوي د پاکو نخښو خاپونه لاتراوسه تر و تازه دي- او لاروو ته د هغه پړاؤ درک ورکوي، کوم چې لوے خدای او پاک نبيﷺ د خپلو بندګانو د پاره ټاکلے وۀ-

# علمي خدمت:

امام صاحبؒ د روایت او د رایت داسې واضح اصول وضع کړل چې د هغې په رڼا کښې د علمائے کرامو د پاره د احادیثو چاڼ دومره اسان شي لکه د کُچو نه وېښتۀ راویستل- امام صاحبؒ به محض د اسنادو په معیار نۀ تلل چې حدیث صحیح دے او کۀ وضعي- بلکې هغوي به د اسنادو سره سره د قرآن او د رایت په تله هم تول پارسنګ کولو- مثلاً مولانا بدرعالم صاحبؒ میرټهي د

الموافقات ج۳ ص۲۴ په حواله لیکي چې هغوي به د خبرِ واحد وړومبے د هغې باب نورو احادیثو سره موازنه وکړه- د قرآن بیان سره به ئې هم اوجوګه- کۀ چرې مطابقت به ئې راغے خو ښه په ښه ګني نو هغه به ئې شاذ وګڼۀ او عمل به ئې وربانديې نۀ کولو[1]- ډاکټر حمیدالله صاحب په خپله یوه خطبه کښې د امام ابوحنیفهؒ په اصول فقهه کښې د یو تالیف کتاب "الرائی" ذکر کوي- او وائي چې مونږ دا فرض کوو چې په دې موضوع دا وړومبے کتاب دے[2]-

## فقهه حنفي:

د علامه کوثري مصري په قول فقهه حنفي د څلوېښتو علماؤ د شورائي اتحاد مرتبه کړے قانوني ذخیره وه[3]- د امام صاحبؒ د سبوري د لاندې په دې جماعة شوریٰ کښې لکه د قاضي یوسفؒ، زفربن الهزیلؒ، داؤد طائيؒ، یوسفؒ بن خالد السمتي چې د حضرت امام شافعيؒ استاذ وۀ- او د قاسمؒ بن معن غوندې بې مثاله پوهان او متقین شامل وو-

امام صاحبؒ په خپله فرمائي په دې شپږ دېرش کسانو کښې ۲۸ د قاضي جوړېدو جوګه دي- شپږ د فتوې ورکولو

---

[1]: ترجمان السنتہ، ص: ۱۸۷

[2]: خطبات بہاولپور، مطبوعہ اسلام اباد، اشاعت سوم، ۱۹۹۰ء، ص: ۱۲۷

[3]: ترجمان السنتہ، ص: ۲۲۸

قابلیت لري- او دوه داسې دي چې قاضیان او مفتیان جوړولے شي-

دې ټولي د ۱۲۱هـ نه تر ۱۵۰هـ پورې کار وکړۀ[1]- امام صاحبؒ په خپلو شاګردانو چرې هم دا جبر نۀ کوۀ چې هغوي دې ارو مرو د امام صاحب رائې سره اتفاق وکړي ځکه خو موفق مکي وائي چې د امام صاحبؒ مسلک شورائي وۀ- د فقهې حنفي تدوین د حضرت امام صاحبؒ د ژوند یوه مثالي کارنامه ده چې د حکومت د امداد نه بې نیازه امام صاحبؒ په خپل سر ترسره کړه او د اسلام د قانون ماهرانو ته ئې یوه نوې لار پرانسته-

## فقهه:

د فقهې لفظي معنٰی پوهه ده- په قرآن کښې دا لفظ هوبهو په دې معنو استعمال شوے دے:

وَ طُبِعَ عَلٰی قُلُوبِهِم لَایَفقَهُونَ

الله تعالٰی د هغوي په زړونو ټاپې لګولې دي نو هغوي نۀ پوهېږي[2]

خو د شرعې په اصطلاح کښې د فقهه لفظ د علم دین د پاره مخصوص دے- په دې سبب د علم فقهه عالم ته فقیهه وائي[3]- ډاکټر صبحي محمصاني په "فلسفة التشریع فی الاسلام" نومے

---

[1]: مسند امام اعظمؒ، مترجم اردو از مولانا سعد حسن صاحب، ص:۳۱

[2]: سورۀ توبه (رکوع ۹، ایت ۸۷)

[3]: بحر الرائق شرح کنز الدقائق، مصنفه ابن نجیم، ج:۱، ص:۳

کتاب کښې د ''مجلة الاحکام العدلیه'' نه د فقهې دا تعریف نقل کړے دے:

"الفقه علم بالمسائل الشرعیته" یعني د شرعي مسئلو علم فقهه نومېږي- هغه وړاندې لیکي چې د فقهې هغه تعریف ډېر جامع دے کوم چې فقیهانو کړے دے- وائي چې:

"فقهه د هغې فروعي احکام شرعیه ؤ علم دے چې د مفصلو دلائلو نه اخذ شوے وي[1]"

دلته د دې خبرې وضاحت ضروری دے چې شارع حقیقي الله تعالیٰ دے چاچې د شریعت اسلامي په ذریعه د دین او دنیا احکام نازل کړي دي- ګویا د تشریع اسلامي بنیاد په کتاب الله او بیا په سنتِ نبوي دے- فقهه دغه بنیادي اصولو ته څۀ نۀ وائي- فقیهان او مجتهدان قرآن او سنت په خپل ځائے قایم ګڼي او کله چې په قرآن کښې صریح او واضح حکم نۀ وي موجود نو بیا په اجماع او قیاس د مسئلو حل کولو کوشش کوي- علامه شیخ شهاب الدین احمدؒ بن حجر الهیمتي المکي فرمائي

"فقد جاء عن ابی حنیفة من طرقٍ کثیرة ما ملخصه انه اولا یأخذ انه اولا یأخذ بما فی القرآن فان لم یجد فبا السنة فان لم یجد فبقولِ الصحابة فاِن اختلفوا اخذبما کان اقرب للقراٰن او السنة من اقوالهم ولم یخرج منهم فان

---

[1]: فلسفه شریعت اسلام، ص:۹، ترجمه فلسفة التشریع فی الاسلام

لم يجد لاحد منهم قولا له يأخذ بقول احد من التابعين
بل يجتهد كما اجتهدوا[1]"

مطلب دا چې امام صاحبؒ به د قرآن، حديث او اجماع نه پس اجتهاد کوۀ- د تابعينو رائې پسې به خامخا نۀ تلو-

## امام اعظمؒ:

د فقيهانو په صف کښې د امام ابوحنيفهٔ صاحب جوګه بل ثوک نۀ شي موندے- په دې وجه هغۀ ته خلق امام اعظمؒ وائي- د هغوي د فقهي عظمت خپل پردي ټول قائل دي- حضرت امام شافعيؒ فرمائي "الناس فی الفقه عيال علٰی ابی حنيفه[2]" هم دا صاحب فرمائي "مَن اَرَادَ اَن يعرف الفقه فليلزم اباحنيفة واصحابه[3]" يعني:

I. ابو حنيفهٔ په فقهه کښې د نورو عالمانو بابا دے-

II. او کۀ ثوک فقهه زده کوي نو پکار دي چې امام ابوحنيفهٔ او د هغۀ شاګردانو ته ځان ورسوي-

نضرؒبن شميل فرمائي چې خلق د فقهې نه بې غمه اودۀ وو- ابوحنيفهٔ صاحب د خوبه رابيدار کړل[4]-

---

[1]: الخيرات الحسان، ص:٢٦

[2]: الخيرات الحسان، ص:٥

[3]: الخيرات الحسان، ص:٥

[4]: الخيرات الحسان، ص:١٠

حضرت امام مالکؒ د خپلو شاګردانو مخکښې د امام اعظمؒ صاحب د قوت استدلال اعتراف په دې الفاظو کړ دے چې کۀ وغواړي نو د کوټې دا ستن به د رته د سرو زرو ثابته کړي[1]۔

امام سفیان سوريؒ د امام صاحبؒ مرتب کړے کتاب "کتاب الرهن" حاصل کړے وۀ او اکثر به ئې لوستۀ۔ یوه ورځ زایده د سفیانؒ صاحب د بالښت لاندې یو کتاب ولیدۀ چې راوچت یې کړۀ نو هغه د امام ابو حنیفۀؒ صاحب "کتاب الرهن" وۀ۔ نو په تعجب ئې ترې پوښتنه وکړه چې تاسو د ابوحیفۀؒ کتابونه ګورئ۔ هغوي ووې ارمان دے ما سره د هغوي واړه کتابونه موجود وے[2]۔

د علمی مرتبې او پاکبازۍ نه علاوه د حضرت امام صاحبؒ یو بل خصوصیت دا وۀ چې هغه د دنیاوي کاروبار او تمدن نه په ښۀ شان واقف وۀ۔ د خاندان په لحاظ امام صاحبؒ د یو تجارت پیشه پلار زوے وۀ۔ د قومیت په لحاظ عجمي پښتون وۀ۔ د هغوي په مقابله کښې حضرت امام مالکؒ او حضرت امام شافعيؒ د مدینې منورې او مکې معظمې د مقدسې خاورې نه پېدا وو۔ بیا په تېره تېره امام شافعيؒ صاحب خو د قریشو او

---

[1]: الخیرات الحسان، ص:۵

[2]: سیرۃ النعمان، ص:۲۰۲ بحواله عقود الجمان

هاشمیانو وینه په خپلو رګونو کښې لرله- علم او تقوٰی سره سره د نام و نسب امتیاز د هغوي د مقبولیت ستورے په اما کما وځلوۀ-

لیکن امام صاحبؒ صرف او صرف د خپل ذاتي علم او تقوٰی په زور د شهرت منزلونه سر کړي دي- د هغوي فقهه دومره واضحه او مدلله ده چې دنیا ارو مرو هغوي ته د امام اعظمؒ لقب وبخښۀ-

## د فقهې حنفي مقبولیت:

د فقهې څلور مکتبونه چې په عرف عام کښې ورته مذهبونه وئیلے شي ډېر شهرت لري-

1. مذهب حنفي
2. مذهب مالکي
3. مذهب شافعي
4. مذهب حنبلي

د دې مذهبونو نه علاوه د اهل سنتو یوڅو نور فقهي مذاهب هم وو چې د وخت تېرېدو سره سره ختم شولکه (۱) مذهب اوزاعي (۲) مذهب ظاهري (۳) مذهب طبري وغېره- خو په دې ټولو مذهبونو کښې مذهب حنفي ډېره زیاته وده وکړه- د دې وجه یوه خو دا وه چې په دې مذهب کښې د وخت د جدیدو مسائلو او نوو نوزو کشالو حل ډېر په اسانه او په عام فهم انداز کښې موندے شۀ- بل د حضرت امام ابوحنیفهٔؒ ستر شاګرد امام یوسفؒ

د خلافتِ عباسیه د عدل وانصاف په کرسۍ کښېناستهٔ- هغوي ته د خپل اسَتاذ د افکارو د خوروني ډېره ښه موقعه په ګوتو ورغله- د عباسیانو نه علاوه د سلطنت عثمانیه سرکاري مذهب هم دا وهٔ- او هم د دې مذهب په رڼا کښې هغوي د "مجلة الاحکام العدلیه" تدوین وکړهٔ- په مصر، لبنان، تیونس، سوریا، ترکي، شام، البانیه، بلقان، قفقاز، افغانستان، ترکستان، چین، بهارت او پاکستان کښې د اکثرو مسلمانانو مذهب حنفي دے-

## ژوندے قانون:

جناب نعیم صدیقي په خپله یوه مقاله کښې لیکي "امام ابوحنیفهؒ او د هغوي مجلس تدوین قانون چې کوم نظام قانون مرتب کړے وهٔ د هغې حیثیت د قانون د یو بې ژوندي ذخیرې نهٔ وهٔ بلکې په هغې کښې د امام صاحبؒ سیاسي او انقلابي تصورات حل شو کوم چې هغوي د کتاب و سنت نه اخذ کړي وو"

وړاندې هم دا مقاله نګار لیکي چې:

"د امام صاحبؒ سیاسي نظریات او تصورات د فقهه حنفي د هر لوے کتاب په شا ښکاري- هغوي د خلافت د سقوط نه پس د سلطان اصلاح اختیار کړې ده- او بیا ئې د هغې نه د ظالم، فاسق او عادل سلطان راویستي دي چې سلطان ته دا خبره په ګوته

کړي چې ته عادل هم جوړېدے شي او ظالم او فاسق هم[1]- لهذا فقهه حنفي يوه داسې ائينه ده چې د وخت واکداران په کښې د خپل عمل او کردار ناوې له څنګه سترګه کولے شي- دغسې د امام ابوحنيفهؒ په کتابونو کښې د کتاب الاکراه، کتاب الجهاد، باب البغاة او ادب القاضي وغيره بابونه کۀ په غور وکتے شي او د دې قانون پنګې ته په بين السطور ښۀ فکر وکړے شي نو د امام اعظمؒ سياسي نظريات به راښکاره شي[2]-

کاش ځوک سترګه ور زمونږ د مخ تګ د پاره د لارې ګردونه د سترګو په ښو جارو کړي چې قوم ته د خپل نامور مقتدا او د قدمونو نخښې نخښانې راڅرګندې کړي-

## علم حديث:

امام صاحبؒ د محدث په حېث ډېر شهرت نۀ لري- خو د دې حقيقت نه ځوک سترګې نۀ شي پټولې چې يو سړے تر هغه مجتهد نۀ شي جوړېدے تر کومه چې هغه د قرآن او حديث جامع علم نۀ لري-

محدث کۀ د احاديثو الفاظ د زړۀ په سيپارو کښې امانت سلامت ساتي نو فقيهان او مجتهدان د معانو او مطالبو ژورو ته

---

1: ترجمان القرآن، اپريل ۱۹۲، ص: ۳ تا ۳۸

2: ايضاً

ورکوزېږي- ابو المويد خوارزميؒ د ديارلسو مسندونو ذکر کړے دے چې هغه عالمانو د امام ابوحنيفهؒ د احاديثو نه مرتب کړي دي- وائي چې د دې مسندونو تاريخي حېثيت کمزوے دے خو دا لاځان له بحث دے چې مونږ ئې د فن عالمانو ته پرېږدو- علامه شبليؒ وائي "دا خبره بالکل غلطه ده چې امام ابو حنيفهؒ په علم حديث کښې ډېر درک نۀ لرۀ"[1]-

قاضي ابو يوسفؒ وائي چې "د حديث په صحيح مراد او د هغې نه د مسئلو په اخذ کولو کښې ما د امام صاحبؒ نه زيات پوهـ څوک نۀ دے ليدلے-[2]"

عبيدالله بن عمرو وائي چې زۀ يوه ورځ اعمش سره ناست وم- يو سړے راغے د يوې مسئلې تپوس ئې وکړۀ- امام صاحبؒ هم ناست وۀ- اعمش صاحب خبره امام صاحبؒ ته واړوله چې هغوي جواب ورکړۀ نو اعمش صاحب حېران شۀ وې "دا حل دې د کوم ځاے نه راوويستو" امام صاحبؒ ورته ووې چې د هغه حديث نه کوم چې تاسو ماته روايت کړے وۀ- نو اعمش صاحب د امام صاحبؒ د پوهې اقرار په دې الفاظو کښې وکړۀ"

"نحن الصيادلة و انتم الاطِباء[1]" يعني مونږ پساريان يو او تاسو طبيبان يئ"

---

[1]: سيرة النعمان، ص: ۱۳۴

[2]: ترجماالسنته، ص: ۲۳۴، بحواله خطيب بغدادی

مطلب دا چې د پساري په دوکان کښې د جړړو بوټو امبارونه پراتۀ وي خو د بوټو په مزاج طبيبان پوهېږي- (سلېمان بن مهران اعمش د مشهور فقيهه سفيان ثوري استاذ وۀ)

د داسې لويو لويو عالمانو د اعتراف نه پس د دې خبرې هېڅ بنياد پاتې نۀ شي چې حضرت امام صاحبؒ محدث نۀ وۀ- قيصه دا وه چې حضرت امام صاحبؒ به په پټو سترګو هرې خبرې ته حديث نۀ وئيلو او په دې وجه په بعضې خلقو کښې د هغوي متعلق غلطې خبرې خورې شوې- دا څۀ نا اشنا کار نۀ وۀ، اوس چې د کاغذ او پرېس زمانه ده هم د اهلِ علمو په لمن پورې عجيبه عجيبه شګوفې تړلې شي او چې رښتيا راځي نو دروغو ملکونه وران کړے وي-

## پاکه لمن:

د امام صاحبؒ سيرت د هر مومن مسلمان د پاره د تقليد جوګه دے- امام صاحبؒ د کوفې په شتۀ منو خلقو کښې شمېرېدۀ- په ځوانئ کښې د خپل مال حال واکدار شۀ- خو سره د دې هغوي د عيش و عشرت نه خپله لمنه بچ وساتله او د علم دين په حصول او اشاعت او د مذهبي اقدارو په تحفظ کښې ئې خپل عزيز عمر تېر کړۀ-

---

[1]: ترجمان السنته، ص:۲۳۳، بحواله جامع بيان العلم ،ج:۲، ص:۱۳۰

## د مور خدمت:

**د امام صاحبؒ مور ډېره پاکه ښځه وه. امام صاحب به هغې هره خبره منله د هغې د آرام او خوشحالۍ خیال به يې ساتلو. په کوفه کښې عمرو بن ذر قصه بو مشهور واعظ وو. د امام صاحبؒ مور هغهٔ سره ډېر عقيدت وه او چې کله به يې څه مسئلې ته حاجت شو امام به يې هغهٔ له ولېږه چې تپوس ترې وکړي.**

حال دا وۀ چې هغه په علم کښې د امام صاحبؒ د پارسنګ مساوي هم نۀ وۀ خو امام صاحب ته د هغۀ نه پوښتنه کول عار ځکه نۀ ښکارېدۀ چې د مور زړۀ به ئې ساتۀ.

## حوصله:

د لويو خلقو زړونه لکه د ايلم د غر محکم او مضبوط وي. دنيا به وجړقبږي خو د يو عالم زړۀ به نۀ ښکته شي او نۀ پورته. يوه ورځ د کوفې جامع مسجد ته خارجيان توري په لاس راننوتل. ټول خلق يو خوا بل خوا وتښتېدل خو زړَور ابوحنيفهؒ د ځاے نه ونۀ خوزېدۀ[1].

[1]: حيات مالک، ص:۸٦، از سيد سليمان ندوی

## خوشبوي:

ابن المبارک وائي "کان حسن الوجه حسن الثیاب"[1] یعني هغۀ ښکلې څهره لرله او ښکلې جامې به ئې اغوستې- د حضرت امام صیبؒ نمسې عمر وائي چې هغوي به پاکې پاکې جامې اغوستې او دومره خوشبوي به ئې لګوله چې د خوشبوئې وږمو به د هغوي د نقل و حرکت غمازي کوله-[2]

## ګورنر:

امام صاحبؒ به د حکومت وظیفې نۀ اخستې، دغه وجه وه چې د حق په معامله کښې به همېشه بې باکه وۀ- د هغۀ ازادي چا غصب کولې نۀ شوه-

د کوفې ګورنر ابن هبیره یو ځل د امام صاحبؒ نه په دربار کښې د حاضرۍ تقاضه وکړه- نو امام صاحبؒ ورته انکار وکړۀ، وې "کۀ ښۀ سلوک راسره وکړې نو ویرېږم چې په دام کښې به دې ونښلم- کۀ په بدۍ راغلے نو دا زما سپکاوے دے-

[1]: الخیرات الحسان، ص:۲۱

[2]: ترجمان السنته

# فیصله:

یو وار خلیفه منصور خپلې ښځې حره خاتون سره خبرې واړولې- خبره دې حد ته ورسېده چې خلیفه منصور د بل وادهٔ اراده وکړه- حره خاتون ګیله منه وه چې خلیفه عدل نهٔ کوي- په دې وجه دواړو فیصله وکړه چې امام ابوحنیفهؒ به حَکم کړو- امام صاحبؒ چې راغے نو خلیفه ترې تپوس وکړهٔ-

خلیفه: یو سړے څو ښځې کولې شي؟

امام صاحبؒ: قرآن د څلورو ښځو اجازت کړے دے

(خلیفه شاته وکتل د پردې شاته د هغهٔ ښځه ناسته وه- امام صاحبؒ ترې خبر نهٔ وهٔ خو چې د خلیفه په مطلب پوهـ شهٔ نو ورته ئې ووې:

"فَاِن خفتم اَنّ لاّ تَعدِلو فَواحِدة" کهٔ چرې تاسو ویرېږئ چې عدل به ونهٔ کړئ نو بیا یوه ښځه کافي شافي ده-

منصور غلے پاتې شهٔ او امام صاحبؒ واپس راغے- څهٔ وخت پس ورپسې یو سړي د روپو یو برجقه تېلۍ راوړه چې د خلیفه بي بي ستا د حق ګوئې په صله کښې رالېږلې ده- امام صاحبؒ پېسې واپس کړې چې ما خو حق د پېسو د پاره نهٔ وهٔ وئیلے-

# حرام حلال:

امام صاحبؒ د خپل وخت لوے بيوپاري وۀ[1]- د لکونو روپو کاروبار به ئې کوه خو د هغوي خزانې ته د حرامو يوه کنجکه هم نۀ شوه راننوتې، ځکه چې هغوي د حرامو رَو ګودر ته د فولادو بندونه تړلي وو- خليفه منصور ته چې امام صاحبؒ د منصب د قبلولو نه انکار وکړۀ نو د عدول حکمۍ په جرم کښې کبرژن خليفه هغوي له دېرش کوړې سزا ورکړه د خليفه ترۀ عبدالصمد بن علي چې يو پوهه او تجربه کار سړے وۀ نو هغۀ خليفه ته ووې، دا تا څۀ وکړل، د سلو زرو خلقو تُورې دې ځان ته بربنډې کړې، هغه يوازې د عراق نه بلکې د ټول مشرق فقيهه دے- منصور په خپلو کړو ستومانه شۀ او خيال ئې وکړۀ چې د کروړو زخمونو له د د روپو ټکورونه ورکړم- نو د شرم داغ به مې د جبين نه لرې شي- د يوې کروړې په عوض کښې ئې ورله زر روپۍ ولېږلې[2] خو امام صاحبؒ روپۍ څۀ کولې

---

[1]:

[2]: دلته دا خبره ياد لرل پکار دي چې خليفه منصور څۀ دومره سخي ارسلاخان نۀ وۀ چې روپۍ ئې نوستلې بلکې په تاريخ کښې هغه د ابوالدّوانيق (دمړي چود) په نوم يادېږي- علامه جلال الدين سيوطيؒ د ابن عساکر په حواله په تاريخ الخلفاء کښې ليکي چې د خلافت نه مخکښې منصور د علم په طلب کښې سفر کولو- په يو منزل کښې ئې شپه راغله، څوکيدار ورته ووې:

د جنت بلبلان څۀ کړي د دنيا د باغ ګلونه

واپس ئې کړې او جواب ئې ورله ولېږۀ چې "منصور سره حلالې پېسې هم شته؟"

## وصيت:

حضرت امام صاحبؒ چې د زهرو په اثر پوهه شۀ نو خپلو شاګردانو ته ئې سپارښتنه وکړه چې ما د بغداد په هغه زمکه مۀ

---

څوکيدار: دوه روپۍ راکړه نو هله به دې شپې ته پرېږدم
منصور: زۀ هاشمي يم ما وبخښه
څوکيدار: دوه روپۍ راوباسه انې بانې مۀ کوه
منصور: زۀ د رسول الله صلي عليه وسلم د سکه ترۀ اولاد يم، ما معاف کړه
څوکيدار: نۀ شي کېدے زۀ دوه روپۍ غواړم
منصور: ګوره زۀ د قرآن قاري يم
څوکيدار: يې به، پېسې راوباسه
منصور: زۀ د فقهې او فرائضو عالم يم- ما نه روپۍ مۀ غواړه
څوکيدار: منم، خو چې ترڅو پورې پېسې رانۀ کړې دلته شپه نۀ شې کولې
او چې د منصور طمع قطع شوه نو چار ناچار ئې لاس جيب ته ښکته کړۀ- د دې واقعې نه پس هغۀ پېسې جمع کولو ته توجه وکړه او د دمړي دمړي حساب کتاب به ئې ساتۀ- عن چې د ابو الدوائق (دمړي چود) لقب ورپورې لکه د جولې (جوکې) ونښتۀ- (بيان الامراء، ص: ۲۸۶، ۲۸۷

ښځوئ کومه چې منصور د خلقو نه په زور زياتي نيولي ده، بلکې د خيزران په هديره کښې مې ښخ کړئ چې دغه زمکه پاکه ده[1]۔

## لګښت:

امام صاحبؒ به خپلې پېسې د نېکۍ په کارونو کښې لګولې- طالب علمانو له به ئې وظيفې ورکولې چې د علم شمع روښانه وساتي- امام ابو يوسفؒ د عباسي دور نومورړے عادل قاضي هم د امام صاحبؒ په بې دريغه امدادونو او کوششونو د علم او شهرت په اسمان لکه د نمر وځلېدۀ۔

## سخي امامؒ:

په هر موسم کښې چې به څۀ نوې مېوه راغله نو امام صاحبؒ به په ډېر مقدار کښې په بيعه واخسته- څۀ به ئې خپل کور ته ولېږله او څۀ به ئې برخې برخې کړه او ټولو عالمانو او فقيهانو کره به ئې واستوله- امام صاحبؒ به اکثر خپلو يارانو، دوستانو، احبابو او ملاقاتيانو سره امدادونه کول- د پېسو ورکولو طريقه به ئې دا وه چې بنده به ئې د نورو خلقو نه بېل کړۀ او پټ په پټه به ئې ورله موټے ګرم کړۀ- يوه ورځ چې ملاقاتيان پاسېدل نو امام

---

[1]: الخيرات الحسان، ص:٦٢

صاحبؒ یو صاحب ته اشاره وکړه چې ایسار شه، او د زرو روپو یوه تېلۍ ئې ورته نذر کړه- هغه سړے مړه خوا وۀ، انکار ئې وکړۀ چې ګوزاره مې کېږي نو امام صاحبؒ ورته وفرمائیل "چې شتۀ مند یې نو داسې جامې اغونده چې خلق دربانديې دوکه نۀ خوري-[1]"

## حاتم طائي:

یوه ورځ امام صاحبؒ په لاره روان وۀ- یو مقروض یې مخې له راغے، هغۀ د امام صاحبؒ نه حیا وکړه، لاره ئې بدله کړه، امام صاحبؒ ورته اواز وکړۀ وې زما نه ولې ګریز کوې، هغۀ جواب ورکړۀ چې ستا قرض راپورې دے، ډېره موده وشوه ادا کولے ئې نۀ شم، ستا نه وشرمېدم- امام صاحبؒ د هغۀ د حیا نه دومره متاثره شۀ، وې سبحان الله! ما درته ټولې پېسې وبخښلې-

هن وار وکړه! روپۍ څۀ دوه درې یا لس شل نۀ وې بلکې پوره لس زره روپۍ وې او د روپو د دومره لوے ټوپ نه هر حاتم طائي ټوپ نۀ شي وهلے[2]-

---

[1]: ترجمان السنته، ص:۲۲۴، سیرة النعمان، ص:۷۵

[2]: الخیرات الحسان، ص:۳۸،

# احسانات:

قیس بن الربیع وائي چې حضرت امام صاحبؒ به د عالمانو نه روپۍ واخستې او د بغداد او کوفې په مینځ کښې به ئې په دغو پیسو تجارت کولو- په دې نفع به ئې د هغوي د جامو او خرخ خوراک انتظام کولو- پاتې نفع به ئې هغوي له ورکوله چې خپل نور ضرورتونه پرې سر ته ورسوئ[1]- په دې چل هغوي د کوفې لوے لوے عالمان د مالګې او کورکمان د غم نه بې غمه کړي وو- چې د علم په شغل کښې ئې فرق نۀ راځي- چې پیسې به ئې ورکړې نو ورته به ئې دا هم ووې چې زما شکریه مۀ ادا کوئ ځکه چې ما د خپل مال نه تاسو له هیڅ شے نۀ دے درکړے، هم ستاسو پیسې دي چې تاسو له در رسي- البته زۀ ئې سبب ګرځیدلے یم-

په دنیا کښې لوے سخیان او حاتم طایان تېر شوي دي خو د امام صاحبؒ د ورکړو لار ډېره بې کړېچه وه- په چا به ئې احسان نۀ زیادۀ- دا خیال به ئې ساتۀ چې هسې نه د اخستونکي په زړۀ کښې د کمترۍ احساس راپیدا شي- امام ابویوسفؒ وائي:

"وَکان یعولنی وعیالی عشرین سنة" یعني شل کاله ئې د هغوي برابر پالنه وکړه- هم به ئې ورته سبق ښودلو او هم به ئې ورله نان نفقه ورکوله-

---

[1]: ترجمان السنته، ص: ۲۲۴

## صبر:

غم غصه د لېونتوب يو قسم دے- کوم سړے چې د علم جوهر په سينه کښې لري د هغۀ جذبات بې واکو کېدے نۀ شي- د بهادر سړي غټه نخښه دا ده چې هغه به ډېر زيات تحمل مزاج وي- د زغم او برداشت ماده په لويو خلقو کښې د حده په هورته ډېره وي- يوه ورځ امام صاحبؒ له يو سړي خبر راوړۀ[1] چې امام ثوريؒ تاته بد رد وائي- هغۀ ووې خدا ے تعالیٰ دې ما او ثوريؒ دواړه وبخښي او بيا ئې د هغۀ د علمي شان ستائينه وکړه- ابن مزا هم وائي چې امام صاحبؒ به دا دعا کوله: الهم من ضاق بنا صدره فان قلوبنا قد التسعت له[2]

---

[1]: د وقيع قول دے چې يوه ورځ زۀ ابوحنيفهؒ له لاړم، هغه فکر وړے وۀ ما ته ئې وئيل د کومې راغلے ما وې د شُريک نه هغوي سر راپورته کړۀ او دا شعر ئې ووې:

ان يحسدوني فاني غير لائمهم ـــ قبلي من الناس اهل الفضل قد حسدوا

فدام لي ولهم ما بي و ما بهم ـــ وماته اکثرنا غيظاً بما يجدوا

کۀ هغوي ماسره حسد کوي نو زۀ ئې نۀ ملامته کوم--- زما نه هم د فضل په خاوندانو حسد کړے شوے دے، هغوي دې په خپل حال قايم وي او زۀ په خپل حال--- زمونږه نه ډېر عالم په حالاتو قهرېدلي مړۀ شول-

[2]: ناقدين، ص:۴۸

## زلموټے:

یوه ورځ یو زلموټے د امام صاحبؒ په حلقه کښې ناست وۀ- د امام صاحبؒ نه ئې څۀ مسئله وپوښتله چې هغوي جواب ورکړۀ نو وۀ ئې وې "ابوحنیفهؒ تا غلطه خبره وکړه"- ابو الخطاب جرجاني ناست وۀ هغۀ له ډېره غصه ورغله او خلقو ته ئې مخ راواړولو چې تاسو ډېر بې خونده يئ- هلکان د امام صاحبؒ په مخکښې الا بلا غروي او ستاسو وينه هډو جوش نۀ خوري-

امام صاحبؒ ابوالخطاب ته ووې چې خلقو ته ګناه نشته- زۀ چې دلته ناست یم نو هر چا ته حق دے چې زما غلطي دې رانیسي او زۀ دې په صبر د هغوي خبرې اورم-

## کنځل:

یوه ورځ امام صاحبؒ په مسجد حنیف کښې ناست وۀ- یو ناشنا سړے راغے د یوې مسئلې تپوس ئې وکړۀ- امام صاحبؒ مناسب جواب ورکړۀ- هغه سړي ورته ووې چې حسن بصريؒ خو د دې خلاف وائي- امام صاحبؒ ورته ووې چې هغه خطا شوے دے- په دې خبره یو بل سړے اور لمبه شۀ او امام صاحبؒ ته ئې یو داسې ناروا کنځل وکړل چې زۀ ئې خپل قلم نۀ ابته کوم- د مجلس رنګ پیکه شۀ- خلقو د هغۀ وهلو ته ګوابښ وکړۀ- امام

صاحبؒ منع کړل- ډېر ساعت بيا خلق خاموش وو امام صاحبؒ هغه سړي ته ووې چې: "او حسنؒ غلطي کړې ده د عبدالله بن مسعود روايت په دې معامله کښې صحيح دے[1]"

## زنديق:

يوه ورځ امام صاحبؒ سره يو سړي ګرمې ګرمې خبرې شورو کړې- امام صاحبؒ به په سړه سينه جواب ورکولو- سړے به ساعت په ساعت ګرمېدۀ او پاره به ئې په بره خته- ان چې د امام صاحبؒ په شان کښې ئې د زنديق الفاظ استعمال کړل- امام صاحبؒ ورته ووې چې "خدا ے دې وبخښه خدا ے ښۀ پوهېږي چې زۀ داسې نۀ يم"-

## بل کنځل مار:

د عظيم شخصيت نخښه دا ده چې په يو وخت کښې به په سوونو خلق د هغۀ په تعريفونو نۀ مړېږي او بل خوا به په شلګونو عالم هغۀ ته بد رد وائي- يوه ورځ امام صاحبؒ لګيا دے درس ورکوي او يو صاحب اړم دے کنځل ورته کوي- امام صاحبؒ پرې ځان ناغرضه کړے وۀ لکه څنګه چې د قرآن په رڼا کښې د خدا ے

---

[1]: الخيرات الحسان، ص:۵۳، و سيرة النعمان، ص:۷۶

پاک د نېکانو بندګانو لار ده"- شاګردانو ته ئې هم ووې چې دۀ ته مۀ ګورئ لګیا به وي- امام صاحبؒ چې پاڅېدۀ او کور ته روان شۀ نو دا سړے ورسره هم ملګرے شۀ او وهئ کهاتے ئې ورپسې راوسپړدې چې څۀ ئې په خلې راتلل هغه به ئې وې- امام صاحبؒ غلے روان وۀ چې د کور دروازې ته ورسېدۀ نو سړي ته ئې ووې چې دا زما کور دے کۀ څۀ درسره پاتې وي نو زړۀ تش کړه، ځکه چې زۀ دننه ځم بیا به تاته موقع په ګوتو رانۀ شي-

سړے کۀ ډېر ناتوګلے وۀ خو د اخلاقو په کتارۍ ئې ځټ مات شۀ او سر ئې د شرمه ګرېوان ته پرېوت-

# شګفته ګلونه:

امام صاحبؒ ډېر ثقه او سنجیده سړے وۀ- خبرې به ئې لږې کولې خو د سوال جواب به ئې داسې په وضاحت او صفائې ورکولو چې سائل به بنۀ مطمئن شۀ-

کله کله به ئې د ذهن په آئینه د شوخۍ پلوشې رابنکاره شوې- د ذهانت کلۍ به ئې شګفته شوې- د ذهن شوخۍ به ئې د ظرافت رنګ اختیار کړۀ- یو ورځ ورله نائي سر سنت کول نو امام صاحبؒ ورته ووې چې دا سپین وېښتۀ راله سم د وېخه راوباسه- نائي ورته وې چې صاحبه دا قاعده ده چې وېښتۀ په شوکېدو لا ډېرېږي- امام صاحبؒ ورته فوراً وفرمائیل چې هرکله دا قاعده ده نو بیا خو دا تور وېښتۀ وباسه چې بنۀ ګور شي-

# فاروقي لته:

د امام صاحبؒ په کوڅه کښې يو ښيا وسېدۀ چې پوخ شيعه وۀ- د هغۀ يو دوه قچرې وې يو له ئې ابوبکر او بل له ئې عمر نوم ايښے وۀ- چرته د بدو ورله يو قچر داسې بده لته ورکړه چې سر ئې مات شۀ او سړے ئې د بلې دنيا سېل ته ولېږۀ-

چې امام صاحبؒ خبر شۀ نو وې وئيل چې تاسو وګورئ هم هغه قچر به لته ورکړې وي کوم ته چې به هغۀ عمر وې- چې پته ولګېده نو په رښتيا فاروقي لته ئې خوړلې وه[1]-

# عقابي نظر:

د امام صاحبؒ د علم شهباز به د علم په بلندو څانګونه وهل خو نظر ئې دومره تېز وۀ چې د باريکې نه باريکې نکتې ته به د سترګو په رپ کښې رسېدۀ- حضرت امام رازيؒ په تفسير کښې ليکي چې يو ورځ په کوفه کښې د يوې ښځې خپل خاوند سره جنګ شۀ، سړي په غصه کښې سوګند پورته کړۀ چې ترڅو دې ماسره خبرې نۀ وې کړې زۀ به درباندې خُلۀ ابته نۀ کړم"

ښځه هم د چا نه کمه نۀ وه هغې ورته سمدستي جواب ورکړۀ چې ترڅو تا ابتدا نۀ وي کړې زۀ به درسره خُلۀ ګډه نۀ کړم

---

[1]: دا حکايت د شيخ عبدالرحمن المنصوري په کتاب نزهته المجالس" جزو ۲، ص: ۱۶۱ هم شته او د امام ابوحنيفهؒ نه ئې په لفظ قال نقل کړے دے-

او په دغه لحظه ئې شونډې راپيرچې کړې- لکه چې پخوا زمانه کښې بوډا او بوډۍ ايسکې بيسکې اچولې وو- هرکله چې د غصې لېونتوب ئې ختم شۀ او د هوش ډيوه ئې بله شوه نو دواړه په خپل حماقت پښېمانه شو- سړے نېغ سفيان ثوريؒ له لاړۀ هغۀ ورته ووې چې کفاره ادا کړه نو غاړه به دې خلاصه شي- سړے مايوسه غوندې شۀ امام صاحبؒ له راغے- چې قيصه ئې ورته تېره کړه نو امام صاحبؒ ورته ووې چې ځه ښځې سره خبرې کوه په تا هيڅ کفاره نشته- امام ثوريؒ چې خبر شۀ نو دغه دے چې امام صاحبؒ پسې راغے- وې "تۀ خلقو ته غلطې مسئلې بيانوې"- امام صاحبؒ بيا هغه سړے راوغوښتۀ وې قيصه تېره کړه- سړي بيس په بيس واقعه واوروله نو امام صاحبؒ سفيان ثوريؒ ته وفرمائيل چې زما فتوٰى صحيح ده- هرکله چې ښځې مېړۀ له سمدستي جواب ورکړۀ نو شرط پوره شۀ او قسم مات شۀ- امام ثوري وخندل وې "رښتيا خبره دا ده چې ستا نظر په کوم ځائے لګې هلته زمونږ سترګې نۀ رسي"-

## بې کينې خلق:

علامه ابن حجرؒ مکي وائي چې حضرت امام شافعيؒ صاحب يو ځل کوفې ته تلے وۀ نو د امام صاحبؒ د روضې زيارت ئې هم وکړۀ- هلته ئې دوه رکعته ثوابي مونځ کولو خو د مانځۀ په

دوران کښې ئې د خپل عام مسلک مطابق رفع یدین ونۀ کړۀ- چا ورته یادګېرنه وکړه نو هغوي ورته وفرمائیل چې "ما له د امام صاحبؒ نه حیا راغله"[1]-

خبره دا وه چې امام صاحبؒ په مانځۀ کښې هر وخت غوړونو له د ګوتو ور وړلو قائل نۀ وۀ- د هغوي تحقیق دا وۀ چې رفع یدین د نبي علیه السلام طریقه نۀ ده- بل طرف ته امام شافعيؒ صاحب دې نتیجې ته رسېدلے وۀ چې رفع یدین مسنونه طریقه ده-

د یو بې غرضه محقق شان دا دے چې هغه به د خپل سره ودانګي، د لویو لویو جابرانو سره به د یوې یوې نکتې د پاره ډغرې ووهي، وینه به توې کړي خو د خپل ثابت کړي موقف نه به یو سپق اخوا دې خوا نۀ شي- یو مفروضه چې د تحقیق په کسوټۍ ووهلې شي نو هغه د محقق عقیده او ایمان شي- او ایمان دومره پوخ زنځیر دے چې په هره قبنچۍ ئې ځوک پرې کولې نۀ شي- ولې د استاذ مقام دومره اوچت دے چې د لویو لویو خلقو سرونه په دغه محراب کښې ټیټ شي- امام صاحبؒ خو د امام شافعيؒ د استاذانو استاذ وۀ، په دې وجه هغۀ د ادب لمن نۀ شوه پرېښودې او په خپل معمول کښې ئې د یوځو لحظو د پاره فرق راوستۀ- ځومره بې کینې، بې خیري او پاک بنیادم وۀ-

---

[1]: الخیرات الحسان، ص:۵

## سپين باز:

امام صاحبؒ د حق په معامله کښې ډېر بې باکه وۀ کله چې به د کوفې عدالتونو غلطه فېصله وکړه او امام صاحبؒ به خبر شۀ نو هغوي به پرې په واضحه الفاظو کښې تنقيد وکړۀ- يو وار پرې د کوفې مشهور قاضي شُريک خليفه ته شکايت کړے وۀ نو ډېرې مودې پورې ئې وربانديې دا پابندي اېښې وه چې فتوې به نۀ ورکوې- په دغه ورځو کښې امام صاحبؒ د حکومت د حکم دومره خيال وساتۀ چې خپلې لور ته به ئې هم د مسئلې جواب نۀ ورکولو- کله چې د پابندئ ورځې تېرې شوې نو امام صاحبؒ د خپل معمول مطابق بيا د فتوو ورکولو کار ته لاس واچولو- او چې په حق وېنا به راغے نو دا فکر به ئې نۀ کوۀ چې انجام به ئې خوږ وي او کۀ تريخ- هغوي به په دې چل د قرآن او سنت منشا دنيا ته ښکاره کوله-

قاضي، کوتوال او نورو سرکاري خلقو به د هغوي د بدنامولو په غرض ډېر خطرناک او نازيبا حرکتونه هم وکړل- وائي چې يوه ورځ د بغداد قاضي د خپلو يارانو په صلاح مشوره د ښار يوه ډمه (کچنئ) ولمسوله چې امام صاحبؒ په څۀ چل د شپې کور ته راولي- هغه لاړه امام صاحبؒ ته ئې مکر سکر جوړ کړۀ، په سر مخ ئې راکېښودل چې غرقه شوم تالا شوم، کور مې وران شۀ، د مېړۀ مې ځنکدن دے- په خدا ے به شي او په تا به شي راشه چې

کلمه شهادت ورته ووايې چې ساه ئې په قلاره وخېژي او اخره خاتمه ئې ښه شي- امام صاحبؒ په خپل ګوګل کښې د يو مسلمان زړۀ لرۀ- ترس ئې راغے او سم دم ورسره روان شۀ- د بغداد په لارو کوڅو کښې تلو تلو ان چې د کچنۍ محلې ته ورسېدۀ- هلته ورته د قاضي صاحب پوليسان د وخته ښۀ تيار ولاړ وو، هغوي وې چې ماموته بيا دې موته"-

امام صاحبؒ ئې سره د ډمې حوالات ته ورسوۀ چې سبا له به ئې په عدالت کښې پېش کړي او په دې چل به ئې کور په بهر بدنام کړي-

شپې چې خپلې تورې تورې زلفې په اوږو راخورې کړې نو د امام صاحبؒ زړۀ وتخنېدۀ، راپاڅېدۀ او په عبادت کښې مشغول شۀ-

ډمه هم اخر مسلمانه وه چې د امام صاحبؒ زهد او تقوٰی ته ئې وکتل نو د زړۀ سترګې ئې وغړېدې، په زړۀ ئې د رحم اوبۀ توې شوې او د پښېمانۍ اوښکو ئې د سترګو باڼۀ لامدۀ کړل-

د خداے پاک کارونه وو چې د امام صاحبؒ خپله ښځه خبر شوه، شپه په شپه راغله د ملاقات اجازت ئې وغوښت او حوالات ته ورننوته-

دې وخت کښې د ډمې ذهن ته يو عجيبه خيال راغے راپاڅېده د امام صاحبؒ بي بي سره ئې غور غور پس پس وکړل- بيا دواړه يو طرف ته شوې او يو بل سره ئې جامې بدلې کړې- اوس نو د امام صاحبؒ بي بي دننه پاتې شوه او ډمه بهر لاړه- سبا

چې نمر خیره ووهله، پولیسان راغلل دواړه ئې قاضي له ورسؤل او هغهٔ مجبوراً ښهٔ په عزت او احترام بري کړل- امام صاحبؒ خو سپین باز وهٔ البته چل ولیان خدا ے پاک ته مخ تورن شو-[1]

## جواب کهٔ څپیړه:

امام صاحبؒ به د خپل ژوند په وړومبني دور کښې په مناظرو او بحثونو کښې ډېره حصه اخسته- حریف کهٔ به هرڅو لوے پهلوان وهٔ خو دوي به داسې په خُلهٔ څپېړه ورکړه چې بیا به ئې هډو د خبرې کولو جرات نهٔ شهٔ کولے- د بغداد کوتوال حمید طوسي وائي چې یو ځل د خلیفه منصور په ځاے کښې ښاغلے ربیع (حاجب) او امام صاحبؒ دواړه ناست وو- ربیع د امام صاحبؒ نه تپوس وکړهٔ:

ربیع: کله کله خلیفه مونږ ته د چا د قتل حکم راکړي او مونږ ته د مقدمې هېڅ پته نهٔ وي تهٔ دې سزا ته ظالمانه وایې او کهٔ منصفانه؟

امام صاحبؒ: ستا په خیال د خلیفه حکم منصفانه وي او کهٔ ظالمانه؟

(او په ربیع سترګې تورې تورې شوې)

ربیع: منصفانه

---

[1]: چراغ راه، اسلامی قانون نمبر ج:۱، ص ۳۹۳، بحواله موفق ج:۱، ص:۱۷-۱۹

امام صاحبؒ: نو د منصفانه احکامو تعمیل فوراً کوه په دې کښې ثواب دے-[1]

## توره ډال:

حضرت امام رازي صاحبؒ په تفسیر کبیر کښې لیکي چې یو ځل ربیع خلیفه منصور ته ووې چې امام صاحبؒ ستا د جد امجد جناب ابن عباس دې خبرې سره په ترس دے چې د سوګند پورته کولو نه پس یوه یا دوه ورځې وروستو کۀ څوک انشا الله ووائي نو قسم ئې مات دے-

امام ابوحنیفهؒ د هغۀ په زړۀ پوهـ وۀ چې دې د چل په تېره توره زما څټ وهلو ته غل دے- فوراً ئې لکه د یو باتور جنګیالي خپل ډال ورمخکښې کړۀ، خلیفه ته ئې مخ واړوۀ-

امام صاحبؒ: د ربیع خیال دے چې د بیعت کولو نه پس په خلقو ستا هیڅ حق نشته-

منصور: څۀ رنګ؟

امام صاحبؒ: دې وائي چې خلق ستا په لاس بیعت وکړي یعني د وفا سوګند وخوري او کور ته لاړ شي نو انشاالله ووائي او غاړه ئې خلاصه شي-

---

[1]: چراغ راه، اسلامی قانون نمبر ج:۱، ص ۳۹۳، بحواله حمیدي ورق:۵۰

(د ربیع رنګ زیړ وتښتېدهٔ، ګڼي ګوله شهٔ او هېڅ جواب ترې جوړ نهٔ شهٔ)

منصور په خندا شهٔ او ورته ئې ووې چې "ربیعه ابوحنیفهٔ مهٔ چېړه"۔

کله چې ربیع او امام صاحبؒ رارخصت شو نو ربیع د امام صاحبؒ نه ګیله وکړه چې "یا اباحنیفه سعیت في دمي"

(ابوحنیفهٔ تا خو زما د مرګ اراده کړې وه)

امام صاحبؒ ورته ووې داسې نهٔ ده "کُنت البادي وَ اناالدافع"[1]

تا سر کېښود او ما خو صرف ځان وساتهٔ۔

## عشق:

حضرت امام صاحبؒ په قرآن مئین وهٔ۔ د امام صاحبؒ په ټولو مناقبو کښې دا خبره ښه په شد و مد ذکر شوې ده چې هغوي به په ورځ او شپه کښې یو ځل د قرآن پاک ختم خامخا کولو۔ کله چې د فقهې مسئلو په استنباط او استخراج کښې ډېر مشغول شهٔ نو بیا به ئې هم کم از کم په درېمه ورځ یو ځل ختم کوهٔ[2]۔ ابوبحر معتصمي وائي چې زهٔ درې ورځې د هغوي په ګاونډ کښې

---

[1]: تفسیر کبیر، ج:۱، ص:۲۷۶، (مطبع الخیریه مصر ۱۳۰۷ھ)

[2]: چراغ راه، اسلامی قانون نمبر ج:۱، ص ۳۹۵، بحواله موفق ج:۱، ص:۲۴۴

پاتې شوم- هغوي به ټوله شپه[1] په مانځهٔ کښې قرآن لوستهٔ- د ورځې به په سبقونو کښې مشغول وهٔ- نهٔ پوهېږم چې خوب او خوراک به ئې څهٔ وخت کولو[2]-

فضيل بن دکين وائي چې يو ځل ئې په مانځهٔ کښې تلاوت کولو چې دې ايت ته راورسېد "فمن الله عَلَينا و وقانا عذاب السموم"

(خدا ے په مونږ احسان وکړهٔ او د دوزخ د عذاب نه ئې وساتلو)

نو دا ايات ئې بيا بيا او بيا بيا لوستهٔ تر دې چې د سبا بانګ ووئيلے شهٔ- او امام صاحبؒ هم د ماسخوتن په اودس د سحر مونځ وکړهٔ-[3]

هغوي به د شپې اکثره حصه د الله تعالیٰ په عبادت کښې تېروله- د اوړي په موسم کښې به ئې د ماسپښين او مازيګر ترمېنځه خوب کوهٔ-

قرآن چې د اسلامي قانون سرچشمه د ے، د امام صاحبؒ په زړهٔ کښې محفوظ پروت وهٔ- چې کله به ئې زړهٔ وشهٔ نو د زړهٔ

---

[1]: اسد بن عمر وائي چې ابو حنيفهؒ به د شپې په مانځهٔ کښې په يو رکعت کښې ټول قرآن ختمولو- هغهٔ زياته کړې ده چې کوم ځا ے د امام وفات شو ے د ے هلته ئې اووهٔ زره واره قرآن ختم کړ ے وهٔ- (امام ابو حنيفهؒ کے ناقدين)

[2]: چراغ راه، اسلامی قانون نمبر ج:۱، ص ۳۹۵، بحواله موفق ج:۱، ص:۲۵۰

[3]: الخيرات الحسان، ص: ۳۴،دا روايت خطيب بغدادي د زائده نه هم نقل کړ ے د ے (امام ابو حنیفہؒ کے ناقدین، از شروانی، ص:۳۸)

سیپاره به ئې راوغوړوله او د قرآن تلاوت به ئې شورو کړهٔ- هغوي به د قرآن په هره خبره په ګېنتهو ګېنتهو غور کوهٔ او د هغې وېخ ته به ئې ځان رسوهٔ-

## د ګاونډي خیال:

امام صاحبؒ به د ګاونډیانو ډېر خیال ساتهٔ- په دې سلسله کښې د هغوي د نېکۍ او احسان جام د هر ترږي د پاره د اب حیات چینه وه- د نېکانو او پاکانو مرسته خو د هغهٔ شغل وهٔ خو په بدانو او ګنهګارو به ئې هم د رحم وکرم پونه وربده- د هغوي په ګاونډ کښې یو مستانه چمیار وسېدهٔ چې بې کچه ډېر رنګین مزاج وهٔ- عېشي سړے وهٔ د شپې به ئې یوځو د چوتي یاران راجمع کړل شراب او کباب به ئې په برېښ ووهل نو بیا به ئې د نشې په حالت کښې کاواکې وئیلے چې "دنیا زما هېڅ قدر ونهٔ کړهٔ، اه زهٔ څهٔ د کار سړے وم"

امام صاحبؒ به د شپې په عبادت کښې مشغول وهٔ د ګاونډي شور شغب او تهپو چاربېتو کهٔ به هر څو د هغوي پاک سپېځلي روح ته اذیت رسوهٔ خو د خپلې خوش اخلاقۍ او تحمل د کبله به هغوي دا هرڅهٔ په روڼ تندي زغمل- چرې ئې په دغه چمیار غم غرض نهٔ لرهٔ- یوه ورځ چرته د بدو د ښار کوتهوال راغے او اشنا ئې نېغ جېل خانې ته ورسوهٔ چې د بد مستانو د علاج ځاے دے-

# بل گورنر:

امام صاحبؒ چې د شپې د خپل ګاونډي برېونګ وانهٔ ورېدهٔ نو د ګاونډي فکر ئې مل شهٔ- چا ورته حال ووې چې يار خو د سرکار په کور مېلمه شوے دے- امام صاحبؒ فوراً جامې بدلې کړې او د ګورنر دربار ته لاړهٔ- په دغه ورځو کښې عيسٰی بن موسٰی د کوفې ګورنر وهٔ- دا نېک او هوښيار سړے د منصور ورارهٔ وهٔ چې د خپلو سپېځلو اوصافو د پاره په خپله کورنۍ کښې ياد وهٔ- هغه چې د امام صاحبؒ د راتګ نه خبر شهٔ نو خپل درباريان ئې د هغوي استقبال له ولېږل- د امام صاحبؒ سوَرلي چې نزدې راغله نو ګورنر ورته د ډېر ادب نه ودرېدهٔ- ورته ئې ووې چې حضرت تاسو ولې تکلف وکړهٔ ماته به مو خبر کړے وهٔ زهٔ به په خپله حاضر شوے وم-

امام صاحبؒ ورته ووې چې زما يو ګاونډي بېګاه کوتوال نيولے دے- د هغهٔ ضمانت له راغلے يم- ګورنر هغه دم د چميار د رهائې حکم وکړهٔ- امام صاحبؒ چې هغه ځان سره راروان کړهٔ نو په لاره ئې ترې نه تپوس وکړهٔ چې "څنګه مونږ خو ستا قدر وهٔ کړهٔ کنه" هغهٔ ته خپلې کاواکې رايادې شوې، په خپل عمل ئې د ستومانۍ اظهار وکړهٔ او د بدو چارو نه توبه ګار شهٔ- د دې نه پس به د امام صاحب په درس کښې شاملېدهٔ-[1]

---

[1]: الخيرات الحسان، ص: ۵۳

## زهد او تقویٰ:

ښاغلے وقیع وائي چې ما هیڅ عالم د ابوحنیفهؒ نه زیات فقیهه او مونځ ګوزار نۀ دے لیدلے[1]۔

یحیٰ بن قطان وائي چې "ما چې به کله امام[2] صاحبؒ ته وکتل نو زۀ به پوهه شوم چې:

اَنّه یَتّقی الله عزّ و جلّ

د هغۀ په زړۀ کښې د لوے خدائے ویره پرته ده

د امام صاحبؒ د تقویٰ دارۍ قیصې تراوسه پورې د اهل علمو په مجلسونو کښې د عبرت د پاره کیږي۔ بعضې عقیدت مندانو خو په دې ضمن کښې د مبالغې نه هم کار اخستے دے لکه یو روایت دے چې "د کوفې په نهر کښې یو څل مرداره غوښه وغورځېده نو بیا امام صاحبؒ په مودو مودو د مهي غوښه نۀ غوړه چې پلیته ده"۔

خو کۀ دا رنګ مبالغې مونږ لرې راغونډې کړو، د اسلامي تقویٰ په معیار ئې وتلو، د عقل په میزان ئې تول پارسنګ وکړو نو دا حقیقت به راته واضح شي چې امام صاحبؒ ډیر پاک او نیک سړے وۀ۔

---

[1]: ترجمان السنته ص:۲۳۱ و الخیرات الحسان، ص:۳۱

[2]: الخیرات الحسان، ص: ۳۵

ابراهیم بصري وائي چې یو ځل د سحر په مونځ کښې د مانځۀ امام دا ایت ولوستۀ وَلَا تَحۡسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلاً عَمَّا یَعۡمَلُ الظّٰلِمُوۡنَ (تاسو الله تعالٰی د ظالمانو د عمله غافل مۀ ګڼئ)

امام صاحبؒ چې د خدائے تنبیه واورېده نو د خدائے تعالٰی د ویرې نه پرې داسې رپېدونکے راغے چې ډېر ساعت بې کوره وۀ-

## خدائي نعره:

یوه ورځ امام صاحبؒ په بازار کښې روان وۀ، ګڼه ګوڼه وه، ناڅاپه ئې د یو هلک د ښې د پاسه پښه کېښوده- ورُوکي چغه کړه "د خدائے نه وویرېږئ" دا نعره نۀ وه د ګُرز ګوزار وۀ- په امام صاحبؒ غونے زیږ زیږ شۀ او بې خوده راپرېوت- مسعرؒ بن کدام نوم یو لوے عالم ورسره وۀ هغۀ ورله غېږ ورکړه، تلي ئې ورله ومښل چې راپه هوش شي- تر ډېره وخته خدائے رسېدلے امام صاحبؒ سیادله پروت وۀ-

ورونړو دا هغه امام ابوحنیفهؒ دے چې د چا سر منصور غوندې جابر او یزید بن هبیره غوندې غاور حاکم ته د ټیټېدو نه انکار کړے وۀ- هغه امام چې د خپلې حق ګویۍ او حق پسندۍ په جرم کښې ئې د قېد و بند مصیبتونه په ډال تندي زغمل، هغه فولادي انسان چې کروړو ئې د څرمنې نه خوَر جدا کړۀ خو دۀ وش

قدر له هم ونۀ کړۀ- د هغۀ د تقویٰ دا حال وۀ چې د خدا ے ایتونه به ئې واورېدل نو ایمان به ئې تازه شۀ، چې د انسان کمزورو او کوتاهو ته به ئې فکر لاړۀ نو رپېدونکے او بې هوشي به پرې راغله-

وَاَمّا مَن خَافَ مَقَامَ ربّه و نهی النفس عَنِ الهَویٰO فَاِنَّ الجَنَّةَ هِیَ المَاویٰO

# ملغلري

## ملغلرې:

د امام صاحبؒ خبرې به ډېرې خوږې او د معنیو نه ډکې وې- هغوي به د علم و ادب او د عقل و دانش بې بها ملغلرې نوستې، چې پوهان او عاقلان ترې د غاړې امېلونه جوړ کړي- وائي:

1. کوم سړے چې علم د ګناهونو او بې حیایۍ نه ونۀ ساتي نو د هغۀ نه زیات په خساره کښې بل څوک د ے-
2. کۀ عالمان د خدا ے دوستان نۀ وي نو بیا په دنیا کښې هډو د خدا ے دوست نشته
3. څوک چې علم د دنیا په خاطر زده کوي نو علم د هغۀ په زړۀ کښې کور نۀ نیسي-
4. څوک چې علمي مذاق نۀ لري هغۀ سره د علم خبرې مۀ کوه-
5. عامو خلقو سره مناظرې ښۀ کار نۀ د ے-
6. شاګردانو سره داسې سلوک ساته چې خلق پرې ستا د اولاد ګمان وکړي-
7. په فقیرۍ کښې د استغنا شان قایم ساته-
8. څوک چې په شریعت کښې د بدعت سر ږدي د هغۀ په ډاګه خلاف کوه-
9. چې بانګ واورې نو فوراً د مانځۀ تیار ے کوه-
10. د راتلونکي مصیبت د پاره د مخکښې نه اسباب تیارول پکار دي-

11. د ټولو نه لوے عبادت ایمان او د ټولو نه لوے معصیت کفر دے۔
12. د ګاونډي په عیب پرده اچوه۔
13. چې څوک درنه تپوس وکړي نو د سوال جواب ورکړه او د ځانه ورسره اضافه مهٔ کوه۔
14. هر کار په اطمینان او په وقار کوه

## ائینه:

غرض د امام صاحبؒ د ژوند حالات، د هغوي علمي ذوق، د هغوي بې دریغه قربانۍ، د هغوي بې داغه عمل او د هغوي قیمتي مشورې زمونږ د هدایت او رهنمایۍ د پاره د لارې مشالونه دي۔

هغه امامؒ د چا د مذهب تقلید چې مونږ عقیدتاً په ځان فرض کړے دے، د چا فکري اجتهاد نه چې مونږ تر اوسه فائدې اخلو، د چا علمي خدمات چې تر ننه زمونږ د قلبي اطمینان او روحاني جِلا موجب ثابتېږي، پکار دي چې د هغوي د عملي ژوند په ائینه کښې مونږ د خپل کردار او عمل عکسونه وګورو۔ د هغوي د مبارکو پښو په خاپونو قدم کېږدو چې د انسانیت معراج ته زر تر زره ورسو او دین دنیا دواړه مو ښائسته شي۔

## د زړۀ اواز:

په اخره کښې زۀ ښاغليو لوستونکيو ته دومره قدر له عرض کوم چې اسلام د هغې صراط مستقيم نوم دے چې په هغې کښې د هيڅ قسم کږليچ او خنډوخار ګنجائش نشته- دا يو داسې دين دے چې خپل تابعداران - - - - - - د اتحاد ، اتفاق او ورورولۍ په داسې فولادي مزي کښې تړي چې بيا د کرکې، نفرت او ډلو پرو جذبات د دوي جمعيت نۀ شي تار په تار کولے- د علماؤ او محققينو اختلاف په نيک نيتۍ محمول وۀ-

د علم په ډګر چې څوک د جوش و جنون په مهميزونو د خيال او فکر اسونه ځغلوي، نو دا يو تاريخي حقيقت دے چې ډېر ګزاره بنده د ثريّا نه ثرٰی ته راولوېږي- په اجتهادي مسئلو کښې غلطۍ هم کېږي خو دا ضروري نۀ ده چې دا ټولې دې موجب د کفر وي-

هم دغه وجه ده چې لويو لويو امامانو به د يو بل قدر، عزت او احترام کولو- د يو بل د پاره به ئې د مغفرت دعاګانې غوښتې- يو بل سره به ئې مالي امدادونه کول، په يو بل به ئې سودونه او پېرزوئينې کولې- دا ځکه چې دوي ټول د يوې شمعې پتنګان وو، د يو مرکز نه ګېر چاپېره چورلېدل- په هغوي کښې هيڅ فرق او امتياز نۀ وۀ-

دا څلور واړه مذهبه سره يو دي
ما او تا په کښې پېدا کړۀ اختلاف

رحمان بابا

خدا ے پاک دې مسلمانانو کښې د اتفاق، اتحاد او وروروليۍ خوږې جذبې راپيدا کړي، چې هم دې کښې د اسلام سرخروئي ده۔

حقه دا ده چې د ژوند په ټولو امورو کښې الله او د هغهٔ د رسولﷺ ته رجوع اتحاد راولي۔ دا طرزِ عمل اختلافات او تنازعات ختم کړي۔ فکري وحدت هم په دې طريقه پيدا کيږي۔ د شريعت اصول او د شريعت فروع د اختلافاتو نه پاک دي الله تعالیٰ فرمائي:

وان هذا صراطی مستقيماً فاتّبعوا (سورة الانعام ايت ۱۵۳)

(تمت بعون الله)

اسرار الرحمٰن (اسرار د طورو)

30/11/2020 د ګل ورځ

بِسمِ اللہ الرّحمٰن الرّحیم

# "امام اعظمؒ"
## د محترم اسرار د طورو ورړومبې تصنيف

### طورو:

د مندڼ يوسفزيو علاقه (صوابۍ مردان) کښې ټوپۍ، زېده، هوتي او طورو، د يوسفزيو مشرانو د ګدۍ ځايونه دي- طورو، شهامت پور ته يو خاص شرف دا حاصل دے چې دا د ديني علومو مرکز وۀ نو ګړده پښتونخوا او د هندوستان، افغانستان، علمي ښارونو کښې په "دويم بخارا" (بخارائے ثاني) مشهور وۀ- ځکه چې دلته په يو وخت دېرش دېرش، څلوېښت څلوېښت د فقهې، تفسير او احاديثو، ديني علومو، طب و حکمت ډک پک عالمان موجود وو- د اما کما نه به د علم و حکمت تږي طورو ته راتلل- د عرفان په چينو به ئې تنده ماتوله او د طلب جولۍ به ئې د پوهې او دانش د ملغلرو نه ډکولې-

### خاوو باباؒ:

طورو کښې د سوونو کالو راسې د "حسني ساداتو" يوه کورنۍ مېشته ده چې ديني او روحاني علومو په برکت ئې يوسفزيو کښې يو مرکزي اهميت وۀ- د دې کورنۍ مورث اعلیٰ

نورالعلماء شيخ نورمحمد المعروف اخوند یونسؒ ګیلاني خاوو بابا دے- قادري، چشتي، نقش بندي، سهروردي، د طورو خاوو کلي خپله هديره کښې مدفون دي- دا لوے عالم او روحاني پيشوا اخوند یونسؒ ګیلاني (۹۸۹ھ ــ ۱۰۵۹ھ) د خپل وخت مشهور روحاني پيشوا اخون پنجو باباؒ، حضرت شيخ عبدالوهاب اکبرپوره (۹۲۷ھ ــ ۱۰۴۰ھ) ماذون، خليفه او زُوم وۀ- او د نسب سلسله ئې حضرت سيدنا غوث الاعظم محبوب سبحاني، شيخ عبدالقادر جيلانيؒ (متوفي۵۶۲ ھ) ته يوولسم پشت کښې رسيدلې ده چې حسني سيد دے-

## مولانا سيد حافظ حفيظؒ الله:

نولسمه صدئ عيسوئ کښې د حسني ساداتو کورنئ کښې ممتاز صوفي عالم مولانا سيد حافظ حفيظؒ الله (متوفي ۱۳۰۷ھ) تېر شوے دے چې د حکمت او معرفت يوه تانده ښېرازه، ګوره ونه وه- د دۀ پينځۀ واړه زامن مولانا محمد اسحاقؒ، مولانا محمد اسماعيلؒ، مولانا محمد اسرائيلؒ شهيد، مولانا حافظ محمد عبدالجميلؒ او مولانا حافظ محمد عبدالجليل د دغه ونې څانګې وې چې د علومو او فنونو د مېوو او ګلونو نه ډکې برجقې وې- دغسې د مولانا محمد اسحاق زوے مولانا سيد امين الحق خطيب جامع مسجد شېخو پوره فاضل ديوبند او د پنجاب پخوانے صوبائي خطيب، د مولانا محمد اسماعيل زوے

مولانا حافظ لطف الرحمٰن فاضل دیوبند (هدهدسلیماني) خطیب معلم کنجاب (ماریشس)، دویم زوے حافظ قاري مولانا فیض الرحمٰن صاحب، د مولانا محمد اسرائیل مشر زوے مولانا محمد امینؒ خوړیانے (سابق معین عدلیه او سناتور افغانستان- د مولانا حافظ محمد عبدالجمیل درې زامن، مولانا حافظ محمد لطفؒ الله، مولانا محمد عنایتؒ الله او مولانا حافظ محمد امانتؒ الله او د مولانا حافظ عبدالجلیل مشر زوے مولانا حافظ عبدالنبي صاحب فاضل دیوبند، دا ټول درانهٔ عالمان، حافظان، خطیبان او مدرسان وو-

## مولانامحمد عنایت الله:

د پینځویشتوکالو په عمرکښې د مدرسه جمعیت الابرار ۱۹۳۵ء باني مدرس اوخطیب مهتمم دغه مهال کښې د اکوړې شیخ الحدیث مولاناعبدالحق صاحب استاد د دارالعلوم جامعه اسلامیه اکوړه خټک ناظم تعلیمات، او د افغانستان د حزب اسلامي مشر مولانا محمد یونس خالص هم د مولانا عنایت الله صاحب شاګرد وهٔ- مولانا خالص صاحب چې کله پېښور کښې مېشته وهٔ نو څو څو ځله طورو ته د خپل استاد ملاقات له راغلے وهٔ محترم اسرار الرحمن صاحب د طورو پلار وو کوم څو ګرځولے وهٔ او د جمعیت الابرار مرکز د خل خپل جومات ته چې لاړهٔ نو وئې ژړل-

## اسرار د طورو:

سید اسرارالرحمٰن (اسرار د طورو) د بحرالعلوم مولانا حافظ سیدمحمد عبدالجمیلؒ نمسے او د مولانامحمد عنایتؒ الله (۲جنوري ۱۹۱۰ء۔ ۲۴ جون ۱۹۹۵ء) مشر زوے دے(د لیکونکي مشتاق الرحمٰن مشر ورور دے)- د اسرار صاحب د پېدائش نېټه ۱۵ستمبر ۱۹۳۹ء ده- (ایم اې اردو،بي ایډ ، پښتو آنرز) د ملازمت موده ئې د تعلیمي ماهر او هائیرسېکنډري سکول د پرنسپل په توګه سرته رسولې ده- درې زامن او یوه لُور ئې د اعلیٰ تعلیم په کالیو ښائسته دي- او ټول د بال بچ خاوندان دي-

---

سیداسرارالرحمٰن اسرار د خپل پلار مولانا محمد عنایت الله صاحب او مشر ماماجي مولانا حافظ لطف الرحمٰن نه د دیني علومو زدکړه کړې ده- مولانا حافظ محمد ادریس ئې د عربۍ استاذ وۀ- له دې کبله اوس په خپله یو فصیح البیان خطیب دے- کله چې د دوي سخر متقي عالم، روحاني بزرګ او د هوتي فردوس خان جومات خطیب قاضي نورالرحمٰن وفات شۀ نو د هغوي عقیدت مندانو شاګردانو او مقتدیانو په یو اتفاق د مشرۍ دستار اسرار صاحب ته په سر کېښودۀ- د خپل سرکاري ملازمت سره ئې څۀ موده د فردوس خان جومات (هوتي) کښې د خطابت فرائض هم ترسره کړي وو- د جومات او خواوشا بازار خلق

پرې ډېر خوشحاله وو- ترڅو چې ئې دغه سلسله جاري ساتلې وه، د فردوس خان جومات مقتديانو ئې مننه کوله-

---

محترم اسرار د طورو صاحب طرز اديب او شاعر دے- اردو کښې ئې هم وخت په وخت علمي، ادبي مقالې ليکلې دي-

د اسرار صاحب مطبوعه کتابونو کښې "امام اعظمؒ "، "د حرمېنو سفر"، "زما کتاب" (د ماشومانو د پاره منظومې قيصې)، "د قرآن پاک د ايتونو شمېر"، "ادبي هڅې يو ژوندے تصوير"، "د کابل سفر"، "لاله زار د پرهرونو" (شعري مجموعه)، "ختم المرسلينﷺ" (نعتيه کلام) وغېره شامل دي-

## امام اعظمؒ:

امام اعظمؒ د محترم وروور اسرار صاحب وړومبنے تصنيف دے چې د شپږيشت کالو په عمر کښې ئې ليکلے دے- دا د اسلامي فقهې باني حضرت نعمانؒ بن ثابت (چې د حضرت امام ابوحنيفهؒ او امام اعظمؒ په درنو نامو مشهور دے) د ژوند او شخصيت په حقله يوه علمي مقاله ده- چې د يونيورستي بک ايجنسي خېبربازار پېښور مالک مولانا عبدالمنان صاحب مرحوم ورته په کال ۱۹۶۵ء کښې کتابي شکل ورکړۀ او د طباعت په کاليو ئې ښائسته کړۀ-

---

په تاریخي حوالو مزیّن او شګفته نثر کښې لیکلے دا کتاب چې د ځومره پښتو مئینو او علم دوسته پوهانو لاس ته رسېدلے وۀ، هغوي خوښ کړے او ستائیلے وۀ- دغو کښې د مردان پښتو ادبي جرګې ستر ادیبان، شاعران، د پښتو اکادمۍ باني ډائرېکټر مولانا عبدالقادر مرحوم، مولانا سید ګل بادشاه صاحب امیر جمیعته العلماء سرحد، مولانا فضل معبود، امیرباچا بخاري، صاحبزاده رازق نور او محترم ایوب صابر هم دا کتاب په سپېڅلو تبصرو نمانځلے وۀ- د پښتو اکېډیمي مشر مولانا عبدالقادر صاحب او ډاکټر مطیع الله ناشاد اسرار د طورو ته په ۱۹۶۶ء کښې د یو ملاقات په موقع د دې کتاب تعریف کړے وۀ- مولانا ووئیل طورو د علم بخارا دے- "ګلابه! کله کله اکېډیمي ته راځه"-

## انتساب:

د امام اعظمؒ انتساب اسرار صاحب د "هدهد سلېماني" په نوم کړے دے- د طورو متبحر او متقي عالم مولانا حافظ لطف الرحمٰن دارالعلوم دیوبند کښې د مولانا سید انورشاه کشمیري په خاص شاګردانو کښې وۀ- شاه صاحب کشمیري به چې د احادیثو درس ورکوۀ او د ایت ضرورت به پېښ شۀ نو زلمي شاګرد ته به یې وکتل، د استاد د نظر په یوه اشاره به زلمي مولانا د قرآن پاک ایتونه فرفر ولوستل- یوه ورځ درس کښې حاضر نۀ

وۀ، یا په څۀ وجه ایسار شوے وۀ، شاه صاحب حسب عادت د قرآني ایت ضرورت محسوس کړۀ خو د جواب ورکولو د پاره ځوک نۀ وو- په دغه موقعه د مولانا سید انورشاه کشمیري د خُلې نه دا جمله ووتله "څۀ شۀ هغه زمونږ هد هد سلېماني"-

وروستو چې مولانا صاحب ته د درس ملګرو د شاه صاحب دا جمله ورسؤله نو ډېر زیات خوشحاله شۀ او ټول عمر به ئې دغه جمله د ځان د پاره لوے اعزاز او خطاب ګڼلو

فی الجملہ نسبتے بتو کافی بود مرا
بلبل ہمیں کہ قافیہ گل شود مرا

سریزه:

د اسرار صاحب زیات خواهش وۀ چې د "امام اعظمؒ" سریزه به نامتو عالم، ادیب او خطیب مولانا حافظ محمد ادریسؒ لیکي- حافظ صاحب دغو ورځو کښې د پېښور پوهنتون عربۍ څانګې سر مشر (چئیرمېن) وۀ- هغوي د پوهنتون له طرفه د مصر جامعه ازهر ته په دې مقصد تلو چې د عربۍ ژبې د خپرونې د پاره جدید معلومات راوړي او د پښتونخوا تعلیمي ادارو کښې د عربۍ ژبې ښودنې ته دوام ورکړے شي- خو قدرت ته بل څۀ منظوره وه، په ۲۰مئي ۱۹۶۵ء سحر وختي چې د پي ائي اې افتتاحي پرواز قاهرې ته نزدې ورسېد____ نو یو درز سره ښکته وغورځېدۀ ___ او څو لحظو کښې ___ د اور لمبو هرڅۀ ایره ایره کړل- د جهاز د عملې سره یوسل یویشت مسافر داسې سوي کسکر

شول چې لا شونه ئې نۀ شو پېژندلے- شپږ کسان په کښې په شمول د "جلال کريمي" معجزانه طور بچ شوي هم وو- جهاز کښې سوارۀ د هندوستان، پاکستان او چين، جاپان نامتو صحافيان او دانشوران وو- دوي افرو ايشيائي کانفرنس کښې شاملېدو د پاره روان وو- د دې دړدناکې حادثې په شهيدانو کښې د پښتونخوا دوه نامتو شخصيات مېجر حياءالدين (د قانته بېګم ورور) او حافظ محمد ادريس زمونږ نه جدا شو- انالله وانا اليه راجعون ط

په ورو ورو لمبې وهه د اجل اوره!
په دې ډله کښې وارث د پېغمبر ځي
چې کشّاف يې په سينه باندې سَپر دے
د مرګي مخې له څنګه دلاور ځي

(اسرار د طورو)

دغسې په کتاب د سريزې ليکلو ارمان هم سوے لوے پاتې شۀ:

زما او ستا چې پرې وعده وه
بېګا په هغه ځاے کښې اور ولګېدنه

تبصره:

زۀ (شفق) په دې کتاب نۀ خو د سريزې ليکلو اهل يم او نۀ د مقدمې وړاندې کولو جوګه ـــ څۀ به سويه وي او څۀ د سويې بارګے- خو کله چې ما د "امام اعظمؒ " د دوېم ځلي اشاعت خبره واورېده ـــ نو د محترم ورور اسرار صاحب نه مې د څۀ ليکلو اجازت وغوښتو- په دې کښې زما دوه مطلبونه دي:

(ا) ما چې کله د مذهبي چارو مرکزي وزارت په مشوره د پي ائي اې د يو کتاب "سوئے حرم" ترجمه کوله نو والد محترم (مولانامحمد عنايتؒ الله د طورو) په ۱۸فروري ۱۹۸۷ء ماته يو خط ليکلے وۀ- هغوي ليکي:

"ستا فکر ښۀ دے- زما يوه خبره وه هېره مې شوه چې ذکر مې درسره کړے وے هغه دا چې د مترجم نوم مفصل ليکل پکار دي- (شفق) ورسره برېکټ بند- او د خپل نسب او باباجي نوم کۀ چرې ورسره وي نو دعا به ورته، اميد دے، مطالعه کوونکے کوي- د اسرارالرحمٰن په کتاب "حضرت امام ابوحنيفهؒ " کښې دا نۀ وۀ-"

والد محترم ليکلي دي:

"په دې طريقه کښې برکات وي- قديم مصنفينو او فقهاء رحمهم الله دغه طريقه غوره ګڼلې وه- د "کنزالدقائق" "شرح وقايه" وغېره کتابونو ديباچو کښې اندراج هغوي کړے دے"

نو يو خو ما د خپل والد صاحب د وصيت او نېکې مشورې مطابق دغه مقصد په څۀ نه څۀ ډول پوره کول غوښتل- او دا راته يوه ښه موقعه ښکاره شوله، چې د خپلو بزرګانو عالمانو روحونه په دې ذکر خوشحاله شي ـــ اوـــ باور مې دے چې خوشحاله شوے به وي- ځکه نو د کتاب د مصنف او د دوي د

ځینو مشرانو څۀ لږ غونډې ذکر او کورني پس منظر په بیانولو زما تسلي وشوه۔

(ب) د تبصرې لیکلو دویم مقصد مې دا دے چې د دې کتاب "امام اعظمؒ" په مرسته کښې به د پښتو ګرانو لوستونکیو سره خپل خیالات شریک کړم۔ او د کتاب ځینو اهمو موضوعاتو ته به د پوهانو پام یو ځل بیا راوګرځولے شم۔

## تابعي:

د حضرت امام ابو حنیفهؒ (امام اعظم نعمانؒ بن ثابت) سوانح نګاران امام صاحبؒ په تبع تابعینو کښې شماري خو د هغوي د زلمي توب په دور کښې ځینې صحابه رضي الله عنهم ژوندي وو۔ د هغوي نومونه کفایت المفتي جلد اول صفحه ۵۹، ۶۰ د ردالمحتار په حواله دا دي: حضرت ابن نفیل، حضرت واثله، حضرت عبدالله بن عامر، حضرت ابن ابي اوفي، حضرت عتبه، حضرت مقداد، حضرت ابن بسر، حضرت سهل بن سعد، حضرت انس، حضرت عبدالرحمان ابن یزید، حضرت محمود بن لبید، حضرت محمود بن الربیع، حضرت ابو اُمامه، حضرت ابو طفیل، حضرت عمرو بن حریث، حضرت عمرو بن سلمه، حضرت ابن عباس او حضرت سهل بن حنیف رضي الله عنهم۔

نو دا روایت هم ثبوت ته رسیږي چې امام ابو حنیفهؒ د تابعیت شرف حاصل کړے وۀ۔ د "سیرة النعمان" مصنف مولانا

## شبلي نعماني د تابعيت په بحث کښې په خپله دا خبره منلې ده چې:

"امام ابوحنيفه بې شکه په دې شرف ناز کولو- او په ځاے ئې کولو چې حضرت انس صحابيؓ ئې په خپلو سترګو ليدلے وۀ"

رېباره راشه چې دې ښکل کړم
تا به په دې سترګو جانان ليدلے وينه

کوم مصنفين چې د امام اعظمؒ د تابعيت نه انکار کوي د هغۀ سبب دا ګڼلے شي چې امام صاحبؒ د چا صحابي نه روايت نۀ دے کړے- او ځيني حنفيان عالمان چې دعوٰی کوي هغه د مولانا شبلي نعماني په خيال ثبوت ته هرګز نۀ رسي- او ـــ ليکي:

"کۀ امام صاحبؒ د صحابه کرامؓ نه يو روايت هم کړے وے نو د ټولو نه اول به د امام صاحبؒ شاګردانو دې ته شهرت ورکولو- ليکن قاضي ابو يوسف امام محمدؒ، حافظ عبدالرزاقؒ، ابن همامؒ عبدالله بن المبارکؒ ـــ ابو نعيم فضل بن وکينؒ مکي بن ابراهيمؒ ـــ ابو عاصم النّبيلؒ وغېره چې د امام صاحب مشهور او با اخلاص شاګردان وو ـــ يو ټکے هم د دې واقعې متعلق نۀ دے نقل کړے-"[1]

علمي تحقيق څۀ په ځاے ولاړ نۀ دے دا جاري عمل دے

---

[1]: سيرة النعمانؒ

چې غوږې پسې وهې په لاس به در شي
چا وئيل چې په درياب کښې ګوهر نشته
خوشحال خان خټک

"العلم والعلماء" د علامه ابن عبدالبرؒ تصنيف دے۔ مولانا عبدالرازق مليح ابادي د دې کتاب اردو ترجمه (جامع بيان العلم) کړې ده په صفحه ۴۵ ليکي:

"د امام ابو يوسفؒ بيان دے چې امام ابوحنيفهؒ فرمائيل ــ زما عمر شپاړس کاله وۀ۔ يو بوډا سړے مې وليدۀ۔ ګڼ خلق تر راتاؤ شوي وو۔ د پلار نه مې تپوس وکړۀ دا بوډا څوک دے؟ هغوي ووې: دا د رسول اللهﷺ صحابيؓ دے۔ د دۀ نوم عبدالله بن جزرؓ دے نو ما ووې ـــ ما هم دۀ له بوځه چې يو حديث ترې واورم ـــ پلار مې ور وړاندې شۀ ـــ خلق ئې يو خوا ته کړل ــ زۀ ــ صحابيؓ ته نزدې ورسېدم ۔ هغۀ وئيل ــ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي:

"چا چې په دين کښې تفقهه (پوهه) حاصله کړه۔ الله تعالىٰ به هغه د رزق د فکر نه داسې بې غمه کړي چې په وهم او ګمان کښې به ئې هم نۀ راځي"

ابو عمرؒ وائي محمد بن سعدؒ واقدي ليکلي دي چې امام ابوحنيفهؒ دوه صحابيانؓ ليدلي وو يو حضرت انسؓ او بل دغه حضرت عبدالله بن جزرؓ۔ کتاب کفايت المفتي جلد اول صفحه ۶۰ ، کښې ليکي چې حضرت امام ابو حنيفهؒ د اتو صحابه کرام

رضي الله عنهم نه روایت نقل کړے دے د دوي نومونه دا دي:
حضرت انس، حضرت جابر، حضرت ابن ابي اوفي، حضرت عامر، حضرت ابن انیس، حضر واثله، حضرت ابن جزر، حضرت عائشه بنت عجرد رضي الله تعالیٰ عنها و عنهم اجمعین۔

## فقه اکبر:

د فقهي شارحین "فقهه اکبر" د امام اعظمؒ تصنیف ګڼي۔ مولانا شبلي نعمانيؒ "سیرة النعمان" کښې په دې بحث کړے دے او دا رایې ښکاره کوي چې د امام ابوحنیفهؒ خپل تصنیفات نشته۔ دلیل دا ورکوي چې د امام صاحبؒ زیات شمېر شاګردانو کښې به خو چا هم د دې نوم اخستے وۀ، او اخر کښې وائي:

> "بې شکه زمونږ ذاتي رایې دا ده چې د امام صاحبؒ یو تصنیف هم نن موجود نشته"

## امام ابن تیمیه:

شیخ الحدیث مولانا سرفرازخان صفدر مرحوم د ګڼ شمېر کتابونو مصنف دے۔ دغو تصنیفاتو کښې "مقام حضرت امام ابوحنیفهؒ" یو علمي تاریخي دستاویز دے۔ دې کښې مولانا سرفرازخان صفدر د مولانا شبلي نعماني د اعتراض په جواب کښې د "تاریخ اهل حدیث" (ص ۶۶) حواله ورکړې ده چې:

"امام ابن تيميه (متوفي ٧٢٨هـ) منهاج السنّه کښې "فقه اکبر" د امام اعظم تصنيف منلے دے"-[1]

شيخ الحديث مولانا سرفرازخان صفدر ليکي:

"د امام صاحب تصانيف املائي تصانيف دي- چې د هغوي لائقو او قابل قدر شاګردانو، مثلاً امام ابويوسف وغيره به د امام صاحبؒ د تعليم او تدريس په وخت ليکل- ځکه چې د هغوي د مجلس شورٰی اجلاس کښې به په يوه مسئله څو څو ورځې غور کېدلو او چې پوره جاج به واخستے شۀ نو بيا به امام صاحبؒ وفرمائيل اوس دا مسئله وليکئ- او د سينې په ځاے ئې سفينه کښې محفوظ کړئ- د امام صاحبؒ دغو املائي کتابونو کښې د اويا زرو نه زيات احاديث لکه د ملغلرو خوارۀ دي-"[2]

شيخ الحديث مولانا صفدر د امام اعظمؒ د مجلس شورٰی د غړيو نومونه او د هغوي د فقهي صلاحيتونو حوالې ورکړې دي او د حضرت ملا القاريؒ په حواله په صفحه ٨٥ ليکي:

"امام ابوحنيفهؒ درې اتيازره مسئلې فېصله کړې دي- اتۀ دېرش زره عباداتو سره تعلق لري او باقي معاملاتو سره اړه لري-"

---

[1]: مقام حضرت امام ابو حنيفہؒ، ص: ۹۴، تاريخ طباعت: ۲۴ ذی الحج ۱۳۸۱ مطابق ۲۹ مئی ۱۹۶۲ء

[2]: ايضاً، ص: ۹۵

## مولانا طاهر القادري:

لوستونکي د امام ابوحنيفهؒ په حقله په انټرنټ د مولانا طاهر القادري درس کتلے شي- د يو شمېر معتبرو حوالو په بنياد وائي چې، حضرت امام مالکؒ د خپلو شاګردانو په وړاندې اعتراف کړے دے چې دوي د حضرت امام ابوحنيفهؒ د شپېتۀ زره مسئلو نه استفاده کړې ده- او د امام صاحبؒ رايې ته به ئې ترجيح (غوره والې) ورکوله- او د امام ابوحنيفهؒ احترام به ئې کوۀ-

## عجمي:

ټولو سوانح نګارانو ليکلي دي چې حضرت امام ابوحنيفهؒ عجمي النسل وۀ- امام صاحبؒ او د هغۀ پلار ثابتؒ د عراق په کوفه ښار کښې پېدا شوي وو خو عرب نۀ وو-

د امام اعظم (ابوحنيفهؒ ــ نعمانؒ بن ثابتؒ) د ژوند يوه تاريخي واقعه چې ابو جعفر منصور (عباسي خليفه) ورته د قضا پېشکش کړے وۀ- حضرت داتا ګنج بخش ــ سيد علي بن عثمان هجويري (وفات ۲ صفر ۴۶۵هـ ۵ نومبر ۱۰۷۳ء) "کشف المحجوب" کښې داسې بيان کړې ده چې خليفه ابوجعفر منصور د خپلو درباريانو په مشوره د قاضي مقررولو د پاره څلور سړي يعني حضرت ابوحنيفهؒ، حضرت ابوسفيان ثوريؒ، حضرت مسعر بن کدامؒ[1] او

[1]: کشف المحجوب اردو، ص: ۱۵۴، مصنفه حضرت علی هجويری داتا ګنج بخش

حضرت شریحؒ دربار ته بللي وو. خلیفه د ټولو نه اول ابوحنیفهؒ ته ووې:

"پکار دي چې ته قاضي شې"

نو امام صاحبؒ ورته په جواب کښې ووئیل:

"امیرالمومنین زۀ عجمي یم عرب نۀ یم د هغوي په غلامانو کښې یم. عرب سرداران به زما په حکم منلو راضي نۀ شي"

خلیفه ابوجعفر منصور ووې د قضا خو نسب سره څۀ تعلق نشته. د دې د پاره د علم ضرورت وي او ته د وخت د عالمانو امام یې.
ابوحنیفهؒ ووې:

"زۀ بیا هم د دې کار د پاره اهل نۀ یم او کۀ زۀ په دې وینا کښې رښتیا یم نو حقیقت دا دے چې اهل نۀ یم او کۀ زۀ دروغژن یم نو دروغژن سړے د مسلمانانو قاضي نۀ شي جوړېدے"

دې مکالمه کښې حضرت امام ابوحنیفهؒ په خپله فرمائي چې زۀ "عجمي" یم. خو په عجمي کښې کوم نسل سره تعلق لري؟ محترم اسرار صاحب کتاب "امام اعظمؒ " کښې دا مسئله هواره کړې ده. هغه لیکي:

## پښتون:

"خطیب بغدادي د حضرت امام صاحبؒ د نمسیو اسماعیلؒ او عمرؒ نه قولونه نقل کړي دي. اسماعیلؒ وائي زمونږ

نیکۀ المرزبان د فارس نه راغلے وۀ- بل طرف ته د هغۀ وررور عمرؒ بن حمادؒ وائي چې د هغوي نیکۀ "ماه" نومېدۀ او د کابل وسېدونکے وۀ-

مولاناشبلي نعمانيؒ په "سیرة النعمانؒ " کښې لیکي چې مرزبان په فارسۍ کښې سردار ته وئیلے شي او "ماه" د فارسۍ ژبې د توري "مه" عربي شکل دے دا لفظ هم د مشر او رئیس په معنیو استعمالیږي-

بنا په دې مونږ دا وئیلي شو:

چې "مرزبان" او "ماه" د یو سړي دوه نومونه دي چې د کابل نه فارس او بیا د هغۀ زوے زوطے عربو ته په کډه لاړ- هر کله چې مونږ دا ومنو چې د زوطي پلار کابلے وۀ نو په دې خبره یقین کول هم اسان شي چې امام صاحبؒ د قومیت په لحاظ پښتون وۀ- مولانا محمد امین خوږیانے وائي چې د امام اعظمؒ نیکۀ د ولایت کابل په دره "استرغچ" کښې زیږېدلے وۀ"

## استرغچ:

د "افغان" سر خط لاندې د مولانا محمد امین خوږیاني یوه بشپړه مقاله د پښتو اکادمۍ پېښور پوهنتون مجله "پښتو" کښې شائع شوې ده- دا ګڼه (غالباً ۱۹۵۸ء) پښتو ټائپ کښې چاپ ده- د مقالې اخري کرښو کښې مولانا خوږیاني د پوره بحث نه پس لیکي:

"یو سړے په اصلي نوم، بیا په لقبي نوم، بیا په
نوي نوم بیا د پلار په نوم، بیا د زوي په نوم، بیا د
وطن په نوم، د قوم په نوم ذکر شوے وي او حقیقت
ئې یو وي"

ورپسې لیکي:

"د یمن ابناء خراسان، یا ابناء فارس یا ابناء الدوله
چې مطلق ابناء هم باله شي لوے لوے صالحان
لري"

"وهب بن حنبه (۱) طاوس بن کیان (۲) ماهان بن باذان (۳) مغیره بن حکم (۴) خلیل بن احمد زاهدي (۵) ابن کثیر (۶) یو راوي امام ابوحنیفهؒ د ابناؤ څخه حسابوي او بل روایت ئې د کابل د اسیرانو څخه حسابوي- ما چې کومه سلسله د مرحوم پلار (محمد اسرائیل شهید) څخه یاده کړې وه نو دا وه نعمان بن ثابت بن منذر بن ماهان بن ماه کابلي- او هم دا سلسله په لږ تغیر د استرغچ علاقې ته تکیه کوي او د ماهان بن باذان ته رسوي-

په هر حال زمونږ امامؒ (امام ابوحنیفهؒ) عرب نۀ دے عجم دے- عجمو کښې زمونږ د غاړې دے او زمونږ په خوا ئې پرتو راغلے دے"

## لرغوني پښتانۀ علماء:

"لرغوني پښتانۀ علماء" د حافظ محمد ادریسؒ لیکلے مضمون دے چرته پخوا د باچان خدائي خدمتګار مجله "پښتون"

کښې چاپ شوے وۀ- دا شکر دے چې ګران محترم محمد همایون هما کال ۱۹۷۵ء کښې د حافظ محمد ادریسؒ په یاد کښې د "شفق" (مردان کالج کلیزه مجله) خصوصي ګڼه ترتیب کوله، نو دې کښې دا تاریخي علمي لیکنه هم شامل ده- حافظ محمد ادریسؒ د مضمون په اغاز کښې پوهانو عالمانو سره د پښتون سماج د ناجغه رویو او تربګنۍ کړلو نه پس لیکلي دي:

"کوم پښتون چې د عزیزانو د برکته بې غمه شي- د وطن نه بهر لاړ شي او په بل قوم کښې خلط ملط شي نو هغه کۀ په لرګو کښې وي، داسې شي لکه چندڼ، کۀ په کاڼو کښې وي نو داسې شي لکه لعل او کۀ په خاورو کښې وي نو داسې راوټوکیږي لکه ګل د ګلاب"-

"لرغوني پښتانۀ علماء" کښې چې حافظ محمد ادریسؒ د کومو شخصیاتو ذکر کړے دے هغو کښې امام ابوحنیفهؒ سره، امام احمد بن حنبلؒ، او امام ابو داؤدؒ هم یاد کړي دي-

د حضرت امام ابوحنیفهؒ په حقله لیکي:

## اما ابوحنیفهؒ:

زمونږ د اهل سنت والجماعت څلور امامان دي چې د هر یو پېروکار په حقه ګڼو- په دې څلورو امامانو کښې چې د پښتون نه تپوس وشي چې تۀ د چا

په مذهب يې نو هغه به فوراً وائي چې زۀ په مذهب د "امام ابوحنيفهؒ" صاحب يم-

دا امام ابوحنيفهؒ پښتون وۀ- د نيكۀ نوم ئې زوطي وۀ او د كابل وسېدونكے وۀ- د هغه ځائے نه په يو جنګ كښې ايرانيانو قېد بوتلو او چې په ايران باندې د حضرت عمرؓ په وختو كښې د عربو زور راغلے نو هغوي ځان سره كوفې ته بوتلو- هلته كښې دېره شۀ او - - - - - دغه ښار كښې د هغۀ نمسے امام ابوحنيفهؒ د ټول وطن مشر عالم شۀ- او نن په كروړونو مسلمانان په عرب، عراق، ايران، خراسان، هندوستان، ملايا او چين كښې د هغۀ په مذهب دي"

حافظ محمد ادريسؒ ليكي:

"امام صاحبؒ د فقهي علماؤ د جرګې مشر دے- او د قرآن مجيد او حديث شريف نه چې كومه مسئله راوځي نو د هغۀ رايې په كښې خامخا پوښتلې شي- امام شافعيؒ او امام احمد بن حنبلؒ د هغۀ د شاګردانو شاګردان دي او چې هرڅۀ يې موندے دي د هغۀ په بركت ئې موندے دي"

مولانا حافظ محمد ادريسؒ دا هم ليكلي دي:

"خو دا دې څوک نۀ وائي چې پښتانۀ ځكه د هغۀ په مذهب روان دي چې هغه په خپله پښتون وۀ- ځكه چې كۀ پښتنو ته دا معلومه شي چې هغه پښتون وۀ نو د

کور لُور خور به ترې نه جوړه کړي- مریدان یواځې
پښتانهٔ نهٔ دي، دوي خو په کښې داسې دي لکه په
اوړو کښې مالګه-"

مولانا حافظ محمد ادریسؒ د حضرت امام اعظمؒ د فقهي مسلک د مقبولیت یوه وجه دا ښئلې ده چې د هغهٔ شاګرد امام ابو یوسفؒ د خلیفه هارون رشید په وختو کښې د ټولې بادشاهۍ د قاضیانو مشر وهٔ- هر ځائے به د هغهٔ مسئله چلېده- او هغهٔ به د خپل استاذ امام ابوحنیفهٔ مسئله نافذ کوله-

د عباسیانو بادشاهۍ کښې د هغهٔ مسئله خوره وه او تر اوسه هم د هغهٔ په مسلک عمل روان دے- د مولانا محمد امین خوږیانيؒ او مولانا حافظ محمد ادریسؒ شهید په شمول زمونږ د کورنۍ د زیرګانو عالمانو اندازې درستې وې- زما خیال دے چې د "امام اعظمؒ " لیکلو په مهال کښې به د مولانا امین خوږیانيؒ (افغاني) لیکنه او د مولانا حافظ محمد ادریسؒ لیکلے "لرغوني پښتانهٔ علماء" د اسرار صاحب له نظره نهٔ وي تېر شوي خو هم د دغه علمي کورنۍ بل مشال دے نو ذهني رسائي ئې د خپلو مشرانو پوهانو په شان ده- جدید تحقیق او د اردن پوهنتون د څېړنې ځانګه هم د دې مرسته کوي چې د امام صاحبؒ نیکهٔ د کابل نه کوفې (عراق) ته تلے وهٔ- او نسلاً پښتون وهٔ-

## روشن خان:

ممکنه ده چې مولانا شبلي نعمانيؒ ته د پښتو ژبې په حقله ضروري معلومات نۀ وو چې دا ژبه د زمانو راسې وئيلے شي- او متل دے چې "پښتو او فارسي خوېندې ژبې دي"-

پښتون مؤرخ خان روشن خان کتاب "تذکره" (اشاعت سوم، اپرېل ۱۹۸۸ء) او د تواريخ رحمت خاني (اردو ترتيب و حواشي) اشاعت دوم ۲۰۱۷ء کښې د حضرت امام ابوحنيفهؒ د نوم نسل بحث کښې يوه غوټه داسې پرانستې ده ليکي چې:

> "افغان قوم کښې غلزي لويه قبيله ده د دې يوه زړه څانګه ماهي خېل (ماهله) ده- ماهي خېل (ماهله) اوس هم يوه اباده قبيله ده- او دا ماهي (ماهله) د امام صاحبؒ مورث اعلیٰ ده- زوطي انبار کښې ګرفتار شوے وۀ- دې انبار ته اوس سرپل وئيلے شي-"

د خان روشن خان مطابق د زوطي پلار "ماه" په اصل کښې "ماهي" دے او افغان قوم ورته "مهي" وائي-

"- - - - د افغان قوم يو عادت دا هم دے چې نوم ورانوي لکه د ضابطه خان نه "زوطے" او د ثابت خان نه "ثابتے" جوړ کړي- (ص ۳۵۸-۳۵۹) دا نومونه هم د پښتنو دي"

روشن خان ليکي:

> "د مشکواة شريف مصنف (شېخ ولي الدين ابن عبدالله) او د "نفحات العرب" مصنف (مولانا

اعزازعلي) دواړو بیان دا دے چې "امام اعظمؒ " اهل کابل څخه وۀ-"

په دغه صفحه روشن خان صاحب لیکلي دي:

"فارسي الاصل په دې وجه غلط دے چې له کوم ځایه د امام صاحبؒ جد اعلیٰ ګرفتار شوے وۀ هغه علاقه د پارسیانو مقبوضه علاقه وه- اخر کښې شاه ایران هم دغلته تښتېدلے او بیا قتل شوے وۀ نو د دغه ځاے وسېدونکیو ته د وطن په نسبت فارسي یا ایراني وئیلي شو"

د مولانا محمد امین خوږیانيؒ هغه خبره شوه یو سړے کله په اصلي نوم، کله په لقبي نوم، کله د وطن او کله د علاقې په نوم ذکر شي خو نوم یو وي-

## اختتام:

محترم اسرار صاحب د خپل کتاب اختتام "د زړۀ اواز" سر خط لاندې په دې الفاظو کړے دے

" لویو لویو امامانو به د یو بل قدر، عزت او احترام کولو- د یو بل د پاره به ئې د مغفرت دعاګانې غوښتې- یو بل سره به ئې مالي امدادونه کول، په یو بل به ئې سودونه او پېرزوئینې کولې- دا ځکه چې دوي ټول د یوې شمعې پتنګان وو، د یو مرکز نه ګېر

چاپېره چورلېدل- په هغوي کښې هېڅ فرق او امتياز نۀ وۀ-

دا څلور واړه مذهبه سره يو دي
ما او تا په کښې پېدا کړۀ اختلاف

رحمان بابا"

د ځينو لوستونکيو په خيال ښه به وه کۀ د دې لړ نور وضاحت شوے وے ـــ زما په خيال ــ تر کومې چې د رحمان بابا د شعر تعلق دے د دې وضاحت د شعر په رڼا کښې او د مصنف د خيال مطابق داسې کېدے شي:

ټول ګېر چاپېره تاوېدل له شمعې
هېڅ رقابت په پروانو کښې نۀ وۀ

عبدالله جان مغموم

لوستي خلق پوهېږي چې د اسلامي فقهې او شريعت هرڅومره مسئلې چې امامانو ترتيب کړې دي د دې سرچينه يوه ده، قرآن او حديث ــ او په دې چې د ټولو امامانو عقيده او ايمان يو شان وي نو اختلاف به څنګه پېدا شي؟

د رحمان بابا د پورته ذکر شوي شعر په حواله ښاغلي اسرار د طورو يو بل مضمون ("تاتره" اپرېل ـ جون ۲۰۱۱ء) کښې ليکلي دي:

"د قرآن او د نبي علېه السلام د طريقو او احاديثو په رڼا کښې د اسلامي دنيا لويو لويو عالمانو د ډېر غور او فکر، تحقيق او جستجو، او د قرآن او سنت نبوي

صلي الله عليه وسلم ماهرانو سره د بحث او مشورو په نتيجه کښې فقهه يا اسلامي قانون جمع کړۀ- هغې له ئې ترتيب ورکړۀ او مسلمانانو د خپلو ضرورتونو مطابق، نظرياتي او عملي طور دغه فقهه قبوله کړه او عمل ئې پرې وکړۀ-"

و ما توفيقي الا بالله

مشتاق الرحمان شفق (م۔ر۔شفق)

۲۸ ذوالحج ۱۴۴۱ھ

۱۹اگست ۲۰۲۰ء